يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ

اې مومنانو! د زیاترو علماوو او روحانیونو حال دا دی چې د خلکو مالونه په ناروا لارو خوري او هغوی د الله له لارې ځخه منع کوي او هغه خلك چې سره او سپین زر خزانه کوي او د الله په لاره کښې يې نه لګوي؛ نو دوی ته د دردناکه عذاب زیری ورکړه.

[سُورَةُ التّوبَة : 34]

خراسان غږ

خراسان غږ مجله پنځمه ګڼه

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

مؤسسة العزائم الإعلامية

ســـــــــرليـــــــک

دیني برخه

تفسير القرآن الكريم
سورة التوبه (پنځمه برخه) 1

نثر اللؤلؤ والمرجان
في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان -4 5

الفلاح والرشاد
في مسائل الجهاد - 4 8

جهـاد نه کـول د عـذاب
سـتر لامـل دی! 12

سیاسي برخه

مشرکان په دارالندوه کې
که عملاء په لویه جرګه کې 16

عمري عدالت او
که هبتي جهالت 23

ادبي برخه

نظم
تمکین کې... 26

د بایډن نوي عسـکر 27

د خیبر زمری 31

شعر 37

تاریخي برخه

د سیرت درسونو ته یوځې کتنه! - 5
د یثرب له خلکو سره اړیکې پاتې برخه 35

تفسیر القرآن الکریم

سُوْرَةُ التَّوْبَة

پنځم درس ٥

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ (17)

نشي قبليداى د مشركانو لپاره چې آبادوي جوماتونه د الله تعالى، اقرار كونكي دي په ځانونو خپلو باندې په كفر سره، دغه كسان برباد دي عملونه ددوى او په اوور كې به دوى هميشه وي.

تفسير:

دې آيت كريمه كې رد دى په دويم مانع د قتال باندې، چې دا سوال بعضې كسانو ذهن ته راتلو چې د مكې مشركان خو د الله عزوجل د حرم خادمان دي، حاجيانو باندې اوبه څكي، نو دوى سره څنګه قتال وشي ؟

څه نآشنا كتاب دى د رب العالمين، د هر وخت شبهاتو ته معقول ځوابونه لري.

نن هم خلك دا وايي چې څنګه د سعودي حكومت سره جنګ وشي، هغوى خو خدام الحرمين والشريفين دي ؟ د بيت الله او مسجد نبوي خدمت كوي، مصحفونه چاپ كوي ؟

پاكستان حكومت سره ولې جنګ وشي ، دومره زيات مدارس او مساجد پكې آباد دي ؟ طالبانو سره ولې جنګ وشي د مساجدو خادمان دي ؟

الله عزوجل به جواب وكړي، حاصل د جواب دا دى چې دوى مشركان دي، او د مشرك عمل برباد دى، ترڅو چې تول اقسام دتوحيد قبول نه كړي، تر هغه وخت پورې يې دا اعمال نه قبليږي.

ابو جهل هم خادم الحرم و، ابو طالب هم خادم و، عتبه، شيبه او اميه بن خلف دوى ټول خُدام الحرم و. حاجيانو باندې به يې اوبه څكلې. او كه په جوماتونو شي نو په هندوستان كې څومره جوماتونه دي، بيا به هندوانو سره هم جهاد معطل ګرځوو ؟ آيا معيار د جهاد او معيار د اسلامي نظام د جمات آبادول او د جمات وجود دى او كه نه غلبه د قانون، نظام، حاكميت او پريكړه د اسلامي شريعت چې حاكمه نه وي هغه ځاى كې به جهاد كولاى شي ؟؟ مكه كې جومات و، د الله تر ټولو غوره كور و، خو جهاد پرې نبي عليه السلام كړې ده، مكه يې فتح كړې ده.

[مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ]:

أي ما صح لهم وما استقام أن يفعلوا ذلك.

دوى لپاره دا كار روا ندى.

[أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ] :

فتح القدير كې وايي:

د آبادولو نه يا خو حقيقي معنا مراد ده، چې مساجد جوړول.

او يا مراد ترې د مساجدو سره كلك تعلق درلودل دي، پدې كې عبادت كول دي، او دا دواړه مشركانو سره نه ځايي. ځكه مساجد جوړولو كې ددې مشركانو يو نوعه احسان راځي په مسلمانانو باندې، چې ګوره مونږ درله مساجد جوړوو. نو ځكه رب ورته فرمايي چې دا فائده نه دركوي.

دې وجې نه مفسرين وايي: [ما كان] كې اشاره ده دې ته چې مومنان به كفارو ته د جمات جوړولو اجازت هم نه وركوي.

او دويم پدې مساجدو كې عبادت كول هم سم ندي، ځكه مشرك خو دا حكم دى چې دا به مسجد ته بيخي نه راداخليږي، مومنان به يې منع كوي چې د الله عزوجل كورونو ته مه راځئ. نو يو كس چې مسجد ته ددخول اجازه نه لري نو عبادت يې په شريعت كې په طريق أولى سره برباد دى.

[مَسَاجِدَ اللَّهِ]:

جمع يې ذكر كړې چې دا حكم ټولو مساجدو ته شامل دى. هر كله چې د مسجد حرام دا حكم دى، نو د نورو جماتونو هم دغه حكم دى.

[شَاهِدِينَ]:

خوله باندې اقرار دا دى چې خپلو معبودانو ته مخلوق وايي، او بيا يې هم رب سره شريكوي. او يا د طواف په وخت كې به چې دوى دا چيغې وهلې:

لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، إِلَّا شَرِيكَ هُوَ لَكَ، تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ.

او عمل باندې اقرار دا دى چې ښكاره د شرك كارونه كوي. بتانو ته سجدې كوي.

[أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ]:

أَيْ: بِشِرْكِهِمْ، په شرك سره.

علامه شوكاني وايي: الَّتِي يَفْتَخِرُونَ بِهَا وَيَظُنُّونَ أَنَّهَا مِنْ أَعْمَالِ الْخَيْرِ.

هغه اعمال چې دوى به پرې فخر كوو، او دا ګمان به يې كوو چې دا خو د نيكى اعمال دي.

نن سبا هم د سعودي ملايان او د پاكستان، افغانستان، تركيا، مصر وغيره حاكمان هم پدغه مدارسو او مساجدو فخر كوي. قرآن كريم الفاظو چاپ كولو باندې فخر كوي. خو د الله كتاب پدې ګواه دى چې ددوى دا اعمال برباد دي، فائده نه وركوي، نواقض د اسلام پكې موجود دي، توحيد الحاكمية نشته، پريكړې د غير الله په قانون كيږي. د مسلمانانو خلاف د كفر مرسته كيږي، وضعي قوانين حاكم دي، شريعت معطل دى، دغه مصحفونه چې چاپ كوي نو عمل پرې ولى نه كوي، دا خو د عمل كتاب دى.

او دا مدارس او مساجد خو دوى ځان لپاره ډال نيولي دي، كه دا مدارس او مساجد نه وي، نو بيا خو هر مسلمان ورته كافر وايي، او ټوپك ورپسې راخلي، نو دا خو يې د ساده خلكو سترګو كې شګې اچولو لپاره يوه حربه ده، چې خلكو ذهن همدې جماتونو ته لاړ شي او نظام څخه غافله شي.

[وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ]:

دا يې جزاء شوه، چې اعمال يې برباد شو نو ځاى يې جهنم شو.

لكه الله عزوجل فرمايي: {وَمَا لَهُمْ أَلَا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلا الْمُتَّقُونَ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ} [الْأَنْفَالِ:34].

او څه عذر دى ددوى چې عذاب به نه وركوي دوى ته الله تعالى، حال دا چې دوى د مسجد حرام څخه (خلك) منع كوي، او دوى د هغه (بيت الله) اختيار مند نه دي، د هغه اختيار مند يواځې متقيان دي، خو اكثره ددوى نه پوهيږي.

نو كله چې نور اسباب د شرك او عذاب موجود شي دغه خلكو ته يواځې د ابوجهل په څير بيت الله آبادول او حاجيانو ته اوبه وركول فايده نه وركوي.

[وس الله عزوجل هغه خلك ذكر كوي چې ددې مساجدو آبادولو أهل دي، او هغه صفات ذكر كوي چې كله دا په يو چا كې راشي هغه ددې اهل ګرځي]

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ (18)

يقينا آبادوي جوماتونه د الله تعالى هغه څوك چې ايمان لري په الله تعالى او په ورځ د آخرت او پابندي كوي د مانځه او وركوي زكات او نه يريږي د هيچا نه سيوا د الله تعالى نه، پس لايقه ده چې هم دغه كسان به وي د هدايت مندونكو څخه.

تفسير:

[إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ]:

مخكې مونږ وويل آبادول په دوه قسمه دي، يو ظاهري عمارت جوړول او بل په اعمالو آبادول، دا دواړه مومنانو پورې خاص دي.

[مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ]:

دې كې هم خبره مخكې شوې وه، چې ذكر د ايمان بالله او ايمان بالآخره دى، خو مراد ترې ټول ايمانيات دي. او مونځ او زكات يې ذكر كړل، مراد ترې ټول شرائع د اسلام دي.

[وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ]:

حافظ ابن كثير نقل كړي:

معنا دا شوه چې: لَمْ يَعْبُدْ إِلَّا اللَّهَ. بندګي نه كوي سيوا د الله تعالى نه.

او خشيت هغه ويرې ته ويل كيږي چې د تعظيم سره وي او دا الله رب العالمين پورې خاص ده.

دلته خشيت راوړلو يوه بله فايده دا ده چې دا سورت جهادي سورت دى، نو اشاره ده دې ته چې د چا په زړه كې د كفارو ويره نه وي، بلكې يو د الله عزوجل څخه ډاريږي لكه مجاهدين نو هماغه خلك هدايت موندونكي دي. او چې كله د نړۍ كفارو څخه ډار د چا په زړه كې وي، نو هغه دين باندې عمل نشي كولاى. فقط جوماتونه به جوړوي، خو د نظام خبره هيڅكله هم د نړيوالو مجرمانو د ډاره، د بمبار د ډار نه، د اقتصادي بنديزونو د ډار نه، د ملګرو ملتونو شركي رسميت سلب كيدو د ډاره، د چوكۍ ختميدو د ډاره او دغه رنګ نور دنياوي مفادو د لاسه وتلو د ډاره دا جهادونه او د الله رب العالمين سل په سله نظام نشي قائمولاى لكه طالبان، د پاكستان او سعودي حكومتونه.

[فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ]:

پس لايقه ده چې هم دغه كسان به وي د هدايت مندونكو څخه.

مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ بْنِ يَسَارٍ رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: وَ"عَسَى" مِنَ اللَّهِ حَقٌّ. عسى د الله تعالى لخوا د وجوب او ثبوت لپاره وي. (تفسير ابن كثير)

فتح القدير كې هم وايي: عَسَى مِنَ اللَّهِ وَاجِبَةٌ.

عسى د الله تعالى لخوا د وجوب لپاره وي.

نو د عسى معنا په [كيدايشي] دلته سمه نده.

او كچيرې دلته رجاء او اميد معنا واخستل شي نو بيا به دا بندګانو ته راجع شي.

اهتداء: دلته د قبوليت په معنا سره دى. ځكه د سمې لارې پيژندګلوي خو ډيرو خلكو ته وي خو د اعمالو توفيق او بيا د قبوليت شرف د كمو خلكو په برخه كيږي.

[الله عزوجل دوه ډلې ذكر كړې، يوه ډله د مشركانو چې هغه د نيكو اعمالو اهل نده، بله ډله د مومنانو ذكر شوه، چې هغه ددغه اعمالو اهل ده. وس پدې راتلونكې آيت كريمه كې ددواړو تقابل ذكر كوي. چې دا دواړه ندي برابر.]

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (19)

آيا ګنئ تاسې اوبه څكل په حاجيانو او

آبادول د مسجد حرام پشان د هغه چا چې ایمان لري په الله تعالی او په ورځ د آخرت او جهاد کوي په لار د الله تعالی کې، نه دي برابر دوی په نزد دالله تعالی. او الله تعالی نه ورکوي ثواب قوم ظالمانو ته.

شان نزول:

حدیث د مسلم کې راغلي: حَدَّثَنِي النُّعْمَانُ بْنُ بَشِيرٍ، قَالَ : كُنْتُ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَجُلٌ : مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أُسْقِيَ الْحَاجَّ ، وَقَالَ آخَرُ : مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أَعْمُرَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ، وَقَالَ آخَرُ : الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِمَّا قُلْتُمْ ، فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ، وَقَالَ : " لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ ، وَلَكِنْ إِذَا صَلَّيْتُ الْجُمُعَةَ دَخَلْتُ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فِيمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ " ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ سورة التوبة آية 19 الْآيَةَ إِلَى آخِرِهَا. رواه مسلم.

ژباړه: نعمان بن بشیر رضي الله عنه فرمایي چې زه د نبي علیه السلام منبر په خوا کې وم، یو کس اوویل: زه چې حاجیانو ته اوبه ورکړم نو اسلام کې بل عمل ته زما فکر او پروا نشته، بل کس وویل: چې د مسجد حرام آبادولو وروسته ما ته د کوم بل عمل ارمان نه رازي، بل کس وویل: جهاد في سبیل الله د هغه عملونو څخه غوره دی چې تاسو یاد کړل نو عمر رضي الله عنه ورټل او ویې ویل: د محمد صلی الله علیه وسلم منبر په خوا کې غږونه مه پورته کوئ، او دا د جمعې ورځ وه، خو کله چې ما د جمعې مونځ وکړو، زه په نبي علیه السلام ورداخل شوم او هغه نه مې د دي خلکو د اختلاف په اړه پوښتنه وکړه، نو الله جل جلاله دا آیت نازل کړ.

تفسیر:

دلته عبارت مقدر دی، اصل عبارت داسې دی: أَجَعَلْتُمْ أَصْحَابَ سِقَايَةِ الْحَاجِّ وَعِمَارَةِ الْمَسْجِدِ، كَمَنْ آمَنَ.

آیا تاسې حاجیانو ته اوبه ورکونکي او جمات جوړونکي کسان د هغه چا په شان ګڼئ. نو دا مبتدا او خبر مطابقت به راشي.

او یا هم داسې عبارت دی: جَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَعَمَلِ مَنْ آمَنَ، أَوْ كَإِيمَانِ مَنْ آمَنَ.

مشرکانو به پدې سقایه یعنې حاجیانو ته اوبه ورکولو او مسجد حرام آبادولو باندې فخر هم کوو او خپل عمل به یې د مسلمانانو په توحید باندې غوره ګڼو، الله عزوجل پرې رد وکړو، چې نا ایمان او شرک هیڅکله ندي برابر.

او ستاسې اعمال د مومنانو اعمالو ته نشي رسیدای نو فضیلت مو د کومه شو؟

جهاد بې ولې ذکر کړو؟

ځکه د نظام ساتلو ذریعه همدا قتال في سبیل الله ده. ذُرْوَة سَنام الاسلام دی. د کوپې مثال لري.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي:

فَقِوَامُ الدِّينِ بِكِتَابٍ يَهْدِي وَسَيْفٍ يَنْصُرُ.

مجموع الفتاوی.

ددین ستن او بنیاد په لارښوونکي کتاب او کومک کونکي توري سره راځي.

دا خو د مشرکانو په اړه بیان وو، د مومنانو لپاره هم بیت الله آبادول او فرض حج د فرض جهاد سره ندي برابر.

احادیثو کې حج مبرور د جهاد څخه وروسته ذکر شوی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ ، أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ ؟ فَقَالَ : إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ، قِيلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، قِيلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : حَجٌّ مَبْرُورٌ". صحیح البخاري.

ژباړه: د نبي صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې کوم عمل غوره دی؟ هغه وفرمایل: په الله او د هغه په رسول ایمان راوړل. ورته وویل شو: بیا کوم عمل غوره دی؟ هغه وفرمایل: د الله په لاره کې جهاد کول. ورته وویل شو : چې بیا کوم عمل غوره دي ؟ هغه وفرمایل: د نیکی والا حج. دغه شان بل حدیث د مسلم کې هم راغلي دي، لکه د شان نزول په باب ذکر شو.

عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَوْقِفُ سَاعَةٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنْ قِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ عِنْدَ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ".

رواه ابن حبان وسنده صحيح.

ابو هریره رضي الله عنه وویل: ما د نبي علیه السلام څخه اوریدلي هغه به فرمایل: د الله په لار کې یو ساعت (یوه لمحه) ودریدل، د قدر په شپه د حجر اسود په خوا کې عبادت څخه غوره دي.

خو نن سبا خلکو دغه غوره عمل پریښی او بل خوا زور کوي، پیسې پیدا کوي او حج ته ځي، عمرې ته ځي، ځکه چې هغې سره یې نوم کیږي، حاجي صیب ورته خلک وایي، لکونو روپۍ مصرفوي خو کچیرې پټ ورته ورشي او ورته اووایي چې ملګرو ته یو کلاشن پکار دی، یا فلاني ځای کې زخمي دی، علاج یې کول غواړي، یا فلاني یتیم دی، یا داسې نور کارونه ورته مخکې کړي، نو یقین وکړه ځان به درته دومره غریب انسان معرفي کړي، درته وبه وایي زما دې کور ته مه ګوره، زما دې کاروبار ته مه ګوره، بلکې ما باندې دومره دومره قرض دی. تاوان مې کړیدی، او دومره بهانې به وکړي، چې د انسان زړه وغواړي چې یو څه کومک ورسره زه وکړم.

الحمد لله مجاهدین دغه شان خلکو نه مطالبې نه کوي، خو دا غالب حال د خلکو مو بیان کړو، نور مجاهدینو ته الله عزوجل رزق ورکوي، دې مرتدینو او کفارو دومره غنیمتونه دي چې بیخي اندازه یې نشته!

دغه شان حج ته به ځې، یو میاشت زیات وکم به مسافري کوې، خو جهاد ته د یوې لمحې لپاره هم سر نه ورښکاره کوې. هغه خپل وسع هم نه کوي. ابن القیم رحمه الله وایي، چې د شیطان چې نور وسع ونشي نو افضل په ځای مفضول عمل انسان ته مخکې کوي. دا خبرې چې بعضې خلک واوري، وایي مره مجاهدین سخت دریځه دي، وس په مونږ عُمرې او نیک اعمال هم بندوي. نو مونږ وایو دا پورته احادیث چې مونږ بیان کړل آیا دا د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ارشادات ندي ؟ هغه ویلي دي مونږ خو د ځان څخه ندي جوړ کړي.

حج او عمره في نفسه غوره اعمال دي خو چې جهاد فرض وي، شهیدان او زخمیان کیږي، زندانونو کې مسلمانان بندیان وي، یتیمانان د ولړې او تندې د لاسه شهیدان کیږي، لکه الهول کیمپ کې یې اوبه هم بندې کړیدې، نو داسې یو حالت کې ستا ضمیر تاته څنګه اجازت درکوي چې جهاد سره کومک مکوه. ددې مثال داسې دی لکه فرض مونځ وخت وي، او یو کس وایي چې رمضان میاشت ده، تلاوت زیات اجر لري، زه به تلاوت وکړم، نو ګوره تلاوت خو غوره عمل دی، خو وس وخت د فرض مونځ دی، باید هغه وکړې. دواړو عباداتو ترمنځ جمع والی وکړه، اګر که نن سبا بیت الله کې د مرتدو ملایانو اقتداء کې مونځ کیږي، چې د مرتد اقتداء اتفاقي حرام ده. ددې نه وروسته وس الله رب العالمین د عدم استواء (برابري) علت بیانوي، چې دغه دواړه ولې ولې ندي برابر ؟

یا یو څه ربط دا دی چې وس الله عزوجل جهاد ته ترغیب ورکوي، هغه جهاد چې هغه سره اسلامي نظام قایمیږي او د جماتونو، مدارسو او د حرم حقیقي حفاظت ورسره کیږي. نو د خیر والا دله مجاهدین دي.

الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللَّهِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ (20)

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او جهاد یې کړی دی په لار د الله تعالی کې په مالونو خپلو سره او ځانونو خپلو سره، لوي درجې والا دي په نزد د الله تعالی، او دغه کسان خاص دوی کامیاب دي.

تفسیر:

دې آیت کریمه کې الله عزوجل ایمان، هجرت او جهاد غوره اعمال راجمع کړل.

او عِنْدَ اللَّهِ تَشْرِيفٌ عَظِيمٌ لِلْمُؤْمِنِينَ.

دې لفظ (په نزد د الله) سره د مومنانو لپاره لوی شرافت مقصود دی.

[وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ]:

دې سره یې اشاره وکړه، تخصیص ته، چې خاص همدا صفاتو والا د الله په نزد کامیاب دي.

او هغه بل طرف یې بیخي ندی ذکر کړی، ځکه هغه کالعدم دی. هغه خو مشرکان دي.

وس الله عزوجل د فوز او کامیابي تفسیر بیانوي:

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُقِيمٌ (21)

زیری ورکوي دوی ته رب ددوی په رحمت خپل سره او رضامنتیا خپلې سره او په جنتونو سره چې دوی لره به په هغې کې نعمتونه همیشه وي.

تفسیر:

دې آیت کریمه کې الله عزوجل لفظ د رحمت او جنت نکره ذکر کړي، دې کې تعظیم ته اشاره ده، چې داسې رحمت او جنتونه دي چې د صفت بیانونکو د توان او د تصور کونکو د تصور څخه لرې خبره ده.

[نَعِيمٌ مُقِيمٌ]:الدَّائِمُ الْمُسْتَمِرُّ الَّذِي لَا يُفَارِقُ صَاحِبَهُ.

هغه نعمت ته ویل کیږي چې همیش د انسان سره مل وي.

خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ (22)

دوی به اوسیدونکي وي په هغې کې همیشه، یقینا د الله تعالی سره ده، بدله لوی.

تفسیر:

دې آیت کریمه کې الله عزوجل د ابد (همیشوالي) ذکر څخه وروسته بیا د خلود (همیشوالي) تذکره کړې ده، نو دې کې زیات تاکید مقصود دی.

او دا جمله (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ) د ماقبل تاکید دی او په ضمن کې یې علت هم بیان شوی دی، یعنې دغه مومنانو، مهاجرینو او مجاهدینو ته الله عزوجل ستر اجرونه ورکوي ځکه د الله په وړاندې اجر ډیر لوی وي، چاته یې چې خوښه شي هغه ته یې ورکوي، او هغه د لوی فضل خاوند دی.

لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. [صحیح البخاري]

ژباړه: په جنت کې سل درجې دي، الله رب العالمین د مجاهدینو لپاره تیاري کړي دي، د دوو درجو ترمنځ د ځمکې او آسمان هومره فاصله وي.

عَنْ سَمُرَةَ ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي فَصَعِدَا بِي

الشَّجَرَةَ فَأَدْخَلَانِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا ، قَالَا : أَمَّا هَذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ". [صحيح البخاري]

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ما نن شپه خوب کې دوه سړي وکتل، دوی ما ته راغلل، زه يې يوې ونې ته پورته کړم، بيا يې يو کور ته دننه کړم چې ډير ښايسته و، ما د دې څخه ښکلې کور هيڅکله نه و ليدلې، دې دواړو وويل: دا د شهيدانو کور دی.

عَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ السُّلَمِيِّ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " الْقَتْلُ ثَلَاثَةٌ : رَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، حَتَّى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى يُقْتَلَ ، فَذَلِكَ الشَّهِيدُ الْمُمْتَحَنُ فِي خَيْمَةِ اللَّهِ تَحْتَ عَرْشِهِ ، لَا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّونَ إِلَّا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ . وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ قَرَفَ عَلَى نَفْسِهِ مِنَ الذُّنُوبِ وَالْخَطَايَا ، جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، حَتَّى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتَّى يُقْتَلَ ، فَمَصْمَصَةٌ مَحَتْ ذُنُوبَهُ وَخَطَايَاهُ ، إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءُ الْخَطَايَا ، وَأُدْخِلَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَ ، فَإِنَّ لَهَا ثَمَانِيَةَ أَبْوَابٍ ، وَلِجَهَنَّمَ سَبْعَةَ أَبْوَابٍ ، وَبَعْضُهَا أَسْفَلُ مِنْ بَعْضٍ . وَرَجُلٌ مُنَافِقٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ ، حَتَّى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يُقْتَلَ ، فَإِنَّ ذَلِكَ فِي النَّارِ ، السَّيْفُ لَا يَمْحُو النِّفَاقَ". [مسند أحمد]

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مرګونه درې قسمه دي: يو هغه کس چې مومن وي، د الله په لار کې خپل سر او مال باندې جهاد کوي، چې کله دښمن سره مخامخ شي نو جنګ کوي تر دې چې ووژل شي، نو دا هغه چاڼ شوی (آزمايل شوی)شهيد دی چې د الله د عرش لاندې خيمه کې به وي، پيغمبران د دوی نه صرف د نبوت له وجې اوچت دي.

دويم هغه مومن دی چې ګناهونه يې کړي وي، بيا د الله په لار کې په سر او مال جهاد وکړي تر دې چې ووژل شي، نو د ګناهونو څخه به پاک کړای شي، د الله په لار کې توره چلول ګناهونه ختموي، او د جنت په هغه دروازه به داخليږي، کومه چې د ده خوښه وي، جنت اته دروازې لري، او جهنم اووه دروازې لري، او بعضې يې د بعضو نه ښکته دي، دريم کس منافق دی چې په سر او مال جهاد کوي، دښمن سره چې مخامخ شي نو تر مرګه جنګ کوي، نو دا په اور کې دی، توره د انسان منافقت نه بښي.

عن عبد الله بن مسعود: عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: " أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ ، تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ ، فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلَاعَةً ، فَقَالَ : هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا ؟ قَالُوا : أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِي وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا"، فَفَعَلَ ذَلِكَ بِهِمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يُسْأَلُوا ، قَالُوا : يَا رَبِّ نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا حَتَّى نُقْتَلَ فِي سَبِيلِكَ مَرَّةً أُخْرَى ، فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا. [رواه مسلم]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دې شهيدانو روحونه به د شنو مرغانو په ججورو کې واچول شي، او روحونو لپاره به پنجرې وي چې د رحمن ذات عرش پورې به نښتې وي، دا روحونه به خپلې خوښې مطابق جنت کې ځريږي، او بيرته به دغه پنجرو ته راګرځي، د دوی رب به دوی ته ښکاره شي، او دا به ورته وفرمايي: آيا تاسو نور څه غواړئ؟ دوی به وړايي: نور به مونږ څه وغواړو، کوم ځای چې زمونږ خوښ وي هلته ګرځو راګرځو، دا تپوس به درې ځل تکرار کړي، کله چې جنتيان پوهه شي چې څه ويلو پرته دا تپوس نه دريږي نو دوی به ووايي: ای ربه! مونږ دا ارمان لرو چې زمونږ روحونه بيرته بدنونو ته وګرځوه چې ستا په لار کې يو ځل بيا شهيدان شو، نو الله جل جلاله چې وګوری، چې د دوی څه حاجت نشته نو دوی به پريښودل شي.

سبحان الله، څومره ستر فضايل دي، الله عزوجل دې مونږ تاسې ته توفيق او قبوليت رانصيب کړي.

وس دې آيت کريمه کې الله عزوجل د قتال څخه دريم مانع ذکر کوي او رد پرې کوي. چې خلک وايي دا د کفارو ملګري مو ورونه دي، پلار مې دی، خپلوان دي، صله رحمي ده نو څنګه ورسره جنګ وکړم، څنګه خپل ورور ووژنم ؟

الله عزوجل جواب کوي، چې کافر سره دوستي او خپلولي نشته، بس دا کفر او ايمان حد فاصل دي، دې پولې نه چې څوک واوړيدو، بس هغه سره ټول تعلقات ختم شول ولو که نسبي تعلقات وي.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (23)

اې مومنانو مه نيسئ پلاران خپل او ورونه خپل دوستان، که خوښوي دوی کفر لره په ايمان باندې، او چا چې دوستانه وکړه ددوی سره ستاسې نه پس دغه کسان خاص دوی ظالمان دي.

تفسير:

فتح القدير کې وايي: الْخِطَابُ لِلْمُؤْمِنِينَ كَافَّةً، وَهُوَ حُكْمٌ بَاقٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، يَدُلُّ عَلَى قَطْعِ الْوِلَايَةِ بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْكَافِرِينَ، وَقَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِنَّهَا نَزَلَتْ فِي الْحَضِّ عَلَى الْهِجْرَةِ وَرَفْضِ بِلَادِ الْكُفْرِ، فَيَكُونُ الْخِطَابُ لِمَنْ كَانَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَكَّةَ وَغَيْرِهَا من بلاد العرب، نهوا بأن يُوَالُوا الْآبَاءَ وَالْإِخْوَةَ فَيَكُونُونَ لَهُمْ تَبَعًا فِي سكنى بلاد الكفر.

پدې آيت کې ټولو مومنانو ته خطاب دی، او دا حکم تر قيامته باقي دی. چې دا د مومنانو او کافرانو ترمنځ دوستي پرې کولو باندې دلالت کوي، او د علماؤ يو جماعت وايي: دا آيت هجرت ته هڅونې او کفري سيمې پريښودو په اړه نازل شوی دی، نو دا به د مکې او د عربانو نورو سيمو کې اوسيدونکو مومنانو ته خطاب وي، هغوی د پلارانو او ورونو سره دوستي کولو څخه منع کړای شو چې په اوسيدو کې د هغوی تابع وګرځي.

[إِنِ اسْتَحَبُّوا]:

أَيْ أَحَبُّوا. يعني خوښ وګڼي.

ابن كثير وايي: اخْتَارُوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ.

چې کفر په ايمان غوره ګڼي.

{لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ} الْآيَةَ [الْمُجَادَلَةِ: 22] .

ابن کثير وايي دا د سورت مجادلې آيت د ابو عبيده رضي الله عنه په اړه نازل شوې چې خپل پلار جراح يې وژلی و. د الله عزوجل د احکامو به يې داسې تابعداري کوله.

بيا دې آيت کريمه کې يې ځامن ذکر نه کړل، ځکه اکثر ځامن د پلار تابع وي.

[فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ]:

نو څوک چې مشرک پلار يا ورور سره دوستي کوي الله عزوجل پرې د ظلم حکم وکړو.

وس الله عزوجل دې وروستي آيت کريمه کې نبي عليه السلام ته امر کوي چې څوک خپل اهل، خپلوان او قبيله په الله، رسول او جهاد باندې غوره ګڼي نو هغوی ته تهديد ورکړه. او دا بيا ترقي ده د ماقبل څخه، مخکې يواځې ولايت او دوستي مراد وه، دلته وايي چې څوک د الله عزوجل دين څخه تا منع کوي هغه سره به هيڅ نوعه تعلق نه ساتي، ولو که دا انسان وي او يا هم نور دنياوي ماديات وي.

قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (24)

ته اووايه که وي پلاران ستاسې او ځامن ستاسې او ورونه ستاسې او بيبيانې ستاسې او قبيلې ستاسې او هغه مالونه چې ګټئ تاسې هغوی لره ، او هغه تجارت چې يريږئ تاسې د کوټه والي د هغې نه، او کورونه چې خوښوئ تاسې هغې لره، ډير محبوب دي تاسې ته د الله تعالی نه او د رسول (صلی الله عليه وسلم) د هغه نه او د جهاد نه په لاره د هغه کې، پس انتظار وکړئ تر دې چې رابه ولي الله تعالی پريکړه خپله. او الله تعالی توفيق نه ورکوي فاسقانو قوم ته.

تفسير:

دا ډير جامع آيت دی، د جهاد موانعو ټول اقسام پکې ذکر شويدي.

[إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ]:

لکه اول مانع د جهاد پکې ذکر شوې، چې بعضې خلک د مور پلار د خدمت عذر وړاندې کوي، الله عزوجل جواب وکړو چې کله د مور پلار د خدمت تعارض جهاد سره راشي نو بيا به اجتماعي عمل (جهاد) ته ترجيح وي. ځکه جهاد په دوه قسمه دی، يو فرض عين او بل فرض کفايي.

فرض کفايي کې به د مور پلار اجازه ضروري وي، خو فرض عين کې د چا اجازې ته ضرورت نشته، کله چې دومره څوک وي چې د مور پلار خدمت دې وکړي نو تا باندې وتل لازم دي، دا اتفاقي خبره ده.

شيخ الاسلام ابن تيمية فرمايي:

ژباړه : وإذا دخل العدو بلاد الإسلام فلا ريب أنه يجب دفعه على الأقرب فالأقرب إذ بلاد الإسلام كلها بمنزلة البلدة الواحدة، وأنه يجب النفير إليه بلا إذن والد ولا غريم. [الفتاوى الكبرى ج5/صـ539]

ژباړه : کله چې دښمن د اسلام خاورې ته راننوځي نو بې شکه د دې مقابله اول په نږدې خلکو لازم ده او بيا دوی پسې خلکو، ځکه د اسلام ملکونه ټول د يو ښار مثال لري، او دې جهاد ته وتل د مور پلار، د قرض مالک له اجازې پرته واجب دي.

امام نووي شوافعو له طرفه وايي:

قال أصحابنا الجهاد اليوم فرض كفاية إلا أن ينزل الكفار ببلد المسلمين فيتعين عليهم الجهاد فإن لم يكن في أهل ذلك البلد كفاية وجب على من يليهم تتميم الكفاية. [شرح مسلم ج13/صـ9]

ژباړه : زمونږ اصحاب وايي چې نن ورځې جهاد فرض کفايي دی مګر که کفار د مسلمانانو په يوه علاقه حمله وکړي، نو دغه علاقې خلکو باندې جهاد فرض ګرځي، که چيرته دغه علاقې خلک پوره نه وي نو هغې سره نږدې علاقې خلکو باندې د کافي کيدو په خاطر واجبيږي.

بل ځای کې وايي:

ولا يجب في هذا النوع استئذان الوالدين وصاحب الدين. [روضة الطالبين وعمدة المفتين ج 10/صـ 214]

ژباړه : او په دې جهاد کې د مور پلار او د قرض مالک څخه اجازت غوښتل واجب نه دي.

أحناف وايي:

وإياك أن تتوهم أن فرضيته تسقط عن أهل

الهند بقيام أهل الروم مثلا بل يفرض على الأقرب فالأقرب من العدو إلى أن تقع الكفاية فلو لم تقع إلا بكل الناس فرض عينا كصلاة وصوم. [الدر المختار مع رد المحتار ج4/ صـ124]

ژباړه: دا فکر مه کوه چې د روم خلک راپاڅي نو د هند خلکو څخه هم فرضيت ساقط شو، بلکې اول نږدې علاقې، بيا هغې پسې نږدې خلکو باندې واجبيږي، تر دې چې څومره ضرورت وي، هغومره خلک پوره شي، کچېرته خلک نه پوره کيږي نو په ټولو خلکو د مونځ او روژې پشان فرض گرځي.

نو آيا په فرض مونځ او روژه کې له مور پلار څخه اجازت غوښتل شته؟

بيا وايي: (إن هجم العدو فيخرج الكل ولو بلا إذن) الدر المختار. که چېرته دښمن حمله وکړه نو ټول مسلمان به وځي، اګر که بغير اجازت هم وي. رد المحتار کې وضاحت کوي:

أي كل من ذكر من المرأة والعبد والمديون وغيرهم قال السرخسي، وكذلك الغلمان الذين لم يبلغوا إذا أطاقوا القتال فلا بأس بأن يخرجوا ويقاتلوا في النفير العام وإن كره ذلك الآباء والأمهات. [ج 4 صـ 217]

ژباړه: مطلب د ټولو وتل دا دی: ټول هغه خلک چې مخکې ذکر شو لکه زنانه، غلام، قرضه وړی او داسې نور. سرخسي وايي: همدغه شان هغه هلکان چې بلوغ ته نه وي رسيدلي، کله چې د جنګ توان لري نو د دوی وتل او نفير عام کې جنګيدل پروا نه کوي، اګر که مور او پلار يې بد ګڼي.

أصحاب مالك وايي:

والمعنى: وتعين بفجء العدو على كل أحد وإن كان ذلك الأحد امرأة. [حاشية الدسوقي المالكي على الشرح الكبير ج 2/صـ174]

ژباړه: معنی دا ده چې د دښمن حملې له امله په هر کس باندې جهاد لازميږي، تر دې چې په زنانه هم لازميږي.

سحنون وايي: ولا أحب لمن له والدان أن ينفر إلا بإذنهما إلا أن ينزل بمكانه من العدو ما لا طاقة لمن حضر بدفعه فلينفر بغير إذنهما. [التاج والإكليل لمختصر خليل ج 4 صـ 541]

ژباړه: زه دا خوښوم که چېرته د يو کس مور پلار وي نو د هغوی په اجازت دې لاړ شي، مګر که د دوی په ځاي داسې دښمن حمله وکړي چې شته کسان يې د مقابلې توان نه لري نو بيا دی د مور پلار اجازت پرته لاړ شي.

ابن قدامة حنبلي وايي:

إذا وجب عليه الجهاد. لم يعتبر إذن والديه؛ لأنه صار فرض عين وتركه معصية، ولا طاعة لأحد في معصية الله. وكذلك كل ما وجب مثل الحج، والصلاة في الجماعة والجمع، والسفر، للعلم الواجب. [المغني لابن قدامة ج9 صـ 209]

ژباړه: کله چې سړي باندې جهاد واجب شي نو بيا د مور پلار اجازت ته اعتبار نه شته، ځکه دا وس فرض عين شو او پريښودل يې ګناه ده، او د الله په نافرمانۍ کې به د هيڅ چا خبره نشي منل کيدای، او همدغه رنګه هر واجب عمل کې حج، د جمعې لمونځ، او د فرض علم لپاره سفر کول.

نو دا خبره بحمد الله واضحه ده چې کله د مور او پلار خدمت لپاره څوک وي او ستا په تلو هغوی نه ضايع کيږي نو بيا د هغوی اجازت پرته جهاد ته وتل لازم دي.

[وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ]:

دويم قسم مانع د جهاد اولاد، ښځه، ورونه او قوم قبيله ده.

الله عزوجل فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡ وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ. إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ. [سُورَةُ التَّغَابُنِ : 15 ـ 14]

ژباړه: اې مؤمنانو! ستاسې له ميرمنو او ستاسې له اولادونو څخه ځينې ستاسې دښمنان دي، له هغو څخه ځان اداره کړئ. او که تاسې د بخښنې او تېرېدنې څخه کار واخلئ او ښښنه وکړئ، نو الله ډېر ښه ښښونکی او رحم کوونکی دی. ستاسې مالونه او ستاسې اولادونه خو يوه ازموينه ده، او همدا الله دی چې لوی اجر ورسره دی.

د دې آيت په شان نزول کې امام ترمذي په خپل جامع، ابن أبي حاتم او ابن کثير په خپلو تفاسيرو کې روايت راوړی او سند يې صحيح دی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، وَسَأَلَهُ رَجُلٌ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ : " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ سورة التغابن آية 14 ، قَالَ : هَؤُلَاءِ رِجَالٌ أَسْلَمُوا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ وَأَرَادُوا أَنْ يَأْتُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَأَبَى أَزْوَاجُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ أَنْ يَدَعُوهُمْ أَنْ يَأْتُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَوْا النَّاسَ قَدْ فَقُهُوا فِي الدِّينِ ، هَمُّوا أَنْ يُعَاقِبُوهُمْ ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ : يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ سورة التغابن آية 14 الْآيَةَ " . قَالَ أَبُو عِيسَى : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ .

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه چا د دې آيت په اړه پوښتنه وکړه " يآيها الذين .... هغه وفرمايل: د مکې بعضې اوسيدونکو اسلام راوړ او نبي عليه السلام ته يې د هجرت اراده وکړه نو ښځو او بچو يې منعه کړل، بيا کله چې نبي عليه السلام ته راغلل، صحابه يې وليدل چې د دين پوهه يې حاصله کړې وه نو دوی اراده وکړه چې خپلو ښځو او بچو ته سزا ورکړي، نو الله عزوجل دا آيت نازل کړو.

عَنْ يَعْلَى الْعَامِرِيِّ , أَنَّهُ قَالَ : جَاءَ الْحَسَنُ , وَالْحُسَيْنُ يَسْعَيَانِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَمَّهُمَا إِلَيْهِ , وَقَالَ : " إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ " . مسند أحمد وابن ماجه وفي رواية: إِنَّهُمْ لَمَجْبَنَةٌ مَحْزَنَةٌ , إِنَّهُمْ لَمَجْبَنَةٌ مَحْزَنَةٌ " .

يعلى العامري رضي الله عنه فرمايي چې حسن او حسين نبي عليه السلام ته راروان و، نبي عليه السلام دا دواړه ځان پورې جوخت کړل او ويې فرمايل: يقينا بچي انسان لره ډير بخيل او بې زړه کونکي دی.

بل روايت کې دا هم راغلي: ډير بې زړه او ډير خفه کونکي دی.

دغه رنګ مشهور حديث د سنن النسائي او مسند أحمد کې راځي:

ثُمَّ قَعَدَ لَهُ بِطَرِيقِ الْجِهَادِ ، فَقَالَ لَهُ : هُوَ جَهْدُ النَّفْسِ وَالْمَالِ ، فَتُقَاتِلُ فَتُقْتَلُ ، فَتُنْكَحُ الْمَرْأَةُ ، وَيُقَسَّمُ الْمَالُ ، قَالَ : فَعَصَاهُ فَجَاهَدَ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ مِنْهُمْ ، فَمَاتَ ، كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ.

شيطان انسان ته د جهاد په لاره کښيني، ورته وايي: دا د ځان او مال سختی ته ورکول دي، ته جنګ کوي نو ته به ووژلې شې، ښځه به دې نکاح کړې شي، او مال به دې تقسيم شي، نو دغه کس د شيطان خبره ونه مني او جهاد وکړي. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ددوی څخه چې چا دا کار وکړ او مړ شو، نو په الله عزوجل باندې لازم دي چې دا جنت ته داخل کړي.

دا د شيطان وسوسه ده چې ښځه به دې بل څوک په نکاح واخلي، نو د مرګ نيټه خو رب مقرره کړې ده، هغه که انسان په هر ځای کې وي، ورته راځي. جهاد او غير جهاد د مرګ نيټې پر وړاندې کوم توپير نه لري.

[وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا]:

بل مانع د جهاد مالونه او تجارتونه دي. الله عزوجل فرمايي چې دا هم د جهاد څخه مانع شرعي ندی.

او چا د تجارتونو معنا کړې ده: هغه پيغله لور او خور چې تاسې يې د کوټه والي څخه ډاريږئ.

[وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا]:

دا بل مانع د جهاد دی. ځمکې، جايدادونه، کورونه، بنګلې وغيره.

[أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ]:

چې دغه ټول شيان چې مخکې ذکر شو او خلکو د جهاد لپاره موانع ګرځولي دي، او د الله او رسول اوامرو څخه يې خوښ ګڼي نو وروسته ورته تهديد ورکوي او وعيد بيانوي.

بيا دلته صرف د محبت دعوه نده، بلکې عملا به يې ښکاره کوي. الله او رسول خبرې ته به سمعنا وأطعنا وايي.

[وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ]:

دا يې د عظمت شان د وجې الله او رسول سره ذکر کړو.

نو وس د محبت دعوه معلوميږي، همدې آيت سره خبره ختميږي، که چا جهاد کوو، دا صادقه دی او که جهاد يې نه کوو نو دعوه يې ناقصه ده.

[فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ]:

دا يې جزا شوه، چې څوک د جهاد څخه قعود اختياروي، ځان لپاره غير شرعي اعذار لټوي، چې تاسې تر دې صبر وکړئ چې الله عزوجل خپل امر راولي.

او امر څخه مراد دنياوي عذاب دی په مختلفو طريقو سره، لکه د ظالم او کافر حکمرانانو مسلط کيدل، د امن ختميدل، جبن او نفاق پيدا کيدل، دردناک عذاب، هلاکت ته ځان غورځول، د جاهليت مرګ، د منافقت مرګ، ځمکه کې فساد خوريدل، ددين احکام د منځه تلل او داسې نور ستر عذابونه مراد دي.

او مشهور حديث دی:

"إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ بِأَذْنَابِ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ" [رواه أبو داود]

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې تاسو ناروا (سودي) سودا ګانې شروع کړی او د غواګانو لکۍ مو ونيولې، او کروندې مو غوره کړلې او جهاد مو پريښود نو الله رب العالمين به درباندې ذلت مسلط کړي، دا به درنه نه لری کوي تر دې چې تاسو خپل دين ته راوګرځئ.

او دلته چې الله عزوجل دا [امر] مبهم پريښی، او تصريح يې پرې نده کړې، اشاره ده کثرت او مختلف اقسام د عذابونو ته او سخت تهديد دی.

دې ځای نه دا قاعده هم مستنبط کيږي چې يو خوا بې شميره دنياوي مصلحتونه وي، او بل خوا ددين يو حکم وي، نو دنياوي مصلحتونه به ټول په ديني حکم باندې قربانوي.

[وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ]:

أَيِ: الْخَارِجِينَ عَنْ طَاعَتِهِ، النَّافِرِينَ عَنِ امْتِثَالِ أَوَامِرِهِ وَنَوَاهِيهِ.

دا جهاد پريښودونکي د الله عزوجل د طاعت څخه وتونکي او د هغه اوامراو او نواهيه وو (منع شوي شيانو) څخه نفرت کونکي خلک دي.

نو که دا قاعد او متخلف چې غيرشرعي عذر بيانوي ولو که ځانته عالم وايي، که داعي وايي خو د رب په کتاب باندې دا فاسق دی. لا يهدي معنا د عذاب څخه يې نه ژغوري.

دوام لري ...

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

څلورم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو لوستونکو!

مونږ د الله عزوجل د معرفت سلسله شروع کړې وه، تیر درس کې د الله تبارك وتعالى د صفاتو د معنوي تحریف، تعطیل، تکییف، تمثیل او تاویل ذکر وشو، بیا هغه ډلې ذکر شوې چې هغوی د صفاتو د الله او د نومونو د هغه نه د خپلو تحریفونو او وهمونو له وجې نه انکار کوي، او د دغه انکار اقسام ذکر شو.

ذكرالدرجات في تعطيل الصفات لفرق النفاة

هغه طائفې چې د الله تبارک وتعالى د صفاتو تعطیل کوی هغوی په دی باب کې په درې قول تقسیم دي.

اول قول: اول قول والا هغه دي چې هغوی له ټولو صفاتو څخه انکار کوي او هیڅ صفت د صفاتو د الله څخه الله ته نه ثابتوي، علامه ذهبي رحمه الله د دې قسمه خلکو متعلق فرمایي: "وهذا قول الغلاة من المعطلة، ومنهم الجهمية أتباع جهم والفلاسفة سواء كانوا أهل فلسفة محضة كالفارابي أو فلسفة باطنية رافضية إسماعيلية كابن سينا وإخوان الصفا أو فلسفة صوفية اتحادية كابن عربي وابن سبعين وهذا القول بنفي الصفات هو قول المعتزلة ومن تبعهم كالزيدية والرافضة الإمامية والخوارج الإباضية وكذلك هو قول النجارية والضرارية فهؤلاء جميعا لا يثبتون الصفات لله تعالى"

ژباړه: چې دا د غلو کوونکو معطله وو قول دی، او د دوی څخه جهمیه د جهم پیروان دغه ډول فلاسفه بیا برابره خبره ده چې دا د محضه فلسفي والا دی، لکه فارابي او که د باطنیه فلسفي والا اسماعیلیه روافض دي، لکه ابن سینا او د اخوان الصفا او که د صوفیه فلسفي والا اتحادیه دی، لکه ابن عربي او ابن سبعین او دغه چې په نفي د صفاتو کې دی، دا د معتزله او د هغه چا چې د دوی پیروي یې کړې لکه زیدیه او امامیه روافض، اباضیه خوارج او دغه ډول دا د نجاریه او ضرایه فرقو قول هم دی، پس دغه ډلې ټول الله تبارک وتعالی ته صفات نه ثابتوي، [العرش ص٨٦]، [مجموع الفتاوي ٦/٢٢٠]

دا بیا تقریبا په دوه مسلکونو تقسیم دي.

اول مسلک: چې په هیڅ صورت کې هم اثبات د صفاتو نه کوي او دوی ته غلاة المعطله وایي او دا بیا څلور ډلې دي:

(١): النفاة المكذبة چې دا جهیمه او فلاسفه دي دوی الله تبارک وتعالی ته سلبي صفات په تفصیل سره بیانوي او اثبات د ثبوتي صفاتو ورته نه کوي او د مطلق ذهني وجود عقیده د الله په باره کې لري.

(٢): هغې ته المتجاهلة الواقفه وایي چې دوی وایي مونږ نه الله ته صفات ثابتوو او نه یې ترینه نفي کوو او دغه مسلک منسوب دی د غلاة معطله وو څخه قرامطه، باطنیه، متفلسفه وو ته علامه ذهبي رحمه الله د دوی باره کې فرمایي: "فهؤلاء هم غلاة الغلاة لأنهم يسلبون عنه النقيضين فيقولون: لا موجود، ولا معدوم، ولا حي ولا ميت، ولا عالم ولا جاهل، لأنهم يزعمون أنهم إذا وصفوه بالإثبات شبهوه بالموجودات، وإذا وصفوه بالنفي شبهوه بالمعدومات فسلبوا النقيضين، وهذا ممتنع في بداهة العقول؛ وحرفوا ما أنزل الله من الكتاب وما جاء به الرسول صلى الله عليه وسلم، فوقعوا في شر مما فروا منه"؛

بس دوی چې دي په غلو کوونکو کې هم زیات غلو کوونکي دي ځکه دوی نقیضین دواړه سلب کوي او وایي چې نه موجود دی او نه معدوم دی، نه ژوندی دی او نه مړ دی نه عالم دی او نه جاهل دی او دا ځکه چې دوی دا ګمان لري که چېرته مونږ الله په ثبوتي صفاتو موصوف ومنو نو د موجوداتو سره به یې مشابهت راشي او که په نفې سره یې موصوف کړو نو د معدوماتو سره به یې مشابهت راشي، نو له دې وجې نه یې اثبات او سلب(چې نقیضین دی) دواړه نفي کړل د قرامطه وو دغه مذهب شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله هم نقل کړی. [الأصفهانية ص٧٦]

(٣): هغې ته المتجاهله اللاأدريه وایي، دوی وایي مونږ نه دا وایو چې موجود نه دی او نه دا وایو چې معدوم نه دی یعنې سلب د نقیضینو نه کوو دا نه وایو چې عالم نه دی او دا هم نه وایو چې جاهل نه دی، او د دې قول نسبت حلاج ته شوی دی، شیخ الاسلام ذهبي رحمه الله د دوی قول نقل کوي او فرمایي: وحقيقة هذا القول هو الجهل البسيط والكفر البسيط، الذي مضمونه الإعراض عن الإقرار بالله ومعرفته وحبه وذكره وعبادته ودعائه. [العرش ص ٨٩]

(۴): هغې ته اهل وحدة الوجود وایي دوی بیا د خالق او مخلوق تر منځه په صفاتو کې هیڅ فرق او تمیز نه کوي بلکې د دوی دا عقیده ده چې د خالق وجود دا د مخلوق وجود دی، او د دې قول ویونکی هغه ابن عربي، ابن سبعین، ابن الفارض عفيف التلمسانى دی، [العرش ص ٩٠] نو که یو عاقل دانا او هوښیار انسان د دوی د اعتقاد موافق سوچ او فکر وکړي نو دا به ورته بغیر له شک او تردد نه معلومه شي نعوذ بالله چې الله تبارک وتعالی د مخلوق په ټولو صفاتو موصوف کیدلای شي، نو د دوی په نزد خالق او مخلوق یو دی والعیاذ بالله او دې ته وحدت الوجود وایي. د دوی د عقیدې نه د ځان خبرولو لپاره وګوره [فصوص الحكم ١/٨٣]، [بغية المرتادص ٣٩٧].

دوهم مسلک: دا دی چې دوی هم لکه د فلاسفه وو د الله صفات نفي کوي خو بیا فرق د دوی او د فلاسفه وو ترمنځ هغه دا دی چې معتزله نفي د صفت صراحةً کوي په دې طریقې چې دوی وایي الله عالم دی خو بالذات عالم دی، نه د علم په وجه او بعضې یې دا وایي

چې الله عالم دی په علم سره خو علم بیا ذات د الله ګڼي نو دوی ته ځکه نفاة الصفات ویلی شي، چې دوی الله ته صفات نه مني بلکې دوی دغه صفات عین ذات د الله ګڼي او دغه اعتقاد منسوب دی معتزله وو ته او په دې کې د هغوی هم نظرو ته هم لکه نجاریه، زیدیه، امامیه، روافض، اباضیه خوارج وغیره وګوره [العرش ص ۹۴]، [مجموع الفتاوی ۱ ۱۳/۱۳].

دویم قول: د دویم قول والا دا عقیده ده چې دوی الله تبارک وتعالی ته صفات ثابتوي خو اختیاري صفات چې متعلق دي د مشیئت د الله پورې چې هغه فعلي صفات د الله دي، لکه اتیان مجیئة استواء نزول، کلام، رضاء، غضب له هغې نه انکار کوي او دا قول د کلابیه وو دی، چې پیروان د ابو محمد عبدالله بن سعید بن کلاب دي. او دغه ډول دا قول د السالمیه وو هم دی. او د المحاسبي ابوالعباس القلانسي او په مقدمینو اشاعره وو کې د ابوالحسن الطبري او د ابوبکر باقلاني ابو جعفر السمناني او په حنابله وو کې د قاضي ابو یعلی ابن عقیل ابوحسن الزغواني هم دي وګوره [مجموع الفتاوی ۶/۲۱۷] او بیا دوی خبریه صفات کوم چې په قران کې ثابت دي هغه مني او بعضو کې د هغې د تفویض عقیده لري. او کوم صفات خبرية چې په احادیثو کې ثابت دي، غالباً دوی په هغې کې تأویلونه کوي او دغه کوم صفات چې دوی ورته عقلیه وایي هغه هم مني لکه حیاة، علم، قدرت، سمع، بصر، کلام [مجموع الفتاوی ۶/۵۲]، [العرش ص ۱۰۴].

دریم قول: دا د متأخرینو اشاعره وو او ماتریدیه وو دی، چې دوی صرف هغه صفات مني چې په عقل ثابت دي چې د ماتریدیانو په نزد هغه اته ۸ صفات او د اشاعره وو په نزد هغه اوه ۷ صفات دي، چې دا د تعطیل الأسماء په فصل کې د څلورم قول والاوو په تفصیل کې یې ذکر شوی دی، وبالله تعالی التوفیق. [سلسلة ص 12].

التشفي والقناعة
بذکر عقیدة اهل السنة والجماعة

تر دې ځایه مونږ د الله تبارک وتعالی د اسماء حسنی او صفاتو متعلق د هغو ډلو ذکر وکړو چې هغوی د نفاقو له قبیلې څخه ګڼل کیدل، او په عامه اصطلاح ورته معطله ویل کیږي، اوس له دې نه بعد راځو او د الله په خاص اذن او توفیق د اهل السنة والجماعة عقیده ذکر کوو، نو اهل السنة والجماعة دوی چې اجماعاً او اتفاقاً الله تبارك وتعالى ته د اسماء حسنی او د هغه د کریمه صفاتو باره کې کومه عقیده لري، د هغې تذکره په دې فصل کې ذکر کوو.

شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله فرمایي: "وطریقة سلف الأمة وأئمتها أنهم یصفون الله بما وصف به نفسه، وبما وصفه به رسوله صلی الله علیه وسلم، من غیر تحریف، ولا تعطیل، ولا تکییف، ولا تمثیل، إثبات بلا تمثیل، وتنزیه بلا تعطیل، إثبات الصفات ونفي ممثالة المخلوقات قال تعالی: {لیس کمثله شيء}

فهذا رد علی الممثلة {وهو السمیع البصیر} رد علی المعطلة وقولهم في الصفات مبني علی أصلین:

أحدهما: أن الله سبحانه وتعالی منزه عن صفات النقص مطلقا کالسنة، والنوم، والعجز، والجهل، وغیرذلک

والثاني: أنه متصف بصفات الکمال التي لا نقص فیها، علی وجه الاختصاص بما له من الصفات، فلا یماثله شيء من المخلوقات في شيء من الصفات

ژباړه: د سلفو د امة او د هغې د امامانو طریقه (د اسماء او صفاتو د الله تبارک وتعالی باره کې) دا ده چې دوی الله ته هر هغه صفت باندې (د اثبات) عقیده ساتي کوم باندې چې الله تبارک وتعالی خپل ځان موصوف ګرځولی وي او (دغه ډول هر هغه صفت هم چې) د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ورته ذکر کړی وي، بغیر له تحریف نه بغیر د تعطیل نه او بغیر له تکییف نه او بغیر د تمثیل نه اثبات بلا تمثیله کوي، او پاکیزګي یې بغیر له تعطیل نه کوي د صفاتو (د الله) اثبات کوي سره د نفې د مثلیت د مخلوق سره (ځکه) الله تعالی فرمایي (لیس... نه شته په مثل د الله هیڅ شی) نو دا ردّ دی په هغه چا چې هغوی د الله د صفاتو مثلیت مخلوق سره ورکوي او دا وینا (د الله چې فرمایي وهو السمیع.....او دغه الله اوریدونکی او لیدونکی دی) نو دا ردّ دی په معطله وو باندې نو د اهل السنة والجماعة عقیده په دې باب کې په دوه اصولو بناء ده یو اصل د هغې څخه دا دې چې (دوی) الله تبارک وتعالی د هر هغه صفت څخه پاک ګڼي چې هغه مطلق د نقص صفات دي لکه پرکالي خوب، عجز، جهل، او نور د دې پشان او دویم اصل دا دې چې (دوی دا عقیده لري) چې دغه الله تبارک وتعالی موصوف دی په داسې صفاتو د کمال سره چې هیڅ نقص په هغې کې نه شته، او هغه خاص دی د الله پورې چې د هیڅ مخلوق سره په هیڅ صفت کې مثلیت نه لري، [منهاج السنه ۲/۵۲۳]

علامه ابن جماعة الکناني متوفی۷۳۳ فرمایي:
"خلاصة معتقد أهل السنة والجماعة إثبات جمیع ما أثبت الله تعالی لنفسه أو صح ذلک عن رسول الله صلی الله علیه وسلم من الأسماء والصفات دون تحریف أو تبدیل دون زیادة أو نقصان دون نفي وإنکار شيء مهما کان غریبا عند بعض العقول أو کان فوق ما تدرکه العقول".

ژباړه: خلاصه عقیده د اهل السنه والجماعه هغه اثبات د ټولو هغو اسماوو او صفاتو دی (کوم) چې الله تعالی ځان ته ثابت کړي او (یا ورته) دغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیح (سند سره) ثابت شوي وي، بغیر له تحریف او یا هم تبدیل او دغه ډول د زیادت او نقصان او یا هم(هغې کې د څه شي د نفې او انکار نه) بیا برابره ده که دغه د عقل سره نا اشنا وي، او که له عقل څخه پورته وي چې عقل یې ادراک نه شي کولای.
[ایضاح الدلیل فی قطع حجج اهل التعطیل ص ۳۹].

محدث امام ابن خزیمه رحمه الله فرمایي: " فنحن وجمیع علمائنا من أهل الحجاز وتهامة والیمن والعراق والشام ومصر مذهبنا أن نثبت لله ما أثبته لنفسه، ونقر بذلک بألسنتنا، ونصدق بذلک بقلوبنا، من غیر أن نشبه وجه خالقنا بوجوه أحد من المخلوقین، وعز ربنا أن نشبهه بالمخلوقین وجل ربنا عما قالت المعطلة"

ژباړه: پس مونږ او ټول علماء د اهل حجاز او تهامې او د یمن، عراق، شام او مصر (دا وایو چې) زمونږ مذهب دا دې چې مونږ الله تبارک وتعالی ته هغه څه ثابت کوو کوم چې الله ځان ته ثابت کړي دي، او په همدې باندې به خپلو ژبو سره اقرار کوو او په زړونو باندې د دې تصدیق کوو بغیر له دې چې مونږ دې مخ د خالق ته د مخونو د یو چا د مخلوقاتو سره تشبیه ورکړو، او لوړ دی رب زمونږ د دې نه چې د مخلوق سره دې مشابه کړې شي، او لوړ دی رب زمونږ له هغه څه څخه چې معطله یې (د هغه د صفاتو باره کې) وایي.
[التوحید لابن خزیمه ص ۱۱-۱۰]

د اهل السنة والجماعة د دغه اعتقاد ترجماني علامه ذهبي هم کړې ده، وګوره [العرش ص ۳۰] امام اللالکائي هم کړې، وګوره [اعتقاد اهل السنة ۳/۲۲] ابن ابی شیبة رحمه الله هم کړې وګوره [العرش وماروی فیها ص ۱۵۱]

نو خلاصه دا چې تاسو ته به معلومه شوي وي چې اهل السنة والجماعة دا د الله تبارك وتعالى د نومونو او صفتونو باره کې داسې عقیده لري، څنګه چې الله ځان ته او یا هم د هغه رسول هغه ته ثابت کړي، بغیر له دې چې تعطیل یې وکړي، او یا هم تشبیه، تمثیل او یا تکییف بیان کړي، لکه څنګه چې دغه د مخکې ډلو د مسالکو په بیان کې ذکر شول.

همدا د اهل السنة والجماعة لویه نښه او علامه ده چې هغوی الله تبارک وتعالی ته ټول هغه صفات ثابتوي چې کوم الله ځانته ثابت کړي دي، او هغه څه ترې نفې کوي کوم چې الله تبارک وتعالی له ځان نه او یا هم د هغه رسول صلی الله علیه وسلم د هغه نه نفې کړې وي، او عقل په دې کې د نقل تابع ګرځوي، او اتباع د کتاب او سنة او فهم د اسلاف صالحین په دې کې لازم ګڼي. والحمد لله رب العالمین.

ضوء الشمس ونور القمر
بذکر دلائل فوقیة رب العالم الأکبر

اوس راځو او د الله تبارک وتعالی په خاص فضل او توفیق سره د عقیدې د مبادي او تمهیدي مسائلو د معرفت او زده کړې نه بعد د

عقیدې اصلي او مرکزي مباحث شروع کوو، نو اول له هغې جملې څخه چې په هر مسلمان او مؤمن نر او ښځې فرض او واجب دي چې دغه عقیده ولري هغه دا ده چې دغه هر یو باید په دې خبر وي او د دې علم ولري او په دې پوخ، جازم، بې له شک او تردد او شبهې نه دا یقین ولري، چې د ده خالق او معبود الله تبارک وتعالی د اسمانونو نه بره د عرش له پاځه دی چې دا هم د الله تبارک وتعالی له ثابت صفاتو څخه هغه فعلي صفت دی، چې اهل السنة والجماعه یې الله تبارک وتعالی ته د هغه د ذات سره لائق تسلیموي او هیڅ نوع تشبیه، تعطیل او تمثیل یې د مخلوق سره نه ورکوي او له دوی څخه بغیر چې څومره باطل پرست (نفاة الصفات) د کومو چې مخکې فصلونو کې د هغې یادونه شوې، هغوی له دې نه د تأویلونو او شبهاتو او تحریفونو په مټ او مرسته انکار کوي چې دغه انکار د صریح قران او صحیح سنت او ثابت اجماع او سلیم غیر مجروح صفت نه انکار دی،

اعاذنا الله من تلك الإعتقاد الباطل.

اوس په دغه عقیده او مسأله څومره د قران حدیث، اجماع او سلیم فطرت نه ثابته ده لاندې بحوثو کې نمبر وار د هغې دلایل ملاحظه کړئ.

وجوب الإيمان
بما أثبته الله لنفسه في القرآن

اول هغه دلایل چې د ذات په اعتبار سره په فوقیة او عُلو د الله تبارک وتعالی کوم چې خپله د الله تعالی په کتاب قران کریم کې موجود دي، او الله جلّ شأنه ځانته ثابت کړي هغه درج ذیل دي.

(۱) الله تبارک وتعالی په سورة الفاطر لسم (۱۰) نمبر اية کریمه کې فرمایي: {إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ}.

ژباړه: او خاص دی الله ته ور پورته کیږي هغه وینا چې پاکه وي او هغه عمل چې صالح وي، ورخیژوي، دغه پاکه وینا (هغه ته) التذکیر بذکر التفسیر: دلته وګورئ صراحةً الله تبارک وتعالی اثبات د دې وکړ چې هغه تعالی د ذات په اعتبار سره بره (پاس) دی، او همدا د دې اية لفظاً اوظاهراً تقاضا ده.

(۲) الله تبارک وتعالی په سُورة آل عِمرَان ۵۵ نمبر اية کریمه کې عیسی علیه السلام ته کړي خپله وینا نقل کوي فرمایي: {إِذْ قَالَ اللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ }

ژباړه: او هغه وخت چې کله الله وفرمایل: أی عیسی زه اوس تا بیرته پوره اخلم او خپل ځان طرف ته دې راپورته کوم؛

التذکیر بذکر التفسیر: دلته دې ایت کې هم اثبات د دې وشو چې الله رب کریم د ذات په اعتبار سره بره دی.

(۳) الله تبارک وتعالی په سورالملک ۱۶ـــــ۱۷ نمبر ایاتونو کې فرمایي: {ءَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ * أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ}

ژباړه: ایا تاسو ځانونه په امن ګڼئ د هغه ذات (د ګرفت) نه چې په اسمانونو کې دی دا چې ننه به باسي تاسو په ځمکه کې بیا به دغه وخت کې دغه ځمکه خوځیږي (او تاسو به شکته تیروي) ، ایا تاسو ځانونه په امن ګڼئ د هغه ذات (د ګرفت) نه چې په اسمانونو کې دی چې را وبه لیږي په تاسو باندې تیز باران د کانو (که داسې وکړي نو) پس زر دی چې تاسو به (بیا) پوهه شئ چې څنګه دي ویرول زما.

التذکیر بذکر التفسیر: دلته هم په صراحت سره دا خبره په دې ایاتونو کې ثابته شوه چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره بره دی.

(۴) دغه ډول سورة النساء ۱۵۸ نمبر اية کریمه الله رب کریم د عیسی علیه السلام د پورته کیدو متعلق وضاحت کوي فرمایي: {بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا}.

ژباړه: بلکې الله تعالی هغه (عیسی علیه السلام) خپل طرف ته اوچت کړی او الله ډېر زیات زورور او د حکمت والا دی.

التذکیر بذکر التفسیر: دې ایت کې هم الله تبارک وتعالی دا خبره ثابته کړه چې هغه تعالی د ذات په اعتبار سره بره دی، او عیسی علیه السلام یې هم د ځان طرف بره خیژولی دی.

(۵) بل په سورة المعارج ځلورم ۴ نمبر اية کریمه کې الله تبارک وتعالی فرمایي: {تَعْرُجُ الْمَلَٰٓئِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ}

ژباړه: ورخیژي ملائکې او روح (جبریل علیه السلام) د الله طرف ته په یوه داسې ورځ کې چې مقدار د هغې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله دی.

التذکیر بذکر التفسیر: دلته هم دا ایت کریمه صراحت کوي په دې چې الله جل وشأنه د ذات په اعتبار سره بره دی او ملایکې هم د هغه طرف ورخیژي.

(۶) په سورة السجدة ۵ نمبرایت کریمه کې فرمایي: {يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥٓ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ}

ژباړه: تدبیر کوي (چارې سنبالوي) د کارونو د اسمان نه تر ځمکې پورې (او بیا د دې کارونو راپور پاس هغه تعالی ته ورخیژي په داسې یوه ورځ کې، چې د هغې مقدار ستاسو د شمېر له مخې یو زر (۱۰۰۰) کاله دی.

التذکیر بذکر التفسیر: دا ایت هم د مخکې ایاتونو غوندې واضح او روڼ دلیل دی په اثبات د فوقیت د الله تبارک وتعالی چې الله تبارک وتعالی بره دی، او د بره نه امور او چارې د کائناتو کنټرول کوي.

(۷) بل هغه اية کریمه چې فوقیت د الله تبارک وتعالی په کې ذکر دی هغه د سورة النحل ۵۰ نمبر آیت دی، الله تعالی فرمایي: {يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ}

ژباړه: او دوی ویریږي له خپل رب څخه چې د هغوی د پاځه دی، او کوي (برابر) هغه څه چې د څه ورته (څنګه) حکم کیږي.

التذکیر بذکر التفسیر: دلته هم ایت کریمه د دې اثبات وکړو چې الله تبارک وتعالی د بندګانو نه بره دی، او بندګان هم دا یقین لري چې د دوی رب د دوی نه د ذات په لحاظ سره بره دی، نو د هغه د امر موافق تعمیل کوي، تر دې ځای هغه ایاتونه ذکر شو چې صراحةً او بداهةً دلایل دي په دې چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره د عالم نه بره دی، چې په دې به نور قراني دلایل د عرش د اثبات په فصل کې ذکر شي، ان شاء الله.

الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد
٤

څلورم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:
محترمو عزت مندو مخکې درس کې بتوفيق الله د کتاب الجهاد دريم حديث د هغې شرح او فوائد ذکر شول اوس دې درس کې راځو او د الله تعالى په توفيق څلورم حديث شروع کوو.
[۴حديث: رقم الحديث ۲۷۸۵] أن أبا هريرة رضي الله عنه حدثه، قال: جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال: دلني على عمل يعدل الجهاد؟ قال: «لا أجده» قال: «هل تستطيع إذا خرج المجاهد أن تدخل مسجدك فتقوم ولا تفتر، وتصوم ولا تفطر؟»، قال: ومن يستطيع ذلك؟، قال أبو هريرة: «إن فرس المجاهد ليستن في طوله، فيكتب له حسنات
ژباړه: ابوهريره رضى الله عنه فرمايي: يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی ورته ويې فرمايل: ماته په يو داسې عمل خبر راکړه چې (په ثواب او اجر کې) د جهاد سره برابر وي هغه ورته وفرمايل: زه (په خپل شريعت کې داسې عمل) نه مونده کوم (بيا ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: ايا ته دا توان لرې، چې کله مجاهد جهاد ته (ووځي) دا چې ته خپل د لمانځه ځای ته ننوځې پس لمونځ ته ولاړ اوسې او ستړی کيږې نه او روژه نيسې او ماتوې يې نه، هغه سړي وويل: د دې طاقت څوک لري؟!! ابوهريره رضى الله عنه فرمايي: بې شکه د مجاهد اسپ څريږي په خپل پړي کې (او پښې په ځمکه وهي) پدې څريدو ورته هم نيکي ليکلى شي.

التفكر والمراقبة فى ذكرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ اسحاق بن منصور دی چې د تعديل او توثيق په باب کی د ثقةٌ ثبتٌ په وصف مشهور او موصوف دی.
چې له ده نه امام بخاري رحمه الله په سند سره دا حديث د ابوهريره رضى الله عنه نه نقل کوي.
بيا مناسبت د حديث د باب سره صريح او ښکاره دی، چې هغه د يعدل الجهاد ...جمله ده چې دليل دی په أفضل والي د جهاد.
والله أعلم

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(جاء رجل) دلته دغه سائل رجل (سړی) مبهم ذکر دی حافظ بن حجر رحمه الله فرمايي: لم أقف على اسمه ما ته د ده په نوم علم نه شته، مذکوره حديث امام مسلم رحمه الله په کتاب الامارة کې د سعيد بن منصور نه په سند سره د ابوهريره رضي الله عنه نه نقل کړی، هغې کې دي چې سائل دوه يا دري ځلې دا پوښتنه د نبي صلى الله عليه وسلم نه کړې ده.
امام نسايي رحمه الله هم دا حديث په کتاب الجهاد کې ذکر کړی دی، (يعدل) د عدل څخه ده او عدل په ډيرو معناوو سره راځي دلته ترينه برابر والى او تسويه فى الوصف مراد ده (أن تدخل مسجد) معنى ده چې ته دې د لمانځه ځای ته ننوځې (فَتَقُومَ) دا منصوب دی او فا عاطفه او دا عطف دی په مخکې (أن تَدْخُلَ) باندې يعنې د ننوتلو سره فورا لمونځ ته ودريږې، ځکه دغه فا د تعقيب مع الوصل لپاره ده (ولاتَفتُرَ) عطف دی په (فَتقومَ) باندې او دا د فتور څخه دی، سستي، ضعف او ناتواني ته وايي يعنې ته د مجاهد د وتلو سره سم خپل د عبادت کولو ځای ته ننوځې، او لمونځ ته شروع وکړې او په دې کې هيڅ قسم سستي کسالت او وقفه نه کوې.
(وتَصُومَ ولا تُفْطِرَ) او ورسره روژې نيسې او افطار نه کوې، نو يقيناً دا عمل داسې يو عمل دی، چې فوق مقدور البشر دی يعنې د بشر د طاقت او وسع نه بهر دی، نو ځکه دغه سائل جواب کې وفرمايل (ومن يستطيع ذلك) يعنې د دې وسع به لا څوک لري، تر دې ځايه حديث مرفوع وو قال ابوهريرة ....الح له دې نه بعد دا جمله موقوف ده يعنې د ابوهريره رضى الله عنه قول دی (ليستن) دا د افتعال باب دی له إستنان څخه دی، د دې معنا ده چې اسپ په خپل ځای بند کې مخکې او شاته ځي راځي او حافظ ابن حجر يې د جوهري نه معنا نقل کړې

فرمايي: وقال الجوهري هو أن يرفع يديه ويطرحهما معا.

استنان ديته وايي چې اسپ مخکې پښې يو ځاى اوچتې کړي او بيا يې ځمکې ته را واچوي، يعنې د اسپ مستى ته وايي نو مطلب دا چې مجاهد به فعلاً غزا کې هم نه وي مصروف اسپ به يې په پړي تړلى وي خپل واښه به خوري او مستي به کوي، خو دا به مجاهد ته نيکې حسابيږي، چې د ابوهريرة رضى الله مقصود د دې خبرې نه فضيلت بلکه أفضليت د جهاد او مجاهد ته اشاره ده، او دا هم د باب سره د مناسبت بله وجه شوه.

(فى طوله) دلته د طول نه مراد حبل يعنې رسى ده (فيُکتَبُ) مجهوله ده نائب فاعل يې هغه مصدر دى چې په ضمن د ليستنّ کې ذکر دى، چې هغه استنان دى، دا د (إعدلوا هو أقرب للتقوى) له قبيلې څخه دى او (حسنات) دا دويم مفعول دى الغرض د ابوهريره رضى الله عنه د دې خبرې مقصد د جهاد او مجاهد فضيلت ذکر کول دي، نو د دى جملې لفظي معنا دا ده چې د مجاهد اسپ به په پړي تړلى وي، او دا به څريږي، مخکې او وروسته به ځي راځي او د دې اسپ دغه حرکات به هم مجاهد ته په نيکى کې ليکل کيږي.

شفاء الأمراض بدفع الشبهةو الاعتراض

د نورو احاديثو نه معلوميږي چې وصال يعنې مسلسل روژې نيول منع دي، او دغه ډول مسلسل لمونځ کول هم منع دي، د هغه حديث له مخې چې (ولجسدک عليک حق) او دلته يې په دې حديث کې جواز ثابت شو.

الجواب بعون الله الوهاب منعه د وصال د صيام او د مسلسل قيام نه په خپل ځاى باندې ده او دلته ذکر د دې صيام او قيام د باب د تعليق بالمحال څخنې دى، څکه خو سائل جواب هم په عدم استطاعت سره کړى دى.

او شريعت هيڅ کله هم يو بنده په داسې حکم او امر نه مکلف کوي چې هغه يې له وسعې نه بهر وي، څکه دا بيا د تکليف بما لايطاق د جملې څخه ګرځي او د شريعت اصول او قواعد د دې نه خلاف دي، بلکه دا د على سبيل الفرضية د جملې څخه دي، لکه سائل ته وايي که بالفرض دغه وصال د صيام او مسلسل قيام جايز وي او تا هم دا کولى شوى، نو بيا به د مجاهد سره په درجه او ثواب کې برابر وي، خو چې داسې نده نو بيا د مجاهد درجه هم نه شى حاصلولاى، والله اعلم.

شفاء الأمراض بدفع الشبهة والاعتراض

د مذکوره حديث نه خو معلوميږي چې د جهاد نه هيڅ يو عمل هم غوره نشته دى، خو أبواب العيدين کې د ابن عباس رضى الله عنهما نه بخاري حديث نقل کړى دى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عليه وسلم فرمايي: " مَا الْعَمَلُ فِي أَيَّامِ الْعَشْرِ أَفْضَلَ مِنْهَا فِي هَذِهِ ، قَالُوا : وَلَا الْجِهَادُ ، قَالَ : وَلَا الْجِهَادُ ، إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ يُخَاطِرُ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ. نو له دې حديث نه خو معلوميږي چې د ذوالحجې د لسو ورځو عبادت د جهاد نه غوره دى، نو د دواړو حديثونو تر منځه ټکر او راغى

الجواب بعون الله الوهاب:

(اول) دا خبره ذهن کې کينول ضروري ده چې هيڅ کله هم د شريعت د أحکامو او أوامرو تر منځه ټکراو نه راځي، څکه اکثر خلک داسې وي چې د هغوى په يوه مسأله ذهن کار ونه کړي او يا يې هم په توفيق او تطبيق سر خلاص نه شي نو فوراً به چغې شروع کړي چې دلته تضاد دى او تعارض دى وغيره وغيره!!

الغرض دلته دې مقام کې د دې أحاديثو ترمنځ حل او فصل هغه دا دى چې په عام لحاظ سره جهاد أفضل او په خاص لحاظ سره د دې لس ورځو فضيلت غوره دى او ديته جزئي فضيلت ويلى شي او په دې سره د جهاد قدر او مرتبه نه کميږي، او دا څکه چې جهاد د عامه منافعو او فوائدو ګنجينه (خزانه) ده.

(دويم جواب) دا دى چې د صحابه وو په نزد هم د جهاد أفضليت مسلم او مشهور وو څکه نور ټول عبادات په ځاى پريږده او د دې لسو ورځو د فضيلت په مقابل کې جهاد يادوي.

(دريم جواب) دلته په حديث کې چيرته هم دا نه ده ذکر چې له جهاد نه دا لس ورځې په فضيلت کې غوره دي، څکه پدې لسو ورځو کې بل هر عبادت چې وي هغه د هغه جهاد درجې ته نه شي رسيدلاى، کوم جهاد چې په مال او نفس سره وشي، او دواړه د الله په لار کې قربان کړي،

نو بيا مقام د جهاد غوره او أفضل وګرځيده والله أعلم.

[فوائد الحديث]

[۱] د صحابه کرامو حرص د خير په کارونو او أعمالو ډير زيات وو، له دې وجې هغوى به د داسې أعمالو پوښتني کولى چې د اجر او ثواب په لحاظ سره به زيات وو.

[۲] د جهاد سره وروسته د توحيد د منلو او لمونځ کوم هيڅ يو عمل هم ندى برابر او همدا هغه مناسبت دى چې بخاري رحمه الله ورته باب وتړلو!!!

[۳] د شرعي مسائلو د فهم لپاره مثال کې تعليق بالمحال أمثله ذکر کول جايز دي، لکه دلته رسول الله صلى الله عليه وسلم سائل ته داسې عمل په مثال کې ذکر کړو چې د بنده بشر په حق کې د وسع او طاقت په لحاظ سره محال دى.

[۴] دليل دى په فضيلت او غوره والي د مجاهد او هغه په دې ډول چې که مجاهد خوب کوي او که ويښ وي خوراک کوي که څښاک دا ټول ورته نيکي او عبادت حسابيږي.

[۵] فضايل دا په عقل او قياس نه بلکې دا به په نص او دليل ثابتيږي.

باب: أفضل الناس مؤمن مجاهد بنفسه وماله في سبيل الله.

حصول الاجر والثواب

(بتشريح الكلمات مافي الباب)

بابٌ منون نکره ذکر دى ګويا چې دا خبر دى او مبتدايي محذوف ده چې هغه هذا إسم إشاره ده يعنې هذا بابٌ يذکر فيه أفضل الناس .....الخ

يعنې دا باب دى چې په دې کې دا بحث ذکر کيږي چې د ټولو انسانانو نه أفضل (غوره) انسان هغه مومن مجاهد دى چې په خپل مال او ځان سره د الله په لار کې جنګيږي أفضلُ دا د اسم تفضيل صيغه ده چې اضافت يې د الناسُ کليمې ته شوى، د إسم تفضيل تعريف دى الصفة الدالة على المشارکة والزيادة.

يعنې مشارکة د دوه شيانو په يو صفت د صفاتو کې لکه شجاعت، سخا، علم، مالداري وغيره...

او معنا د زيادة هغه دا چې په دغه صفت کې يو له بل څخه زيات دى، مثلا زيدٌ علم من عمروٍ أو يا العلم أنفع من المال. نو هغه چې زيات دى هغې ته(مُفضَّل) او چې پرې زيات شوى دى، هغې ته (مفضل عليه) أو (مفضول) وايي او دغه ډول اسم تفضيل په اکثر او اغلب صورتونو کې په استمرار او دوام باندې دلالت کوي.

بيا بخاري رحمه الله باب کې د (مؤمنٌ) لفظ د مجاهد نه مخکې ذکر کړو اشاره ده دې ته چې مجاهد به مؤمن وي څکه ايمان د عمل نه مخکې ضروري دى، او د همدې ټکې مناسب يې لاندې ايت کريمه په ترجمة الباب کې ذکر کړى، چې باب د ژباړې سره موافق راشي بيا غوره والى د جهاد هغه په مال او نفس سره راځي خو چې د الله په لار کې وي نه د طاغوت او شيطان په لاره کې له دې وجې نه يې (في سبيل الله) ذکر کړو، امام بخاري رحمه الله د باب د لګولو نه بعد په ترجمة الباب کې د سورة الصف درې اياتونه ذکر کوي فرمايي: وقوله تعالى او وينا د الله تعالى ده (يعنې ما چې کومه دعوى د باب په شکل کې ذکر کړه په هغې باندې دليل هغه د الله سبحانه وتعالى دا قول مبارک دى چې هغه فرمايي:

{يا أيها الذين آمنوا، هل أدلكم على تجارة تنجيكم من عذاب أليم، تؤمنون بالله ورسوله، وتجاهدون في سبيل الله بأموالكم وأنفسكم، ذلكم خير لكم إن كنتم تعلمون، يغفر لكم ذنوبكم، ويدخلكم جنات تجري من تحتها الأنهار، ومساكن طيبة في جنات عدن، ذلك الفوز العظيم}

ژباړه: اى د ايمان والاوو ايا زه تاسو ته ښودنه وکړم د يو داسې تجارت (که تاسو دا تجارت وکړئ) نو تاسو ته به د دردناک عذاب څخه نجات درکړي (او هغه دا چې) تاسو ايمان راوړئ په الله او په رسول د هغه او جهاد وکړئ په لاره د الله کې په خپلو مالونو او ځانونو سره دا کار تاسو ته وايم

غوره دی ستاسو لپاره که چېرته تاسو پوهیږي (بل دا چې) وبه بښي تاسو ته گناهونه ستاسې او داخل به کړي تاسو داسې جنتونو ته چې بهیږي به لاندې (د قصرونو او باغونو د هغې نه) نهرونه او د اوسیدو ځایونو ته چې پاک پاکیزه به وي په جنتونو د همیشه والی کې او دا کامیابي لویه (کامیابي) ده.

[التنبیه] د دې ایاتونو تفسیر ما په مختصره رساله [مجاهده تاته وایم] کې ذکر کړی دی، هلته یې وگورئ، بل مناسبت د دې ایاتونو د باب سره واضح دی چې هغه فضیلت د مجاهد دی چې دغه مجاهد په جهاد سره د فوزعظیم (یعنې د لویې کامیابي چې وروسته ترې بله ناکامي نه راځي) مستحق گرځي.

مطر الرحمة والسحاب بذکر مناسبة الباب مع الکتاب

دا باب د کتاب الجهاد د أبوابو د عدد او شمیرې په اعتبار سره دویم نمبر باب دی، امام بخاري رحمه الله په دې کې اول د سورة الصف درې ایاتونه او بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه احادیث ذکر کوي.

اول حدیث د ابوسعید خدري رضی الله عنه او دویم حدیث د أبوهریره رضی الله عنه چې استدلال یې ترینه په فضیلت د مجاهد باندې کړی دی.

بیا مناسبت د باب د کتاب الجهاد سره د (مجاهدٌ) په کلیمې سره دی او د مخکې باب سره یې مناسبت هغه په دې ډول دی چې لومړی باب په دې کتاب الجهاد کې په فضیلت د جهاد کې وضعه شوی وو، اوس په دې دویم باب کې فضیلت د جهاد کوونکي ذکر کوي، بعضې نسخو کې امام بخاري رحمه الله دغه باب داسې وضعه کړی (باب افضل الناس مؤمن مجاهد) او په بعضې نسخو کې لکه د کشمهیني په نسخه کې (د مؤمن مجاهد) پر ځای (مؤمن یجاهد) په لفظ د مضارع ذکر شوی دی، [فتح الباری ٦/٦]

[حدیث ٥: رقم الحدیث ٢٧٨٦] أن أبا سعید الخدري رضي الله عنه، حدثه قال: قیل: یا رسول الله أي الناس أفضل؟ فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: مؤمن یجاهد في سبیل الله بنفسه وماله، قالوا: ثم من؟ قال: مؤمن في شعب من الشعاب یتقي الله، ویدع الناس من شره

ژباړه: بې شکه ابوسعید خدري رضی الله عنه هغه (عطاءبن یزید اللیثي) ته حدیث بیان کړی فرمایي: چې وویل شو: (د الله رسول ته) ای د الله رسوله! کوم یو (انسان) په انسانانو کې غوره دی؟ پس رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه مومن چې د الله په لار کې په خپل ځان او مال (دواړو) سره جهاد کوي. بیا (خلکو) وویل: بیا څوک؟ نو وې فرمایل: هغه مؤمن چې په یوه دره د درو کې اوسیږي او د خپل رب نه ویریږي او خلک د خپل شر نه بچ ساتي.

التفکر والمراقبة فی ذکرالتطبیق والمناسبة

په دې حدیث کې د امام بخاري رحمه الله شیخ او استاذ هغه أبوالیمان دی.

د ابوالیمان خپل نوم الحکم بن نافع الحمصي دی. چې د تعدیل او توثیق په باب کې د ثقةٌ ثبتٌ په وصف مشهور دی، راوي دی امام بخاري رحمه الله د ده نه په سند سره مذکور حدیث د ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه نقل کوي بیا مناسبت د حدیث د باب سره هغه د (اي الناس أفضل ...) او د (مؤمن یجاهد في سبیل الله ...)په کلمو سره دی والله اعلم.

إغاثة المغیث بذکر شرح الحدیث

غوره والی د مجاهد او هغه ته ضرورت د ایمان مخکې ایاتونو نه هم معلوم شو دلته په دې حدیث کې غوره او افضل انسان هغه چاته وویل شو چې هغه په یوه دره د درو کې د خپل رب عبادت کوي.

[الِشعْبُ] شعب په کسري یعنې زیر د شین او سکون د عین سره د دوه غرونو تر منځ خالي مکان ته وایي چې پښتو کې ورته دره او تنگی وایي.

امام نووي رحمه الله فرمایي: وأما الشعب فهو ما انفرج بین جبلین ولیس المراد نفس الشعب خصوصا بل المراد الانفراد والاعتزال وذکر الشعب مثالا لأنه خال عن الناس غالبا.

ژباړه: او بهر حال کومه چې دره ده نو دا هغې ته وایي کوم چې د دوو غرونو تر منځ خالي ځای وي. خو دلته مراد نفس دره نده بلکې مراد ترینه د دې نه تنهایي او ځانته والی دی، او د درې ذکر په طور د مثال ذکر شوی، ځکه دغه ځای غالباً د خلکو د حضور نه خالي وي.

[شرح مسلم للنووي ١٣/٣٤]

نو د شعب نه مراد په دې حدیث کې د دنیا او د هغې د اهل نه لرې والی او الله او د هغه عبادت ته توجه کول او فارغ والی مقصود دی، امام علامه قسطلاني رحمه الله هم د شعب په تعریف او مقصود کې فرمایي:

هو ما انفرج بین الجبلین ولیس بقید بل علی سبیل المثال والغالب علی الشعاب الخلو عن الناس فلذا مثل بها للعزلة والانفراد فکل مکان یبعد عن الناس فهو داخل في هذا المعنی کالمساجد والبیوت.

ژباړه: او له دې نه مراد هر هغه خالي ځای دی چې د دوه غرونو تر منځ وي او دا قید احترازي نه بلکې علی سبیل المثال دی، او هغه له دې وجې نه چې غالباً دغه دَرِی د خلکو د شتون او حضور نه خالي وي، نو د دې وجې نه یې د تنهایي او ځانله والی په مثال کې ذکر کړو نور هرهغه ځای په دې مفهوم کې داخل دی چې دا صفت پکې وي، لکه مساجد او کورونه.

[هدی الساری ٥/٣٤]

دغه ډول دا حدیث دلیل دی د هغه چا لپاره چې عُزلة د خلقو نه زانته والی أفضل گڼي خو د جماهیرو علماوو قول دا دی چې اجتماع او اختلاط د عزله او تنهایي نه أفضل دی، [فتح الباری ٦/٧]، [شرح النووی ١٣/٣٤]، [هدی الساری ٥/٣٤]

شفاء الأمراض بدفع الشبهةو الاعتراض

د دې حدیث نه معلومه شوه چې د خلکو نه لرې والی عُزله یعنې تنهایي او جدا والی أفضل عمل دی، حال دا چې نورو احادیثو کې له دې څخه منعه راغلي او بعضو کې دا عمل مفضول گرځول شوی، لومړی حدیث: مثلا ترمذي کې روایت دی:

نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: (هغه مسلمان چې خلکو سره گډ (په کلي کور او معاشره کې) اوسیږی او د هغوی په تکلیفونو صبر کوي دا غوره دی، د هغه مسلمان نه چې خلکو سره نه اوسیږي او نه د هغوی په ضررونو صبرکوي).

دوهم حدیث:

د ابوهریره رضی الله عنه څخه په مسندأحمد او جامع الترمذي کې نقل دي چې خلاصه مفهوم یې دا دی چې یو کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د خلکو نه د ځانته پاتې کیدو او د تنها اوسیدو مطالبه وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اجازه ور نه کړه.

الجواب: (اول) خو دا چې مونږ مخکې ذکر کړه چې د جماهیرو علماوو قول دا دی چې اختلاط افضل دی د عزلی څخه.

امام نووي رحمه الله فرمایي: وفي ذلك خلاف مشهور فمذهب الشافعي وأکثر العلماء أن الاختلاط أفضل بشرط رجاء السلامة من الفتن

ژباړه: او په دې باره کې اختلاف مشهور دی د امام شافعی مذهب او د اکثرو علماوو قول دا دی چې اختلاط افضل دی په دې شرط چې د فتنو نه محفوظ او په امن کې پاتې کیږي [٣/٣٤]

علامه قسطلاني فرمایي وفیه فضل العزلة لما فیها من السلامة من الغیبة واللغو ونحوهما وهو مقید بوقوع الفتنة.

ژباړه: او په دې حدیث کې فضیلة د عُزلی دی، د دې وجې نه چې دې کې سلامتیا ده د غیبت لغویاتو او د دې په شان نورو محرماتو نه او دا فضیلت (مطلق نه دی بلکې) مقید دی په وخت د وقوع فی الفتنه کې. [٥/٣٤]

دویم: دا چې اصل کې په عمومي توگه اختلاط غوره او أفضل دی، خو چې کله فتنې، بې گناه قتلونه، ناروا جنگونه یعنې مسلمان جنگي او داسې نور حوادث وي چې انسان پکې له فتنو څخه نه شي بچ کیدلای نو بیا د داسې اختلاط نه عزله جدا والې او تنهایي افضله او غوره ده.

او په دغه اعتراض کې پیښ شوی احادیث کومو کې چې د عزلي نه منع او د هغې عدم فضیلت ذکر دی دا په عام حالاتو حمل دی چې کله انسان فتنه کې

نه خرابيږي نو بيا ورته عزله او تنهايي جايز نه ده .

دريم جواب: دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ټول صحابه كرام تابعين او د هغوى اتباع كرام د دوى زندګيانې د خلكو سره ګډې او مخلوط وي، د هغوى نه چېرته هم دغه خلوطونه نه دي ثابت، هغوى به په جمعو، اخترونو، جنازو، حج او غيره اجتماعانو كې شركتونه او اختلاطونه كول، (ويَدَعُ النَاسَ) يدع دا د (وَدَعَ) له باب څخه غايب مضارع ده د يَذَرُ اويَتْرُكُ

په معنا راځي چې پرېښودلو ته وايي يعنې خلک د خپل شر نه بچ او محفوظ پرېږدي (شَرَّهُ) شر ضد د خير ته وايي اطلاق يې په جنګ جګړو او هرې بدئ او خباثت باندې كيږي، جامع معنا يې ده مامَنَعَهُ الشرعُ

فوائد الحديث:

[١] د دې نه معلوميږي چې جهاد هم مراتب او درجې لري چې لويه درجه او مرتبه يې دا ده چې دې حديث كې ذكر ده.

[٢] جهاد د ټولو أعمالو نه افضل او غوره عمل دی.

[٣] خلک د خپل شر او ضرر نه بچ ساتل وروسته د جهاد نه غوره عمل دی.

[۴] عُزلة يعنې د خلكو نه لرې او ځانته اوسيدل دا هغه وخت جايز دي چې كله په فتنو كې د واقع كيدو خوف او خطره وي، دليل وربانډې د همدې حديث دا الفاظ دي چې وَيدَعُ الناسَ شرَّهُ او بل دليل وربانډې نور هغه احاديث دي چې د تنها اوسيدو نه پكې منعه او يا هم دا عمل غوره نه دي ګڼل شوي، والله اعلم.

[٥] مسلمان د تكليف نه بچ كول او ياهم د هغه نه غم، ضرر، مصيبت وغيره لرې كول جهاد پسې دويم نمبر غوره اعمال دي.

[٦] عمل به د الله د وجې نه كيږي نه د بل مقصد له وجې دليل وربانډې يَتّقي الله دی.

[٧] حديث دليل دی په فضيلت د جهاد او مجاهد بانډې. دوام لري...



جهـــاد نه کـول د عـــذاب سـتر لامـل دی!

الْحَمْـــدُ لِلَّـــهِ رَبِّ الْعَالَمِـــينَ وَالْعَاقِبَـــةُ لِلْمُتَّقِـــينَ وَصَـــلَّى اللَّـــهُ عَـــلَى مُحَمَّـــدٍ خَاتَـــمِ النَّبِيِّـــينَ وَعَـــلَى جَمِيـــعِ الأَنْبِيَـــاءِ وَالْمُرْسَـــلِينَ.

أَمَّا بَعْدُ:

قَـــالَ اللَّـــهُ تَعَـــالَىٰ: فَـــرِحَ الْمُخَلَّفُـــونَ بِمَقْعَدِهِـــمْ خِلَٰـــفَ رَسُـــولِ اللَّـــهِ وَكَرِهُـــوٓاْ أَن يُجَٰهِـــدُوا بِأَمْوَٰلِهِـــمْ وَأَنفُسِـــهِمْ فِي سَـــبِيلِ اللَّـــهِ وَقَالُـــوا لَا تَنفِـــرُوا فِي الْحَـــرِّ قُـــلْ نَـــارُ جَهَنَّـــمَ أَشَـــدُّ حَـــرًّا لَّـــوْ كَانُـــوا يَفْقَهُـــونَ(٨١)فَلْيَضْحَكُـــوا قَلِيـــلًا وَلْيَبْكُـــوا كَثِـــيرًا جَـــزَآءَ بِمَـــا كَانُـــوا يَكْسِـــبُونَ(٨٢) سُـــورَةُ التَّوبَـــة: ٨٢-٨١)

ژبـــاړه: خوشـــحاله دي دا پاتـــې کـــړی شـــوي (د جهـــاد نـــه) پـــه کېناســـتلو خپلـــو وروســـته د رســـول (صلـــی اللـــه علیـــه وســـلم) د اللـــه نـــه او بـــده گڼـــي دوی دا چـــې جهـــاد وکـــړي پـــه مالونـــو خپلـــو او پـــه ځانونـــو خپلـــو پـــه لاره د اللـــه جـــل جلالـــه کـــې او وايـــي دوی مـــه اُوځـــئ پـــه گرمـــۍ کـــې، اُووايـــه اُور د جهنـــم ډېـــر ســـخت دی پـــه گرمـــۍ کـــې کـــه چیـــري دوی پوهېدلـــی (نـــو داســـې بـــه يـــې نـــه کولی)(٨١)نـــو اودې خانـــدي دوی لـــږه مـــوده او اودې ژاړي ډېـــره مـــوده، بدلـــه ورکېـــدی شي پـــه ســـبب د هغـــې عملونـــو چـــې دوی يـــې کـــوي.

وَعَـــنْ سَـــلَمَةَ بْـــنِ نُفَيْـــلِ الْكِنْـــدِيِّ رَضِيَ اللَّـــهُ عَنْـــهُ قَـــالَ: كُنْـــتُ جَالِسًـــا عِنْـــدَ رَسُـــولِ اللَّـــهِ صَـــلَّى اللَّـــهُ عَلَيْـــهِ وَسَـــلَّمَ فَقَـــالَ رَجُـــلٌ يَـــا رَسُـــولَ اللَّـــهِ أَذَالَ النَّـــاسُ الْخَيْـــلَ وَوَضَعُـــوا السِّـــلَاحَ وَقَالُـــوا لاَ جِهَـــادَ قَـــدْ وَضَعَـــتِ الْحَـــرْبُ أَوْزَارَهَـــا، فَأَقْبَـــلَ رَسُـــولُ اللَّـــهِ صَـــلَّى اللَّـــهُ عَلَيْـــهِ وَسَـــلَّمَ بِوَجْهِـــهِ وَقَـــالَ: كَذَبُـــوا: الآنَ الآنَ جَـــاءَ الْقِتَـــالُ، وَلاَ يَـــزَالُ مِـــنْ أُمَّتِـــي أُمَّـــةٌ يُقَاتِلُـــونَ عَـــلَى الْحَـــقِّ، وَيُزِيـــغُ اللَّـــهُ لَهُـــمْ قُلُـــوبَ أَقْـــوَامٍ وَيَرْزُقُهُـــمْ مِنْهُـــمْ حَتَّـــى تَقُـــومَ السَّـــاعَةُ وَحَتَّـــى يَـــأْتِيَ وَعْـــدُ اللَّهِ، وَالْخَيْـــلُ مَعْقُـــودٌ فِي نَوَاصِيهَـــا الْخَـــيْرُ إِلَى يَـــوْمِ الْقِيَامَـــةِ. (والحديـــثُ صحيـــح رواه أحمـــد، والنســـائي والطـــبراني)

ژباړه: د ســـلمه بـــن نفيل الکنـــدي رضي اللـــه عنـــه څخـــه روايـــت دی وايـــي: زه د رســـول اللـــه صلـــی اللـــه عليـــه وســـلم سره ناســـت وم، يـــو ســـړي وويـــل: ای د اللـــه جـــل جلالـــه رســـوله! خلکو اســـونه ذليلـــه کـــړل او وســـلې يـــې کېښـــودې؛ وايـــي جهـــاد نشـــته، جنـــگ پـــای تـــه ورســـېده، نـــو رســـول اللـــه صلـــی اللـــه عليـــه وســـلم ورتـــه مـــخ راوړوه او ورتـــه يـــې وويـــل: دوی درواغ وايـــي: جنـــگ خـــو اوس اوس راغـــی، زمـــا د اُمـــت يـــوه ډلـــه بـــه همېشـــه د حـــق پـــه ملتيـــا کـــې جنگېـــږي، اللـــه جـــل جلالـــه بـــه ورته د خلکـــو زړونـــه کاږه کـــړي او لـــه همدغو قومونـــو څخـــه بـــه ورتـــه رزق ورکـــړي تـــردې چـــې قيامـــت قائـــم او د اللـــه جل جلالـــه وعـــده راشي، د آســـونو پـــه تندو کـــې د قيامـــت د ورځـــې پـــورې خيـــر تـــړل شـــوی دی.

مســـلمانانو وروڼـــو! مونـــږ او تاســـې ځانتـــه مســـلمانان وايـــو او د اســـلام دعـــوىٰ کـــوو الحمدللـــه.

نـــو اوس بـــه داســـې نـــه کـــوو چـــې اســـلام کـــې زمونـــږ او ستاســـې د خوښـــې او خواهـــش کـــوم احـــکام وي او تکليـــف راتـــه پکـــې نـــه وي پـــه هغـــې عمـــل کـــوو، او کـــوم چـــې بيـــا زمونـــږ د خوښـــې نـــه وي او د خواهـــش خـــلاف مـــو وي، نـــو بيـــا يـــې شـــاته غورځـــوو او عمـــل پـــرې نـــه کـــوو، اللـــه جـــل جلالـــه قـــرآن کريـــم کـــې فرمايـــي: يَٰٓأَيُّهَا الَّذِيـــنَ ءَامَنُـــوا ادْخُلُـــوا فِي السِّـــلْمِ كَآفَّـــةً وَلَا تَتَّبِعُـــوا خُطُـــوَٰتِ الشَّـــيْطَٰنِ إِنَّـــهُ لَكُـــمْ عَـــدُوٌّ مُّبِـــينٌ. (سُـــورَةُ البَقَـــرَة : ٢٠٨)

ژبـــاړه: ای ايـــمان والـــو! داخـــل شـــئ په اســـلام کـــې پـــوره او مـــه روانېـــږئ د قدمونـــو د شـــيطان پســـې، يقينـــاً هغـــه ستاســـو لپـــاره دښـــمن دی ښـــکاره.

مفسريـــن د دې آيـــت د شـــان نـــزول پـــه بـــاره کـــې وايـــي:

چـــې دا آيتونـــه اصـــل کـــې پـــه بـــاره د بعـــض مســـلمانانو کـــې نـــازل وو چې د يهودیانـــو نـــه وو، او د اســـلام نـــه پـــس بـــه يـــې د خـــالي (د شـــنبې) د ورځـــې تعظيـــم کولـــو، او بعـــض خوراکونـــه به يـــې بـــد گڼـــل لکـــه د اُوښـــانو غوښـــې وغيـــره....

دارنگـــه دا بـــه يـــې ويـــل چـــې کـــه مونږ تـــورات لولـــو، نـــو دا به څنگـــه وي؟

نـــو اللـــه جـــل جلالـــه دا آيتونـــه نـــازل کـــړل چـــې دا خـــو پـــوره اســـلام نـــه دی، هـــر کلـــه چـــې تـــا اســـلام راوړو، نـــو بيـــا بـــه پـــوره پـــه دې عمـــل کـــوئ.

همدارنگـــه پـــه منافقانـــو هـــم رد دی چـــې پـــه بعـــض ديـــن عمـــل کـــوي او پـــه بعـــض يـــې نـــه کـــوي.

دعـــوىٰ د ايـــمان او اســـلام کـــوي، او کله چـــې بـــه موقعـــه د جهـــاد راغلـــه نـــو بيـــا بـــه پټيـــدل.

نـــو اللـــه جـــل جلالـــه فرمايـــي: چـــې په پـــوره اســـلام کـــې ظاهـــراً او باطنـــاً دا خـــل شـــئ او د اللـــه جـــل جلالـــه حکـــم چـــې راشي نـــو هغـــې تـــه تيارېـــږئ.

نـــو د اللـــه جـــل جلالـــه د عبادتونـــو څخـــه يـــو هـــم جهـــاد في ســـبيل اللـــه تعالـــىٰ دی، چـــې کلـــه فـــرض کفايـــه يـــې وي او کلـــه فـــرض عيـــن.

نـــو پـــه نـــن وخـــت کـــې پـــه مســـلمانانو بانـــدې جهـــاد د اللـــه جـــل جلالـــه پـــه لاره کـــې د اللـــه جـــل جلالـــه او د مؤمنانـــو د دښـــمنانو سره کـــول فـــرض عيـــن دی، اللـــه جـــل جلالـــه فرمايـــي: كُتِـــبَ عَلَيْكُـــمُ الْقِتَـــالُ. (سُـــورَةُ البَقَـــرَة: ٢١٦)

ژبـــاړه: فـــرض کـــړی شـــوی دی پـــه تاســـو بانـــدې جنـــگ (د کافرانـــو سره).

يعنـــې پـــه دې اُمـــت قتـــال في ســـبيل اللـــه تعالـــىٰ فـــرض دی، چـــې موقعـــه يـــې راشي نـــو انســـان بـــه پکـــې ځـــان ضرور اســـتعمالوي بعـــون اللـــه تعالـــىٰ، لکـــه نـــن چـــې يـــې وخـــت او موقعـــه ده إن شـــآءالله تعالـــىٰ.

بـــل ځـــای کـــې اللـــه جـــل جلالـــه فرمايـــي: قَٰتِلُوهُـــمْ يُعَذِّبْهُـــمُ اللَّـــهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِـــمْ وَيَنصُرْكُـــمْ عَلَيْهِـــمْ وَيَشْـــفِ صُـــدُورَ قَـــوْمٍ مُّؤْمِنِـــينَ. (سُـــورَةُ التَّوبَـــة: ١٤)

ژبـــاړه: جنـــگ وکـــړئ د دوی سره عـــذاب بـــه ورکـــړي دوی تـــه اللـــه جـــل جلالـــه پـــه لاســـونو ستاســـو او وبـــه شرمـــوي دوی لـــره او مـــدد بـــه وکـــړي ستاســـو سره پـــه مقابلـــه د دوی کـــې او يخـــې به کـــړي ســـينې د قـــوم مؤمنانـــو.

يعنـــې اللـــه جـــل جلالـــه خـــو قـــادر دی چـــې يـــو آن (لمحه) کـــې د دين دښـــمنان هـــلاک کـــړي، لېکـــن اللـــه جـــل جلالـــه داســـې ونکـــړل بلکـــې د جهـــاد حکـــم يـــې وکـــړو، پـــدې کـــې ډېـــر فوائـــد دي، لکـــه اللـــه جـــل جلالـــه د خپلـــو مؤمنانو بندگانـــو پـــه لاســـونو دې مشرکانـــو

ته سزا ورکول غواړي، دوی رسوا کول غواړي، او د دوی په خلاف د مؤمنانو مدد کوي او کافرانو ته ښودل غواړي چې الله جل جلاله د مؤمنانو بندګانو سره وي.

نو الله جل جلاله د خپلو مسلمانانو بندګانو په لاسونو دا کافران ختموي او د دوی زړونه یخول غواړي، او د دوی زړونو غصه ختمول غواړي، ځکه چې دوی ته د دې مشرکانو د لاسونو نه ډېر تکلیفونه رسېدلي دي، او لوی غمونه یې پورته کړي دي، کله چې په خپلو لاسونو سره دوی قتل کړي نو د دوی د زړونو بوج به سپک شي.

بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ. (سُورَةُ التَّوبَة: ۲۹)

ژباړه: جنګ کوئ د هغه کسانو سره چې ایمان نه لري په الله جل جلاله او په ورځ وروستنۍ او حرام نه ګڼي هغه څه چې حرام کړي دي الله جل جلاله او رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه او تابعداري نه کوي د دین حق، د هغه کسانو نه چې ورکړې شوی دی ورته کتاب تردې چې ورکړي دوی جزیه (ټیکس) په خپل لاس او دوی به ذلیله وي.

بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ. (سُورَةُ التَّوبَة: ۱۲۳)

ژباړه: ای ایمان والو! جنګ وکړئ د هغه کسانو سره چې نږدې دي تاسو ته د کافرانو نه او مونده دې کړي په تاسو کې سختي او پوهه شئ چې بېشکه الله جل جلاله ملګری د متقیانو دی.

یعنې د کافرانو سره د جهاد په کولو کې هېڅ قسم نرمي ښکاره نه کړئ، ورنه د دې خطرناکې نتیجې راوتلی شي.

مسلمان به د خپل مسلمان ورور لپاره نرم او د کافرانو لپاره سخت وي.

امام رازي رحمه الله لیکي: چې دا "غِلْظَةً" به په دوه حالتونو کې کولی شي: یو په باب د دعوت کې وي، په حجت او دلیل قائمولو سره په دوی باندې، او یا په قتال او جهاد کې وي، او هر چې بیع شراء ده، یا ناسته او خوراک، څښاک دی نو هغې کې به سختي نشي کولی. (الکبیر)

نو ای مسلمانانو ورونو!

که قرآن کریم ستاسې کتاب وي او ستاسې لپاره راغلی وي؛ نو د جهاد في سبیل الله تعالیٰ د بره ذکر شویو آیتونو په شمول د نورو آیتونو سره تاسې څه کوئ؟

څه وایئ! چې جهاد في سبیل الله تعالیٰ به کوئ کنه؟

د اسلامي خلافت د مؤمنانو مجاهدینو ملګرتیا به کوئ کنه؟

د اسلامي نظام قرآن او سنت د نفاذ او حاکمیت لپاره به مبارزه او سرښندنه کوئ کنه؟

دا خو ستاسې کتاب دی او دا د اسلام کتاب، دا هغه کتاب دی چې نه پکې باطل لپاره ځای شته او نه کوم نقصان لري، د حکیم او حمید ذات له لوري راغلی کتاب دی او تاسې یې د شپې او د ورځې د لوستلو دعوه کوئ.

نو ای د اسلام دعویدارانو! تاسې ته وایم:

چې جهاد د الله جل جلاله په لاره کې نه کول د عذاب ستر لامل دی، الله جل جلاله فرمايي: قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ. (سُورَةُ التَّوبَة :۲۴)

ژباړه: اووایه! که چیرې وي پلاران ستاسو او ځامن ستاسو او وروڼه ستاسو او بیبیانې ستاسو او قبیله ستاسو او هغه مالونه چې ګټلي وي تاسو هغې لره او تجارت چې ویرېږئ تاسو د کوټه کېدو د هغې نه او ځایونه چې خوښوئ تاسو هغې لره ډېر محبوب وي تاسو ته د الله جل جلاله نه او د رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه نه او د جهاد نه په لاره د هغه کې نو انتظار کوئ تردې چې رابه ولي الله جل جلاله فیصله خپله، او الله جل جلاله توفیق د هدایت نه ورکوي قوم نافرمانه ته.

پدې آیت کریمه کې زجر او اخطار دی.

درې عذابونه یې بیان کړي دي هغه خلکو ته چې د الله جل جلاله په مقابله کې او د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد په مقابله کې خپل اهل وعیال او خپلوانو ته د هغوی د کفر او شرک باوجود ترجیح ورکوي.

د الله جل جلاله او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د حقیقي محبت تقاضا دا ده چې د هغه محبت د هر شي په محبت باندې مقدم کړی شي؛ پلار وي که ځوی، ورور وي که ښځه، یا د خاندان یو فرد، یا مال او دولت چې هغه سړی په خپل مشقت سره حاصلوي یا قسماقسم مالونه د تجارت یا اُوچت او دنګ محلات او کوټې د دې ټولو د الله جل جلاله او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) په مقابله کې د مؤمن په زړه کې هېڅ حیثیت نه وي.

نو د چا په نیز چې دا څیزونه د الله جل جلاله او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) او د جهاد في سبیل الله تعالیٰ نه زیات محبوب وي هغه به فاسق او په خپل حق کې ظالم وي.

او حدیث کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ. (رواه مسلم كتاب الإمارة باب ذَمِّ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ)

ژباړه: ابوهریره رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې مړ شي پداسې حال کې چې غزا ونکړي او نه خپل ځان سره د هغې تذکره وکړي نو دی به د منافقت په یوه برخه مړ وي.

نو مسلمانانو ورونو!

دا سخت، سخت وعیدونه مونږ او تاسې ته متوجې دي، چې ښه پوهېږو چې قیامت او د آخرت هغه سخت حالات راتلونکي دي، نو بیا ولې غفلت کوئ؟

ولې بیا جهاد في سبیل الله تعالیٰ نه کوئ؟

ولې بیا د اسلامي نظام قرآن او سنت د نفاذ او حاکمیت لپاره خپلې توري مو له تیکو څخه نه راوباسئ؟

ولې بیا د خپلو اسیرو ورونو، خویندو د آزادۍ لپاره د حي الجهاد غږ نه پورته کوئ؟

ولې بیا له خپلو خلو څخه مو د حق آواز نه پورته کوئ، او خولې مو د حق په دفاع کې چوپ نیولې دي؟

ولې د خپلو مؤمنانو ورونو سره د اسلامي خلافت له مورچله د کفارو، مرتدینو، مشرکینو په خلاف نه جنګېږئ، او له مؤمنانو موحدینو مجاهدینو سره نه یو ځای کېږئ؟

آیا تاسې نه ګورئ! چې نن د نړۍ ټول کفار او طواغیت د اسلامي خلافت په مؤمنانو مجاهدینو باندې راجمعه شوي او د دوی په خلاف له یو مورچله جنګېږي، آیا دا مؤمنان مجاهدین ستاسې ورونه نه دي؟

په الله جل جلاله سوګند، که جهاد ونکړئ، د مؤمنانو موحدینو ملګرتیا ونکړئ، د خپلو اسیرو مؤمنانو ورونو او مؤمناتو خویندو د وا معتصما غږ ته لبیک ونه وایئ، او د خپلو بارودو په لمبو وریته، وریته، ټوټه، ټوټه شویو سپین ږیرو، ځوانانو، ماشومانو او ښځینه وو پوښتنه له دې کفارو، مرتدینو، مشرکینو څخه ونکړئ، او د اعلاء کلمة الله لپاره او د کفر او شرک د مغلوبیت لپاره د جهاد في سبیل الله تعالیٰ سنګرونو ته راونه دانګئ، او د دنیا ژوند ته په آخرت غوره والی ورکړئ؛ نو په یاد ولرئ چې الله جل جلاله به سخت عذاب درکړي، ځکه الله جل جلاله فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ. (سُورَةُ التَّوبَة : ۳۸)

ژباړه: ای ایمان والو! څه وجه ده تاسو لره کله چې وویلی شي تاسو ته اووځئ په لاره د الله جل جلاله کې، نو درانه شئ تاسو ځمکې ته (دنیا ته) آیا خوشحاله یئ تاسو په ژوند دنیوي په بدله د آخرت کې، پس نه دی سامان د ژوند دنیوي په مقابله د آخرت کې مګر لږ دی.

پدې آیت کې رد دی په منافقانو چې د جهادونو نه وروسته پاتې کېږي، او ځینې محققینو ویلي دي: ((فِيْهِ رَدٌّ عَلَىٰ بَعْضِ الْمُؤْمِنِيْنَ الْمُتَثَاقِلِيْنَ))

پدې آیت کې رد دی په بعض هغه مؤمنانو هم چې هغوی د جنګونو نه سُستي کوي، اګر که پدې کار سره انسان کافر نه حسابېږي، لېکن ګناه ضرور ده لکه بره حدیث چې د ابوهریره تیر شو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې مړ شي پداسې حال کې

چې غزا ونکړي او نه خپل ځان سره د هغې تذکره وکړي نو دی به د منافقت په يوه برخه مري.

وروروسته الله جل جلاله په (۳۹) کې فرمايي: إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.(سُورَةُ التَّوبَة : ۳۹)

ژباړه: که اونه وتلئ تاسو عذاب به درکړي تاسو ته عذاب دردناک او په بدل کې به راولي بل قوم غير ستاسو نه، او ضرر نشئ ورکولی تاسو هغه ته هيڅ شی او الله جل جلاله په هر شي قدرت لرونکی دی.

يعنې پدې آيت کريمه کې هغه خلکو ته چې د تبوک د غزا نه پاتې شوي وو په خاص توګه سخت وعيد، او په عمومي توګه سره هغه ټولو خلکو ته چې د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد في سبيل الله تعالىٰ نه وروسته پاتې کېږي.

په احاديثو کې دي چې کوم قوم جهاد پرېږدي الله جل جلاله به يې ذليله کړي. او د چا چې د جهاد وس کېږي او نه وځي نو الله جل جلاله به عمومي سزاګانې ورکړي.

او همدارنګه بل حديث دی: ابو هريره رضي الله عنه فرمايي: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَقِيَ اللَّهَ وَلَيْسَ لَهُ أَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَقِيَ اللَّهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ. (رواه الترمذي ۳/۱۰۷، ابواب الجهاد، وابن ماجه کتاب الجهاد ۲/۹۳۳، الحاکم ۷۹)

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې الله جل جلاله ته په داسې حال کې حاضر شي چې د جهاد کوم اثر پرې نه وي نو هغه به د الله جل جلاله سره په داسې حال کې ملاو شي چې په هغه کې به نيمګړتيا او نقصان وي (دين کې به يې نقصان وي).

او همدارنګه بل حديث دی: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللَّهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ. (ابوداود کتاب الجهاد باب كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ ۳/۲۲، و ابن ماجة کتاب الجهاد باب التَّغْلِيظِ فِي تَرْكِ الْجِهَادِ ۲/۹۲۳ و إسناده حسن)

ژباړه: د أبي أمامة رضي الله عنه نه روايت دی: نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: کوم سړی چې جهاد ونه کړي او نه يو مجاهد ته د جهاد سامان ورکړي او نه يې د مجاهد د بال بچ نګراني وکړه نو د قيامت نه مخکې به پرې الله جل جلاله عذاب نازل کړي.

نو مسلمانانو ورونو!

د دې حديث په شمول د نورو حديثونو څخه دا معلومه شوه چې هر مسلمان باندې لازم دی چې جهاد کې څه نه څه برخه واخلي، او که محاذ (جنګ) ته د تللو طاقت نه لري نو يو مجاهد ته دې د وسلې، بارود يا لارې کرايه وغيره ورکړي، او که دا هم نشي کولی نو د مجاهد د کور او بچو خدمت دې وکړي، او که دا يو کار يې هم ونه کړو نو د الله جل جلاله عذاب او مصيبتونو ته دې ځان کلک کړي، (يا الله جل جلاله موږ ستا د عذاب او مصيبتونو نه پناه غواړو او ته موږ ته ترينه نجات راکړې).

نو مسلمانانو ورونو! الله جل جلاله د قتال امر کوي چې کفر او شرک ختم او پر ځای اسلامي نظام قرآن او سنت راشي، الله جل جلاله فرمايي: وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ . (سُورَةُ الأنفَال : ۳۹)

ژباړه: او جنګ کوئ د دوی سره تردې چې پاتې نشي هيڅ شرک او شي دين ټول د الله جل جلاله.

يعنې الله جل جلاله مسلمانانو ته فرمايي چې: ای مسلمانانو! تاسو د کافرانو او مشرکانو سره جنګ کوئ تردې پورې چې شرک ختم شي، يا د کافرانو د طرف نه د مسلمانانو د ازمېښت/امتحان دَور ختم شي، او د يو الله جل جلاله عبادت په ټوله نړۍ عام شي، د هغه نه غير د هيچا عبادت ونکړی شي.

بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ . (سُورَةُ التَّوبَة : ۵)

ژباړه: نو وژنئ مشرکان کوم ځای کې چې مونده کړئ هغوی لره اونيسئ هغوی لره او بند کړئ هغوی لره او کېنئ هغوی ته په هره مورچه کې.

نو د الله جل جلاله په لاره کې جهاد کول په عباداتو کې غوره عبادت دی، او د دې عبادت څخه ځانونه شاته، شاته مه کوئ او د مؤمنانو مجاهدينو سره يو ځای د جهاد سنګرو ته راودانګئ بعون الله تعالىٰ، عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په يو لښکر د مجاهدينو باندې مشر او امير عبدالله بن رواحه رضي الله عنه مقرر کړو، چې دغه ورځ د جُمعې وه.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: عبدالله بن رواحه رضي الله عنه خپل ملګري مخکې جهاد ته ولېږل او دی پخپله پاتې شو چې زه به د جُمعې لمونځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وکړم، بيا به بيرته د مجاهدينو سره يو ځای شم، هر کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ده لره اوليدلو نو ورته يې وفرمايل: ای عبدالله بن رواحه (رضي الله عنه)! څه شي منع کړې چې ته د خپلو ملګرو سره سحر وختي تللی وی؟

هغه وويل: ما اراده وکړه چې تاسو سره به د جُمعې لمونځ اوکړم بيا به د هغوی سره يو ځای شم،

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: لو انفقت ما فی الأرض جمیعا ما أدرکت غدوتهم.

ژباړه: ای ابن رواحه! که ته هغه څه چې په ځمکه باندې دي خرچ کړې نو د خپلو ملګرو هغه ثواب به هېڅ کله را لاندې نه کړې کوم چې په سَحر وخت کې په وتلو باندې د دوی شویدی. (البدایة والنهایة ۴/۲۴۲)

یعنې عبدالله بن رواحه رضي الله عنه چې هسې هم نه وو پاتې شوی، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې د لمونځ اراده کړې وه چې څومره فضیلت لري او بیا یې نیت هم د جهاد ته د تللو کړی وو، او بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته څومره ضمني ملامتیا وویله!!

نو د هغه په نوم مسلمانانو چې ځانته مسلمانان وایي او د اسلام دعویٰ کوي چې په زړه کې یې د جهاد جذبه هم نه وي او نه یې پېژني نو د هغوی به څه حال وي؟ والله المستعان.

کوم خلک چې جهاد في سبیل الله تعالیٰ د دې وجې نه نه کوي، چې جهاد کې مرګ دی، جهاد کې فقر، غربت دی دا هسې شیطان دهوکه کړې دي او شیطان ورته خپل عملونه ښائسته کړي دي، علي رضي الله عنه فرمایي: الجهاد فی الله باب من أبواب الجنة و من ترك الجهاد فی سبیل الله ألبسه الله الذلة وشمله البلاء و دیث بالصغار و سیم الخسف و منع النصف. (شفاء الصدور بحواله مشارع الأشواق ۱/۱۱۰)

ژباړه: د الله جل جلاله لپاره جهاد کول د جنت د دروازو نه یوه دروازه ده، او چا چې جهاد في سبیل الله تعالیٰ پرېښودلو نو الله جل جلاله به ورته د ذلت لباس واغوندوي او مصبیتونه به پرې عام شي او ذلیله کېدو سره به ظلم برداشت کوي او د انصاف نه به محروم وي.

نو د جهاد في سبیل الله تعالیٰ نه کوونکو مسلمانانو وروڼو!

د دې سخت، سخت وعیدونو نه د بچاو لپاره د نړیوال اسلامي خلافت سره یو ځای شئ او د امیرالمؤمنین وخلیفة المسلمین الشیخ المجاهد ابوالحسن الهاشمي القریشي حفظه الله تعالیٰ سره بیعتونه وکړئ.

والله العظیم، جهاد نه کول او د بستر او د پالنګ ژوند غوره کول دا د ذلیله کېدو نښه ده.

ابوبکر صدیق رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس خطبه ولوستله او داسې یې وویل: ما ترك قوم الجهاد فی سبیل الله الا ذلهم الله وما ترك قوم الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر الا عمهم الله بعقاب. (بحواله شفاء الصدور مشارق الأشواق ۱/۱۰۷)

ژباړه: ابوبکر صدیق رضي الله عنه یو وارې خطبه لوستله نو د ژړا له وجې نه په سلګو شو او وی فرمایل: ای خلکو! ما یو کال مخکې په همدې میاشت کې همدې منبر باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا فرمان واورېدلو: چې کوم قوم جهاد پرېښودلو الله جل جلاله هغوی ذلیله کوي، او کوم قوم چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېښودلو نو الله جل جلاله به یې په عمومي عذاب مبتلا کوي.

بل روایت د طبراني کې راځي: کوم قوم چې جهاد پرېښودلو نو الله جل جلاله به پرې عُمري یعنې دائمي عذاب مقرر کړي.

نو د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د دې حدیث نه معلومه شوه چې څوک جهاد پرېږدي نو هغه به الله جل جلاله ذلیله کوي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې حدیث مصداق تاسو ای آورېدونکو او لوستونکو اوګورئ! چې مسلمانان نن په ټوله نړۍ کې څومره ذلیله دي.

همداسې طالب ملېشې اوګورئ! چې جهاد یې پرېښودلو څومره الله جل جلاله ذلیله کړل، د کفر او ارتداد په دروازه ورننوتل.

اوس د نړۍ کفارو ته سوال زاري کوي چې مونږ په رسمیتو وپېژنئ، مونږ سره دا مرسته وکړئ او مونږ سره هغه مرسته وکړئ.

د الله جل جلاله قانو یې بدل کړو او پر ځای یې وضعي او کفري قانون رامخې ته کړو.

حدود یې تر خپو لاندې کړل، فسق، فجور ته یې د تیر اشرف غني نظام نه ورته طالب ښه لاره جوړه کړه، همداسې نورې ډېرې کړنې چې د قرآن او سنت په خلاف یې طالب ملېشې ترسره کوي، دا ټوله وجه د دې ده چې جهاد یې پرېښودلو او د الله جل جلاله او د مؤمنانو د دښمنانو سره یې دوستي شروع کړه، نو اوس اوګورئ چې الله جل جلاله څومره ذلیله او رسوا کړل؟

همداسې الله جل جلاله د منافقانو په اړه فرمايي: وَإِذَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ ءَامِنُوا بِاللَّهِ وَجَٰهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ اسْتَـْٔذَنَكَ أُولُوا الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُن مَّعَ الْقَٰعِدِينَ(٨٦)رَضُوا بِأَن يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ.(سُورَةُ التَّوبَة: ٨٧-٨٦)

ژباړه: او کله چې نازل کړی شي یو سورة (پدې مضمون) چې ایمان راوړئ په الله جل جلاله او جهاد اوکړئ په ملګرتیا د رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه کې، (نو) اجازه غواړي ستا نه طاقت والا خلک د دوی نه او وایي دوی چې پرېږده مونږ چې شو سره د کېناستونکو نه(٨٦)خوشحاله دي دوی پدې کې چې شي د پاتې کېدونکو ښځو سره، او مهر وهلی شویدی په زړونو د دوی نو دوی نه پوهېږي.

یعنې پدې آیتونو کې د جهاد نه وروسته پاتې کېدونکو منافقانو په حالاتو باندې زیاته رڼا اچولی شي چې کله هم په قرآن کریم کې یو سورة نازلېږي چې په هغې کې حکم کېږي چې په الله جل جلاله ایمان راوړئ او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) سره جهاد وکړئ، نو مالداره منافقان د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اجازت غواړي، او د دروا‌غو عذر پېش کوي، او د ښځو او ماشومانو سره پاتې کېدل خوښوي.

نو د دوی د دې نفاق په وجه د دوی په زړونو مهر ووهلی شو او د دوی په عقلونو پردې پریوتې.

ای د جهاد في سبیل الله تعالیٰ څخه ناستو مسلمانانو! مونږ به ستاسو انتظار باسو، مونږ به انتظار باسو چې تاسو د د جهاد في سبیل الله تعالیٰ لپاره د نړیوال اسلامي خلافت د بریمن کاروان سره یو ځای شئ بنصرالله تعالیٰ، مونږ پدې خاطر انتظار باسو چې تاسو د خپل دین مرسته وکړئ او خپل بیرغ پورته کړئ، د (لاإله إلا الله، محمد رسول الله) بیرغ، مونږ انتظار باسو چې تاسو دغه په کور راتلونکی دښمن وتمبوئ او یوه د دوه نیکیو او غوره پایلو حاصله کړئ، یا فتح او کامیابي او یا شهادت، که چیرته ژوندي پاتې شوئ د عزت ژوند به وي، که مړه شوئ نو شهیدان به یئ، "نو دغه دی جنت دی چې رانږدې شوی دی، ډېر ښائسته دی اوبه یې خوږې دي.

او که سره له دومره د قرآن او سنت د سخت، سخت وعیدونو (دلائلو) باوجود هم جهاد نه کوئ نو بیا خپلو ښځو ته لاره خلاصه کړئ چې جهاد ته ولاړې شي، لکه چې ابن قیم رحمه الله د خپلې زمانې خلکو ته وايي: ((ای خلکو! د جنګ پل تاوشوی، د جهاد چیغه پورته شوې، د اسمان دروازې خلاصې دي، که تاسو د جنګ شاسواران نه یاست، نو بیا ښځو ته لاره خلاصه کړئ چې د دغه جنګ پل وچلوي او تاسو ولاړشئ د خوشبو مجمر او د رانجو ننجرومې راوخلئ، ای د پټکو او ګیرو باوجود ښځو(!))).

یا الله جل جلاله مونږ ستا د ملاقات پورې د جهاد په لاره مضبوط کړه.

یا الله جل جلاله د ناستو مسلمانانو زړونه جهاد في سبیل الله تعالیٰ ته خلاص کړه.

یا الله جل جلاله ته ورته جهاد او شهادت محبوب او ته یې د دوی په زړونو کې ښائسته کړه.

یا الله جل جلاله ته ورته بزدلي او په کور کېناستل نا خوښه کړه او ته یې د دوی د زړونو څخه وباسه. آمِین ثُمَّ آمِین یاربَّ العَالَمِین.

او په آخره کې له الله جل جلاله څخه غواړم چې مونږ ټول مسلمانان وروڼه او خویندې د یوه اسلامي خلافت او یوه بیرغ لاندې سره راټول کړي ترڅو د یوه صف په بڼه د دښمنانو په مقابل کې جګړه وکړو بعون الله تعالی.

هغه څه چې ما وویل که صحیح وي نو د الله جل جلاله لطف او رحمت یې بولم او که کوم ځای کې له ما څخه غلطي شوي وي نو دا غلطي به له ما څخه شوي وي، د ټولو ورتګ د همغه لوی او لایزال رب په طرف دی.

وَاللهُ أعْلَمْ، وَصَلَی اللهُ تَعَالیٰ علی خَیْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّ عَلی آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِیْن.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.

اخوکم والعقیدة: عبدالله سعید

وَمَا عَلَيْنَآ إِلَّا الْبَلَٰغُ الْمُبِينُ

مشرکان په دارالندوه کې که عملاء په لویه جرګه کې

د مومنانو په خلاف د مشرکانو داسې غونډې نوې نه دي بلکې د رسول الله صل الله علیه وسلم او د لارویانو په خلاف یې مشرکانو داسې ډېرې غونډې او ترونونه کړي دي، او بیا نو د تاریخ په هر پړاو کې د مشرکینو دا کړنې تکراریږي او په دې وروستۍ پیړۍ کې په ځانګړې ډول د افغانستان په تاریخ کې د کفارو له لورې تپل شویو دیموکراتو، طاغوتي، جمهوري او نورو ډول ډول کفري نظامونو ته د مشروعیت ورکولو په هدف د علماوو او قومي مشرانو په نوم د عملاوو او قومي شرمخانو ډېرې غونډې رابلل شوي .

لرې نه ځو ډاکتر نجیب هم دغسې عملاء او قومي شرمخي رابللي و، تر ځو د هغه واکمن کمونسټ حکومت ته مشروعیت ورکړي او ولس ته یې د یو اسلامي نظام په نوم وروپیژني، له هغې را وروسته رباني هم دا هڅه کړې وه او بیا ورپسې په کندهار کې د طالبانو په لومړۍ واکمنۍ کې زر کسه عملاوو دا هڅه کړې وه چې د آی ایس آی په اوږو سپور امارت خلکو ته یو ازاد او خپلواک سل په سله شرعي نظام معرفي کړي، ورپسې د امریکایي طیارو په سیوري کې د ارګ په ګدۍ نصب شوي کرزي هم د لویې جرګې په نامه داسې د عملاوو په ناستو کې خپل دیموکراتیک نظام اسلامي باله او همدغه عملاوو هغه شنه دیموکراسي مشروع او الهي نظام ګڼله ورپسې اشرف غني هم خپل کفري جمهوریت د دغه راز درباري ملایانو په فتواوو شرعي نظام بللو، خو په همدې سېمه او همدې خېمه کې د اشرف غني له لورې راټولو شویو درباري ملایانو د اشرف غني طاغوتي نظام شرعي نظام وباله او د هغه نظام په خلاف یې جګړه ناروا ګڼله .

او دادی څو کلونه وروسته همغه تاریخ تکراریږي، همغه درباري ملایان چې څو کاله وړاندې یې د تور، شین، زرغون بیرغ په سوري کې د کرزي د عکس لاندې هغه چټله دیموکراسي شرعي نظام ګڼله او د دغه دیموکراسۍ څخه یې دفاع کوونکي مرتد ځواکونه تشویقول .

همدغه درباري ملایان په همغه کابل او همغه جمهوریت ته د مشروعیت ورکولو په خیمه کې سره راټول شول او دا ناکامه هڅه یې وکړه چې د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې ډیزاین شوې دیموکراسي چې طالب مشرکینو ته د اسلام په نامه د تطبیق لپاره سپارل شوې په خلکو د یو اسلامي نظام په نوم ومني .

دې د عملاوو جرګې لکه څنګه چې پرون له بهر څخه په امریکایي طیاره کې را استول شوی کرزی فاتح ګاڼه او هغه ته د امریکا له لوري د تطبیق لپاره ورسپارل شوې دیموکراسي د شرعي نظام په نوم تسلیم کړه دغسې یې نن هم د امریکا له استخباراتي هډې قطر څخه په فوځي طیاره کې کندهار ته د طالب مشرانو را انتقال شوې نانځکې یې فاتحان وبلل او په قطر کې د سي آی ای او آی ایس آی له لورې په یوه نوې بڼه طرحه شوې دیموکراسي یې په همدې غونډه کې د شریعت په نامه ومنله .

په تش نومونو نه یو نظام شرعي ګرځېدای شي او نه د دغه راز درباري ملایانو له غټو خېټو راوتلې بې دلیله فتواوې داسې اسلام نما نظامونه اسلامي کولای شي .

اوس نو ماشومان هم په دې پوهیږي چې آی آیس آی په څومره هنر د امریکایانو له لوري ورسپارل شوې پروژه تر دې ځایه راورسوله، ټول خلک لګیا دي عملاً دا ډرامه ننداره کوي چې سناریو لیکونکي او ډاریکټران یې د (cia او isi) جنرالان او ممثلین یې د زندانونو په نامه ددغه استخباراتي شبکو په روزنتونو کې روزل شوي طالب مشران دي .

کله چې امریکا په خراسان ولایت کې د اسلامي دولت په مقابله کې له ماتې سره مخ شوه، د افغان مرتد حکومت په چوکاټ کې خپل دیموکراتیک ځواکونه یې هم وازمایل، د خپلې وفادارۍ آی ایس آی مهار شوې ملېشې طالب مشرکین یې هم وازمایل، خپله یې هم د زرګونو کروزونو او څو ډوله جنګي طیارو له لوري په زرګونو بمونو ورولو او ان تر ټولو ستر دویم اتومي بم د بمونو مور په غورځولو هم چې خپل هدف ته ونه رسیده نو په خپله استخباراتي هڅه کې یې د طالب مشرکینو پخواني سیاسي دفتر دروازې پرانستې او د ملا برادر په شمول یې د آی ایس آی په روزنتون کې روزل شوي مشران دوحې ته انتقال کړل، سي آی ای د آی ایس آی سره په مشوره غوښتل چې دا ځل نو لوبه بدله کړي او آی ایس آی ته نوې پروژه د تطبیق لپاره وسپاري.

ځکه یې نو لازمه وګڼله چې د اشرف غربي څخه د دیموکراتیک نظام واګې واخلي او همدغه نظام طالب مشرکینو ته وسپاري او لکه څنګه یې چې د اشرف غربي د حکومت مرسته کوله دغسې طالب مشرکین حمایه کړي، له یوه لوري د اشرف غني په حکومت کې فساد اوج ته رسیدلې و بل لور ته د دیموکراسۍ تطبیق برخه کې د هغوی لګښتونه له حده زیات و، نو ځکه یې لازمه وګڼله چې دا ځل د تیر دیموکراتیک حکومت پر ځای امارت صحنې ته راولي، مشري او واک به طالبانو سره وي خو د تیر حکومت مرتدین به ورسره ټول یوځای شي او په شریکه به په اتفاق سره د امریکا او نورو کفارو ګټې پالي او ساتي.

نو په کار وه چې لومړی اسلامي دولت په شریکه وځپي په قطر کې طالب مشرکینو سره تړون وشو چې تاسې به د افغان ځواکونو، پاکستاني فوځیانو سره یو ځای د امریکایي طیارو د ملاتړ په درلودو سره د اسلامي خلافت په خلاف جګړه وکړئ کله مو چې اسلامي دولت مات کړ نو تاسې ته به د کابل حکومت حواله شي، تاسې به په رسمیت وپیژندل شئ، د ملل ملحده (بین الملل) په آډانه کې به د کفر په ملت کې هم غړیتوب درکول شي، د نړۍ د ټولو کفري او طاغوتي ملکونو سفارتونه به هم په کابل کې درته خلاص کړو او ستاسې سفارتونه به په درسته نړۍ کې خلاص شي، له تاسې به ټوله کفري نړۍ راضي شي، سره ورونه به شو، هره اونۍ به د ۳۲ میلوني ډالرو کڅوړې هم درلیږو، تاسې ته به په یوه میاشت کې دننه د ټول افغانستان واک او ځواک تسلیم کړو، کابل ته به مو په خپلو امریکایي زغروالو ټانکونو سپاره داخل کړو، بیخي به درسره یو چیرته به هم ډز ونه شي مګر ستاسې د کشرخیلو د ذهنیت سازۍ لپاره به په یو نیم ځای کې سنمبولیکې جګړې طرحه کړو، تاسې به ښه په قدر چې سپین او تور پاجونه به مو تړلي وي له قطر څخه به مو په الوتکه کې کندهار ته او بیا کابل ته انتقال کړو، هلته به څوک وزیران، څوک ریسان او نور غټ غټ چاوراکي شئ، بیغمه خپله عیاشي کوئ، مزې کوئ، فقط چې کله مو اسلامي دولت مات کړ، نو چې بیا درڅخه سر اوچت نه کړي او داسې نظام به جوړ کړو چې خلک به یې اسلامي ګڼي خو تاسې پوهیږئ اسلامي نظام داسې وخت کې د تطبیق وړ نه دی، تاسې اول موږ ټولو کفارو سره ښه پوره همکاري وکړئ موږ به درسره هر ډول اقتصادي مرستې وکړو، چې ښه په پښو ودریدې خیر هر څو کلونه یې په بر کې ونیول موږ مو حمایه کوو بس داسې نظام چې هم په کې د اسلام ځینې احکام تطبیق شي خو الزامي به نه وي لکه پاکستان، سعودي، قطر یا زموږ نورو متحدو تش په نوم اسلامي هیوادونو کې چې کوم نظامونه دي داسې یو نظام به راجوړ کړو، دا به د شرعي نظام په نوم په نوې بڼه یو دیموکراتیک نظام وي خو په خلکو به یې د شرعي نظام په نوم ومنو، ددې نظام ټول مخالفین به اول جرأت ونه کړي چې داسې شرعي(!) نظام سره جنګ وکړي او که یې بیا هم دا کار کاوه نو ملاتړ او حمایه به یې نه وي، او بله له دې علاوه موږ ته نورې لارې چارې هم مالومې دي چې په خپل وخت سره به یې عملي کوو، ټولو ګاونډیانو ته نورې کفري نړۍ ته به د امن ضمانت ورکړئ، له خپلو لیکو به خپل بهرني مهاجر جنګیالي وشړئ.

د طالب چاوراکو په خوله کې هم اوبه راغلې او دا هر څه یې ورسره په پټو سترګو ومنل او تړون په عمل کې راغی چې ټول خلک ددې شاهدان دي چې څنګه طالب مشرکین له مختلفو لوریو د اسلامي دولت په تمکین په داسې حال کې راوختل چې له ډیره وخته د اسلامي دولت په تمکین امریکایي طیارو د ړندو بمبارونو او د چاپو په نامه د شبخونونو په لړ کې ورته زمینه سازي روانه کړې وه، بیا نو د اسلامي دولت په تمکین د پاکستان له لوري هم پاکستاني فوځیان، روافض او طالبان په یوه صف کې راواوښتل، دې لور ته هم د افغان حکومت د کمانډویانو او اربکیانو سره په شریکه له څو لوریو یې په داسې حال کې هجوم راوړ چې لومړې به امریکایانو د اسلامي دولت سنګرونه ښه کلک بمبار کړل نو وروسته به د احزابو دې لښکر ته د ورختلو امر وشو، چې له دې حقایقو خپله امریکایي جنرالانو هم پرده پورته کړې د ختیځ زون ټول ولسونه یې هم شاهد دي او ان شاء الله اینده کې به یې نور هم حقایق ډاګیز او رسنیز شي.

همغسې وشول، د اسلامي دولت تمکین سقوط شو، نړۍ د اسلامي دولت د تمکین په سقوط د طالب مرتدینو سره یو ځای جشنونه ونیول، ورپسې نو د ډرامې د بلې برخې د تطبیق وخت و چې هغه طالب مرتدینو ته د کړو خواریو ثمره ورکول او په اینده کې د اسلامي دولت د مخنیوي په هدف لا تقویه کول و، همغه و چې د یوې میاشتې څخه په لنډه موده کې امریکا د اشرف غني له دیموکراتیک حکومت څخه واک او ځواک واخیست او برادر غني ته یې وسپاره.

ددې تړون ټولې مادې یو پر بل پسې عملي کیدې او کیږي، کله چې طالبان واک ته ورسول شول، نو له لومړي سره ورسره کفارو خپله وفاداري ثابته کړه هر اړخیزې مرستې، سفرونه، تړونونه، او ډیپلوماتیکې اړیکې پیل شوې، خو د دوی دا ارمان چې اسلامي دولت یې ځپلې او دوی به په ارام زړه په شریکه د نړۍ کفار په امن کړي او کفري نظام به پرې د اسلام په نامه ومني، د اسلامي دولت زمري یو ځل بیا د الله عزوجل په فضل منسجم او منظم شول، له پخوا څخه په زیاته تیزۍ او غښتلي نظم راستانه شول او د ټول کفر مظبوط دیوالونه او ددوی زړونه یې ولړزول.

د طالب مرتدو مشرانو په خیانتونو یې هم ورځ تر بلې خلک پوهه شول او ان خپل کشر خیل یې هم په دې قانع شول چې د دوی په سر سودا شوې او دوی اوس د امریکا کم کرایه عسکر دي، د اسلامي خلافت د سربښندونکوغازیانو په خلاف یې د جګړې روحیه له لاسه ورکړې، په ولس کې هم د طالب مرتدینو څخه ورځ تر بلې د نفرت کچه مخ په لوړیدو شوه، ولس چې د دوی په باټو او د شریعت په تشو شعارونو غولیدلې و هر څه یې عملي وکتل چې له افغانستانه د پاکستان پنځمه صوبه جوړه ده، د ظاهري اشغال د غولونکي ختمیدو وروسته هم مستقیما د آی ایس آی په وساطت د امریکا په اشغال کې دي، بې عدالتي اوج ته رسیدلې، خپلسري مثال نه لري، صحرایي محکمې خه درز کې رواني دي، چور، غلا، فقر فحشا او ډول ډول مفاسد ورځ تر بلې زیاتیږي، او لکه څنګه چې امریکایانو غوښتل د تیر حکومت سره یو ځای سره شریک یو ګډوله حکومت جوړ کړي په هغې تړاو هم ستونزې رامنځ ته شوې که څه هم امریکا خپله هڅه کوي چې د تیر حکومت مرتدین په دندو پاتې شي او زیات تښتیدلي بیرته راستانه شي او نور باقي یې ټول معاف شي همغسې وشول، خو بیا هم دا وړې شړې نه شوه، د طالبانو په لاس کې د ورکول شوي افغانستان څخه د موزیګې شلیدلې کټ جوړ دی، چې لنګه یې راټینګوي بازو یې خیژي، باداران او غلامان حیران دي چې څه وکړي نو په همدې حساس وخت کې چې طالب کشرخیل خپل مشران کفارو سره په دوستۍ تورنوي، هغه احمقان چې لا تر اوسه د طالب په لیکو کې دي او د شرعي نظام د راتللو خوبونه ویني او ګوري چې د شریعت په نامه همغه پخوانۍ چقړه دیموکراسي حاکمه ده، او د اسلامي دولت بریدونه ورځ تربلې زور اخلي، نو بادارانو او غلامانو یې سره بیا مجلسونه وکړل او ددې مسایلو حل یې په دې کې وکتلو چې باید د تیر جمهوري نظام تجربې تکرار شي او یا دا چې د خپلو پخوانیو اسلافو تاریخ تکرار کړي.

لکه څنګه چې د عقبې د دوهم بیعت څخه تقریبا دوه نیمې میاشتې پس د پنجشنبې په سهار د نبوت په څوارلسم کال د صفر میاشتې په ٢٦ نیټه د قریشو د لوې جرګې په تالار دارالندوه کې د رسول الله صل الله علیه وسلم او لارویانو په خلاف یې غونډه جوړه شوه نو دغسې په (١ ذوالحجة ١٤٤٣ هـ) نیټه په کابل کې د لوې جرګې په خیمه کې د مشرکینو غونډه جوړه شوه، د قریشو د مشرکینو په غونډه کې هم ابو جهل بن هشام د د بني مخزوم له قبیلې څخه، جبیر بن مطعم، طعیمه بن عدي او حارث بن عامر د بني نوفل بن عبد مناف څخه و، د ربیعه زامن شیبه، او عتبه، او ابوسفیان بن حرب له بني عبدالشمس بن عبد مناف قبیلې څخه و، نظر بن حارث د عبدالدار قبیلې څخه د حجاج زامن د بني سهم له قبیلې څخه امیه بن خلف له بني جمح قبیلې څخه او له نورو ګڼو قبیلو څخه ګڼ مشرکین راټول شوي و دغسې د اماراتي مشرکینو په غونډه کې هم د شیعه، صوفیانو، قبوریانو او نورو مشرکینو په شمول ګڼ مشرکانو برخه واخیسته.

او لکه څنګه چې د قریشو مشرکین په خپل وخت د وعدې سم سم حاضر شول دغسې دوی ټول هم په خپل وخت حاضر شول او لکه څنګه چې په هغه د قریشو په غونډه شیطان د یو مخور مشر په شکل په دروازه کې ولاړ و، قیمتي چپن یې اغوستې وه، دوی ورته وویل دا مشر څوک دی ده ورته وویل شیطان ورته وویل زه له نجد مشر یم ستاسې د غونډې خبر مې واورید راغلم ترڅو ستاسې خبرې واورم او کیدایشي ښه مشوره درکړم

نو دغسې د طالب مشرکینو غونډې ته هم د آی ایس آی شیطانان راغلي و چې د دوی په ډله کې یو مجهول کس د ملا هیبت په نوم د دارالندوې د هغه شیطان رول درلود چې ویل یې زه د نجد قبیلې مشر یم.

او څنګه چې د قریشو په غونډه کې د رسول الله صل الله علیه وسلم د وژلو پریکړه وشوه او مشرکینو غوښتل دا د حق ډیوه مړه کړي، ټول خلک ګمراه کړي او خپل کفر په خلکو د حق دین په نامه ومني نو د طالب مشرکینو په غونډه کې هم د رسول الله صل الله علیه وسلم د رښتینو لارویانو د اسلامي دولت د سربښندویانو په خلاف پریکړې او تړونونه وشول، دوۍ هم د مسلمانانو په خلاف د خپلو اسلافو په تقلید د درباري ملایانو غونډه رابلل ضرور وبلل او ترینه یې هدف دا و چې طالب کشرخیلو ته یو ځل بیا د یوې غونډې له لارې د شریعت د راوستو تمه ورکول شي، د علماوو په نامه عملاء راټول شوي عملاء دا حاکمه دیموکراسي شرعي نظام وګڼي، طالب مشرکینو ته حربي کفارو سره د دوستۍ تیزولو ترغیب ورکړي، نړۍ ته د امن ډاډ ورکړي، د اسلامي دولت مجاهدین خوارج وشمیرل شي او د دغه حاکمې دیموکراسۍ په خلاف د دوی جګړه ناروا وګڼل شي، کفارو او نورو مشرکینو ته د وطنیت د کفري عقیدې او ملي ارزښتونو په نوم اسانتیاوې برابرې شي او مومنان لا وځپل شي.

نو دا او دې ته ورته ډیر موارد به دا جرګه تائید کړي هم به مو کشران د ناملوم شریعت لارې څاري، هم به د حاکمې دیموکراسۍ څخه دفاع د شریعت څخه دفاع وګڼي او د جنګ روحیه به پیدا کړي هم به د هغه کسانو خولې هم چوپې شي چې په امارت دا اعتراض کوي چې ولې د میلیونونو مسلمانانو له قاتلو حربي کفارو سره دوستي کوي، هم به د کفارو په ملت کې د رسمي داخلیدو یو جواز پیدا کړئ سبا که هر چا هر اعتراض کاوه نو ورته به ویل کیږي دا نو د څلور نیم زره علماؤ (!) پریکړه ده، تاسې له علماؤ ښه نه پوهیږئ.

همغسې وشول د همدې او نورو زیاتو اهدافو په پار دغه د عملاوو غونډه راوبلل شوه د غونډې په تیارو ورکولو شویو مادو یې لاسلیک وکړ او هم یې کفارو ته د امن ډاډ ورکړ، هم یې

حاکمه دیموکراسي شرعي نظام په حیث ومنله، هم یې د اسلامي خلافت مجاهدین خوارج وبلل او د دوی جگړه یې د موجود طاغوتي نظام په خلاف وبلله، هم کفارو سره په یو ملت کې د حسابیدو په هدف د رسمیت غوښتنه وکړه، هم یې حربي کفارو سره د دوستۍ وړاندیزونه وکړل او هم یې د کفارو نورې طرحه شوې غوښتنې عملي کړې .

غونډه کې د ملا هیبت په نوم یو مجهول الهویته کس هغه د چا خبره اسمان په کانو ویشته او په داسې حال کې یې امریکا او نورې کفري نړۍ سره د دښمنۍ او د شریعت د حاکمیت باتې وهلې چې هم مهاله یې د بهرنیو چارو وزیر او نور لوړ پوړي چارواکي په دوحه کې امریکا په شمول نورو کفارو سره د دوستۍ متقابلو گټو د پاللو او د حاکمې دیموکراسۍ د تقویت په هدف په مجلسونو او تړونونو بوخت ول،

ملا هیبت د آی اس آی لخوا ورکړل شوې ځو کربښې یې چې په دې غونډه کې ولوستلې، ده ته دا ورکول شوې خبرې د ډیرو اهدافو لپاره وې خو عمده هدف یې په خپلو لیکو کې هغه ړندو ته یو ځل بیا تمه ورکول و چې اوس هم په داسې حال کې د شریعت د حاکمیت په تمه دي چې د سلامي امارت بواح کفر گوري .

ایا په اسلامي شریعت کې د حربي کفارو سره دوستي وي ؟

ایا په شریعت کې د شیعه روافضو په شمول د نورو ټولو مشرکینو د شرکي مراسمو او د دوی د مالونو او نفسونو ساتنه شته؟

ایا په شریعت کې د وطنیت په گمراه عقیده ایمان لرل شته؟

ایا په شریعت کې حربي کفارو ته د امن ډاډ ورکول شته؟

ایا په شریعت کې کفارو سره د مسلمانانو په ضد تړونونه شته؟

ایا په شریعت کې د ټولې نړۍ له کفارو څخه د مومنانو سره د جگړې لپاره د مرستو اخیستل شته؟

ایا په شریعت کې د ملل ملحده په غوجل کې د ټول کفري ملت سره په یو اخور ودریدل شته؟

ایا په شریعت کې د حدود تغیر او په حدود الله رشخند وهل شته؟

او ایا ..ایا.... ؟؟؟

د لسگونو اسلام ماتونکو نواقضو په درلودو اوس هم د نړۍ کفار کوشش کوي چې د مجهول الهویته هیبت الله په خبرو د دوی کشرخیل د رواني دیموکراسۍ د ښه تطبیق په هدف د شریعت په نوم تېر باسي او دا تمه ورکړي چې اسلامي نظام راتلونکی دی او دا موجوده کفر چې دوی په خوښه قبول کړی دا د دوی خوښه نه ده، ډیره عجیبه بیا لا داده چې دا هیبت الله چې له تېرو هیبت الله گانو سره سل په سله په غږ کې هم پراخه توپیر محسوسیږي په داسې حال کې دا باتې وهي چې هم مهاله یې د بهرنیو چارو وزیر د همده د خبرو پر مهال لگیا و د امریکاپه تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې امریکایانو سره په یو مېز ناست د اسلام په سر په معامله او کفارو ته په زاریو بوخت و، دا خلک د شرم په نوم هیڅ نه پیژني او هغه د چا خبره چې د جامو سره د خلکو په سترگو ورننوځي، د آی ایس آی د لاس نانځکي ملا هیبت الله خبرې به دلته لرې وتلو ایا دوئ په عمل کې هم دا ثابته کړې که نه دوی همداسې د خبرو کاغذي پړانگان دي .

هیبت الله چې د یو لوړ سپیکر حیثیت یې درلود ترینه راووتل : "چې موږ د کفارو خبرو ته تن نه ورکوو او بیا یې وویل چې کفارو سره زموږ جگړه د عقیدې جگړه وه نه د ځمکې او هوا لپاره او د کفر او اسلام په تقابل کې نه مسالمت شوی او نه ممکن دی" دا جاهل سړی دا خبرې داسې حال کې کوي، چې ماشوم هم پوهیږي چې دا مجهول الهویة دروغ وایي ځکه:

آیا د دوحې پریکړه لیک کفارو ته تن ورکول نده؟

آیا د افغانستان جغرافیه کې

محدودیدل او د کفارو له خوا د وطنیت عقیدوي پولي منل کفارو ته تن ورکول نده؟
آیا د" مایک پمپیو" په فرمان د اسلامي خلافت سره جګړه کفارو ته تن ورکول نده؟
آیا د کفارو په سفارش ستاسو د لیکو څخه د خارجي مهاجرینو شړل کفارو ته تن ورکول نده؟
او همداسي لسګونه خیانتونه مو خپل کشرخیلو او مسلمانانو سره د کفارو په سفارش وکړل چې دا ټول د لمر په څیر روښانوي، چې تاسو د غلامانو په څیر کفارو ته تن ورکړی او په تشو شعارونو سره په خپلو خیانتونو پرده نشئ اچولی.

بیا دا مجهول الهویه وایي چې: زموږ جګړه آمریکا سره د عقیدې جګړه وه، زه وایم نو څکه چې تاسو کله خپله عقیده وبایلله کفارو هم تاسو سره جګړه ودروله او په بدل کې یې تاسو ته د افغانستان واک او څواک ددې په خاطر درانتقال کړ چې نور به د تیر مرتد نظام په څیر تاسي د کفارو ګټې پالئ.

بیا دا مجهول الهویة وایي چې د کفر او اسلام په تقابل کې مسالمت نده شوی او نه ممکن ده، یقیناً چې ممکن نده لیکن دا خبرې دا سې په داسې حال کې کوي چې ګویا دا کون او یا ړوند دی او د هیڅ موضوع څخه نده خبر، دا خبرې په داسې حال کې کوي چې د سراج الدین، ستانکزي، متکي او نورو چارواکو په شمول یې ټول په یوه خوله وایي چې امریکا اوس زموږ دښمنه نه ده او دوی ټولو کفارو سره صمیمي او تغییري اړیکي غواړي، همدا شان د غوا زامنو یعني هندوانو ته وایي چې موږ هیله مند یو چې هند زمونږ زنانه او نارینه سرتیري وروزی، په دې اړه لسګونه نورعملي مثالونه موجود دي، لیکن دا کس یا هیڅ څیز څخه خبر نده او یا په سپین سترګی د آی ایس آی لخوا ورکړل شوي کرښې په پټو سترګو لولي، او غواړي چې په دې شعارونو او هوایي ډزو د خلکو ذهنونه له اصلي قضیې بل لور ته واړوي، لیکن خلک اوس هوښیار شوي، شعار نه بلکه عمل ته ګوري چې په دې برخه کې د طالب ملیشو د خبرو او عمل ترمنځ د ځمکې او اسمان هومره توپیر دی.

ددې عصر احمقو طالب مرتدینو په نورو خلکو هم د څان ګمان کړی، خبر نه دي چې ستاسې په دې روانه ډرامه اوس ټول خلک پوهه شوي، تاسې په دې مه خوشالیږئ چې دې عملاوو چې مخکې به یې د جمهوریت څخه ملاتړ اعلاناوه اوس یې په قطر کې د ډیزاین شوي دیموکراسي څخه خپل ملاتړ اعلان کړ، او د امارت چارواکو ته یې دا تیزي او دلیل ورکړ چې تاسې که حربي کفارو سره داسې په دوستۍ بوخت یاست، د شیعه مشرکینو څخه چې دفاع کوئ، موحدین وژنئ او د حقیقي شرعي نظام د تطبیق په وړاندې جګړه کوئ دا ستاسې حق دی او تاسې په حقه یاست ملل ملحده ته په کار دي چې تاسې رسما په خپل کفري ملت کې ومنې تاسې سره د اسلامي خلافت په مقابل کې په روانه جګړه کې همدغسې ټوله کفري نړۍ تر شا ودریږي او دغسې درسره خپلې مرستې جاري وساتي .

دا عملاء فکر کوي چې ددې مفسدینو له لوري د اسلامي خلافت مجاهدین خوارج ګڼل او د دغه موجود کفري نظام په خلاف د اسلامي خلافت د سرښندویانو له لوري روانه جګړه ناروا ګڼل به ګني د دوی په دغه هوآیي فتواوو او غوښتنو همدغسې نور خلک هم تسلیم کړي؟

نه هیڅکله داسې نه ده .

د دوی دا منحوثې څیرې چې څنګه پرون خلکو پیژندلې دي نو دادی نن یې په څیرو د امارت د منافقت سپین کفن غوړیدل دا تور مخونه نه شي پټولی .

هو !

د اسلامي دولت سرښندویانو چې د اشرف غربي د مرتد نظام په دفاع کې د دوی غونډې د اتلوالو بریدونو هدف وګرځولې او په لسګونو یې دغه درباري ملایان ووژل .

نو دادی نن هم لله الحمد د اسلامي دولت همغه زمري لا ژوندي دي او دغه د امریکا په وندر تړلي سخوندر یې د خپلو بریدونو لاندې نیولي دي .

په داسې حال کې چې ټول امارت په یوه خوله د اسلامي خلافت د ختمیدو باتې وهي خو ددې لاپو وهلو باوجود هم د اسلامي دولت د بریدونو له ویرې فقط د یوې غونډې د امنیت ساتنې په هدف خپل دولس زره چرسیان او لوفران د امنیت په ساتنه ګماري .

.... د دولس زره کسانو د ګمارنې د خبر سکرین شارټ

....

چې اسلامي دولت مو ختم کړی دی نو دومره ویرې ته څه اړتیا؟ دومره سختو امنیتي تدابیرو ته څه ضرورت؟ خو موږ او تاسې سره ډېر ښه پوهیږو!

دادی سره د دومره پخو امنیتي تدابیرو باوجود هم تاسې د خپلو درباري ملایانو په ساتنه ونه توانیدئ، د دې نمایشي او فرمایشي غونډې په لومړۍ ورځ هم لله الحمد د اسلامي دولت درې تنه اتلو انغماسیانو هر یو خیرالدین بدخشي، ابو عمر خراساني او ابو عایشه پېښوري -تقبلهم الله- ورونه چې په یو میل پیکا، یو میل کلاشنکوف، یو راکټ، ۱۵ راکټ مرمیو، ۲۴ شاجورونو، ۷۰۰ د پیکا په مرمیو او ۱۶ ګرنیټونو مجهز و په داسې حال کې په لاندې ساحه کې منزل ته په راتلونکو لارو کې درې ماینونه هم ځای په ځای کړې و دا درې تنه زمري پوره دوه ساعته د ټول امارت سره وجنګیدل، نوموړي انغماسي ورونه چې لا له وړاندې یې د ټولې ساحې ترصد کړی و او د عملاوو د غونډې ځای یې د عقابي



نظرونو او سپني لاندې و .

وړې ودانۍ د اخري منزل څخه د ودانۍ سر ته د ختلو په جریان کې هملته د غونډې د دولس زره امنیتي پرسونل له ډلې د څو تنو ځای په ځای شویو طالب مرتدینو سره یې په اخري منزل کې جګړه وکړه چې د پنځو تنو مرتدینو له وژلو ورسته پورته سر ته وختل او بیا یې د غونډې ځای د راکټ او پیکا د مرمیو له اور لاندې ونیو، دا زمري پوره دوه ساعته په جګړه بوخت و کله چې اماراتي مشرکین د اسلامي دولت د سربښندویانو سره له مخامخ جګړې ناتوانه شول نو بیا یې ورسپارل شوې امریکایي هلې کفتري راپورته کړې او مجاهدین هم په داسې حال کې د طیارو له لوري هدف شول چې ورسره خپل ټولې مرمۍ یې د دښمن په سرونو او سینو سرې کړې وې .

طالب ښځونک وياند هغه وياند چې تل یې وخت ښځو سره په سلفي عکسونو بنډارونو او خنداګانو تیریږي ډېره هڅه یې وکړه چې دا ستر عملیات یوه ډېره عادي پېښه وښایي، خو په ټول ښار کې د دوه ساعته جګړې په لړ کې د درنو وسلو استعمال او د جګړې مهارولو لپاره د هلي کفترونو استعمالول د دوی په درواغجن مخ کلک ګذار دی .

د لومړې ورځې غونډه یې د همدې برید په پایله کې په داسې حال کې بې نتیجې پای ته ورسیده چې ګڼو مشرکینو ته مرګ ژوبله اوښتې وه .

ورپسې په دویمه ورځ دا غونډه په ډېره ویره او ډار پیل شوه، کله چې ماذیګر دا نمایشي غونډه پای ته ورسیده او ګډونوال یې د خیمې بهر په ګلو ګلو راجمعه و، مجاهدین هم همدې موقعې ته په انتظار و، چې یو ځل بیا پرې د اسلامي دولت سربښندونکو غازیانو شپږ میزایل وروتوغول چې د پټو سرچینو د مالوماتو په اساس ډېرې توغندي په هدف ولګیدل او د غونډې د ګډونوالو په شمول په کې په لسګونو طالب مشرکین ووژل شول چې بیا څو

ساعته له سېمي څخه د امبولانسونو چليدو دا په ډاګه کوله چې د مرګ ژوبلې کچه خورا لوړه ده.

موږ طالب مشرکينو او په دغه غونډه کې د دوی بيعت کوونکو درباري ملايانو او په دې غونډه کې ګډونوالو د قومي سپين ږيرو په نوم قومي شرمښانو او فاحشو تجارانو ته خبرداري ورکړ چې زموږ جګړه به سره نه بلکې لا به توده شي، او تاسې به په ډله ايز شکل ووژنو باذن الله همغسې وشول د دې غونډې پسې متصل د اسلامي دولت زمرو

په دغه غونډه کې ګډونوالو او ددې غونډې رابلونکو طالب مشرکينو ته اخطار ورکړ نو دادی لله الحمد له دې اخطار وروسته د مختلفو ښارونو واټونه د دوی لپاره خونړي او مرګوني شول، له غونډې وروسته د دوی د ډله ايزې وژنې پيل له هراته وشو چې الحمد لله د اسلامي دولت دوه تنه انغماسي زمرو په داسې حال کې د طالب مشرکينو څخه په دوه ډکو سترو ملي بس موټرونو بريدونه ترسره کړل چې دوی تل د اسلامي دولت د نابودۍ دعوې کړي.

په دغه اتلوالو بريدونو کې د اسلامي دولت يو انغماسي ورور چې لومړی يې د ملي بس مخامخ ډرايور په نښه کړ، کله يې چې موټر له مزله وغورځاوه نو وريسې يې ښه په خوند په کې ناست ټول مشرکين ضربه کړل، دا اتل انغماسي چې لله الحمد ژوندي د غزا له ډګره ستون شوی، کېسه کوي چې وارخطا ويريدلي او په وينو لمبيدلي مات وګوډ طالب مشرکينو کوشش کاوه چې په دروازو، ووځي خو موقعه مې ورنه کړه او خه بيدريغه مې وشيندل، دې اتل انغماسي ورور چې لله الحمد اوس رک روغ دی شپږ شاجورونه مسلسل د طالب مشرکينو په سينو ورتش کړل او بيا يې په مرګوني مردکو غلبيل شوي موټر کې کمو پاتې مړ ژواندو مشرکينو ته ګرنيټونه هم وروغورځول او بيا ترې د الله په خاص مدد له سيمې روغ ووت.

د هرات د ښار په زړه کې په يوه بله منطقه کې هم يو بل انغماسي زمري همدغسې د طالب مشرکينو څخه ډک لوی موټر لومړی له مزله وغورځاوه او بيا يې ښه چاڼ چاڼ کړ، وروسته بيا سيمې ته د نورو راغلو مشرکينو سره په جګړه کيوت چې له هغوی يې هم ګڼ مرتدين ووژل او ورسته بيا نوموړي هم خپل مقصد (شهادت) ته ورسيد.

تقبله‌الله.

طالب مرتدين دې په خلاصو غوږونو

واوري چې نه داسې فرمايشي جرګې تاسې ته زموږ له مرګوني بريدونو نجات درکولی شي او نه په مسکاو، اسلام اباد، پيکينګ او دوحې په شمول په مختلفو کفري هيوادونو کې زموږ په خلاف تړونونه او د کفارو مرستې تاسې زموږ له مرګوني بريدونو ژغورلی شي.

اې طالب مشرکينو!

دا هغه هرات دی چې تاسې په کې څو مياشتې وړاندې د خپلو امريکايي بادارانو په تقليد په يوه چاپه کې زموږ معصوم ماشومان او بې ګناه تور سرې په ډيره بې رحمۍ په شهادت رسولې وې چې بيا مو د هغوی په وژنه وياړ هم کاوه.

نو وڅکئ د همغه بې ګناه ګلاليو ماشومانو او زموږ د باعفته خويندو د بې رحمه وژلو په غچ کې د مرګ دا تراخه وڅکئ.

هو!

موږ هيڅکله هيچاته، د خپلو معصومو شهيدانو د وينو پور نه پريږدو، خامخا يې د الله عزوجل په نصرت د قاتلانو سرونه شيندو که څه هم لږ وخت وروسته شي. نو انتظار کوئ د جګړې د لمبو اور سړيږي نه، بلکې لا تيزيږي او ددې لمبو په غرغندو کې به ستاسې عرادې او لښکرې همداسې لمبه کيږي.

او د هر ښار مرګوني واټونه به تاسې ته يوازې د مرګ پيغامونه لري او بس!

همدا راز د طالب مرتدينو باداري امريکا او ټولو ګاونډيو کفري او طاغوتي حکومتونو ته هم دا خبرداری ورکوو چې موږ ستاسې هر مکر او فريب ته ځير يو، ستاسې هيڅ ډول حربه به باذن الله کاميابه نه شي، تاسې به راتلونکي کې د سختو جګړو شاهدان واوسئ هغه جنګ چې لمبې يې ستاسې د کورونو په کونجونو کې بلې شي، باذن الله

عمري عدالت او که هيبتي جهالت؟



د طالب مرتدينو د خبرو او عمل ترمنځ له همغه پيل د زمکې او اسمان هومره واټن و، د دوی مشران او کشران آی ایس آی د چل، دوکې، فريب، درواغو او د خلکو د غولونې په برخو کې داسې روزلي چې شېطان ترې پنا غواړي، د دوی عدالت او اخلاق(!) په اطرافو کې له ډېره وخته خلکو ته معلوم و، خو کله چې ورته ښارونه نه و حواله شوي نو خلک يې په تشو باټو او شعارونو خطا ويستل، د شرعي نظام د راتللو باټې، د عمري عدالت او انصاف لاپې، هر چاته د خپلو حقوقو ورکولو وعدې او نورې داسې ډېرې فريب ورکونکې کېسې يې کولې، خو چې کله يې بادارانو ښارونه ورحواله کړل نو د دوی عمري عدالت(!) خلکو په خپلو سترګو وليد، د دوی د اسلام په نامه په دوحه کې طرحه شوې حاکمه ديموکراسي هم خلک ويني، دا چې امارتي مشرکينو واک ته له رسيدو وړاندې څومره د شرعي نظام او په ځانګړې توګه د عمري عدالت د قائميدو درواغجن شعارونه ورکول له هيچا پټ نه دي، تاسې هر څه په خپلو سترګو وينئ راځئ په دې ليکنه کې به د عمري عدالت او هيبتي جهالت يو څو بيلګې تاسې ته وړاندې کړو:

عمر رضي الله عنه هغه څوک وو چې هغه ته په نبوي منهج قايم نظام پاتي و، د هغه څخه مخکې د ابوبکر صديق رضي الله عنه خلافت دور تير شوی و، نو د همغه نبوي نظام هيکل ورته مخې ته پروت و، اول خو همدې ته په کتلو د طالب مشرکينو د نظام اساس ته که تم شو وبه ګورو چې ددې موجوده نظام چې دوی يې شرعي بولي ساختار يې ورته خپلو بادارانو په دوحه کې جوړ کړی، تاسې وکتل چې څنګه د حيدر اباد او اسلام اباد په روزنتونو کې تربيه شوي طالب چارواکي لومړی دوحې ته انتقال شول هلته ورته د اسلام په نامه د دغه نوي ديموکراتيک نظام د عملي کيدو عملي تربيت ورکول شو او بيا د امريکا له استخباراتي هډې قطر څخه کندهار ته په فوځي الوتکه کې را انتقال شول، نو چرته د عمري نظام جوړښت او چرته د سي آی ای، رانډ کارپوريشن، آی ایس آی او پګواش په لاسونو د جوړ شوي هيبتي وحشي نظام ساختار...

عمري عدالت کې خو داسې د وطنيت په ګمراه فکر راکښل شوې جغرافيوي پولې نه وې، بلکې د عمري عدالت په واکمنۍ کې خو ټوله اسلامي خاوره د يو خليفه له لورې اداره کيده، او تقريبا په (2251030) دوه ويش لاکه يو پنځوس زره او ديرش مربع ميله ځمکه باندې يې خلافت او اسلامي شريعت نافذ کړی و او لا مخکې روان و.

په عمري عدالت او خلافت کې د وطنيت، قوميت او عصبيت دا کرښې ټولې ړنګې شوې وې، کفارو ته د امن ډاډ ورکول نه و، بلکې کفار په رعب او ډار کې و.

عمري عدالت کې د اسلام له خاورې په کفارو د بريدونو لپاره تشکيلونه استول کيدل، نه داسې چې کفارو ته يې دا ويل چې تاسې څخه به زموږ له خاورې نور يو ټس هم نه کيږي.

عمري عدالت او خلافت کې ټول مسلمانان يو تن او يو وجود و، که د نړۍ په هر کونج کې به کفارو د مسلمانانو سره ظلم وکړ د هغې به پوښتنه کيده.

عمري عدالت کې به د مسلمانانو له قاتلانو، ناموس لوټونکو حربي کفارو سره جنګ کيده د هغوی بيخ کندي به کيده نه داسې لکه تاسې چې اوس د ايغور د ميلونونو مسلمانانو له قاتلانو او ناموس لوټونکو چينايانو او نورو کفارو سره په يو ميز ډکيږئ او د موسيقۍ نغمو ته سرونه تاووئ.

عمري عدالت او خلافت کې خو د دښمنۍ معيار وطن نه و، بلکې کفر او ايمان و، تاسې خو اوس د وطنيت د کفري عقيدې په منلو نه يوازې دا چې د کفارو له لورې راښکل شوې جغرافيوي کرښې ومنلې بلکې ددې کرښو تر شا مو د کفارو له لورې طرحه شوې فکري ويش هم عملي کړ.

عمري عدالت کې په مجوسو باندې جزيه لګيدلې وه د بيت المقدس فتحې کې يې هم له کفارو جزيه اخيسته په داسې حال کې چې هغوی ذليل وو، سپين کالي چې د عزت نښه وه کفارو ته اغوستل بند و، د مسلمانانو له اباديو څخه د اوچتو اباديو جوړول پرې بند و.

اوس خو خبره برعکس ده اوس خو کفار تاسې ته جزيه نه بلکې خيراتونه راليږي، د کفارو د پلانونو د تطبيق په خاطر درته د ډالرو بنډلونه او د مختلفو مرستو ډک ګډامونه ډالۍ کوي، تاسې

خو د همغه مجوسيانو اولادونه خپل ورونه وبلل، د دوی د شرکي مراسمو ساتنه کوئ دوی ته مو امن ورکړی او موحدينو وژنئ، تاسې خو په عمر رضي الله عنه باندې لعنت ويونکي روافض خپل امامان وټاکل .

عمري عدالت کې چې به د قرآن او سنت فيصله چا ونه منله نو دريم فيصله کن يې توره وه، نو آيا طالبانو تر نن ورځ پورې په قرآن عمل کړی او که ټول شرعي حکمونه يې معطل کړي، د کفارو د مشروعيت او رسميت له کبله يې شريعت د پښو لاندې کړ، د کفارو د فشار او ډار له کبله د شريعت يو فرعي حکم هم نه شي تطبيقولی .

عمري عدالت کې خو په دوه ويشت لاکه مربع ميله ځمکه باندې شريعت نافذ وو نو ستا دا وړوکي افغانستانګی چې د هغې په پرتله يوه صوبه هم نه شمارل کيږي، د ځمکې په همدې وره ټوټه تاسې د شريعت په سيوري کې عمري عدالت حاکم کړی که په دوحه کې ډيزاين شوی د اسلام په نوم هيبتي وحشت؟

تاسې خو د يهودو د پروژو تطبيقولو ته کش ورکړی او په عملي کولو کې يې هيڅ دريغ نه کوئ، نه اسلام پيژنئ او نه کوم اسلامي حکم او ارزښت ته قايل ياست .

عمري عدالت کې خو به شريعت په خان او غريب چارواکي او عام فرد يو قسم تطبيقېده، تاسې خو حدود تعطيل کړي، غل ځکه د لاس پرې کولو په ځاي ويښته پرې کوئ، مخ ورته توروئ او په خره يې سپروئ، د غلا دا حد مو له کومه ټاکلی، په غريب غل همدا له ځانه ټاکلې سزا عملي کوئ خو مشرانو مو اوښان په بډو ووهل او سرې سترګې ګرځي .

عمر رضي الله عنه خو به د شپې په کوڅو کې ګرځيده او د وږي رعيت له حاله به يې ځان خبراوه، راشه ستاسې حال ته چې په دسترخوانونو مو د ډول ډول خوراکونو ځای نه شته، د خوراکونو، خوندونو، عياشيو او مزو چړچو په خم کې دومره غرق ياست چې د خپل غريب ولس له حاله خبر نه ياست . طالب مرتدين په خپلو خوراکونو، جشنونو، سفرونو، او ډول ډول خوندونو کې ژوند تيروي خو ولس يې د فقر څخه ګدايۍ ته مخه کړې.

د عمري عدالت د درواغجنو دعوادارو خبرې د مختلفو خوراکونو له امله دومره وپرسيدي چې يو ميتر ترې مخکې رواني دي، خو د ولس لوږه او ميندي يې د يوې ډوډۍ پيدا کولو په خاطر د نانوايانو مخ ته په ورځو ورځو انتظار کوي، طالب مرتدينو ته د چور او غلا له پيسو ښه پريمانه ور رسيږي هغه متل دي وايي: موړ د وږي له حاله څه خبر دی؟

د عمري عدالت د تشو شعارونو پورته کوونکي لګيا دي، د معادنو د چور د ګمرکاتو او مالياتو په پيسو يې ښه غټ کاروبارونه روان کړي د هيواد په داخل او بهر کې يې ښه تجارتونه روان دي، د بې کارۍ له لاسه د رنځيدونکي اولس درد دوی چيرته حس کولای شي، د دوی ښه سات تير دی، دوی خو فقط دروغو، باتو، چل، مکر او فريب ته پريږده، دوی خو په همدې يادو برخو کې د آی ایس آی له روزنتونه دکتوره اخيستې .



دا د عمري عدالت نه بلکې د هيبتي وحشت لارويان خپل بچيان په قطر، اسلام اباد او نورو بهرنيو ملکونو کې په ديموکراتيک نصاب روزي د هغوئ په خوراکونو، لباسونو او نورو لګښتونو د دغه مظلوم ملت پيسې مصرفوي خو همدا بې چاره او ناداره ولس لګيا دی له ډېرې مجبورئ خپل بچي خرڅوي، د طالب مشرکينو په ډول ډول خوراکونو له ډېرې بې غيرتئ ښتونو پولئ وکړې، هر اندام يې ورځ په ورځ څربيږي خو ولس يې د ډېرې بې وسې له امله د خپل کمزوري او خوار ځواکي بدن غړي پلوري .

هو!

عمري عدالت به همدې ته وايي چې ولس دې د يو وخت ډوډئ نه شي موندلی، له ډېرې قيمتئ او د توکو د بيو د لوړوالي له کبله يې د ژوند څرخ په ټپه ولاړ دی، ولس دې د خپل ناروغ يا مړي د انتقال پيسې نه لري خو دا په دې مظلوم ملت تپل شوي د هيبتي جهالت لاروي دې بيا د خپلو کافرو بادرانو ديدن ته د همدې ملت په پيسو په چارتر شويو الوتکو کې له عياشئ ډکې چکرې وهي .

همدا به عمري عدالت وي چې ولس د خپلې بې وسئ او ناداری فرياد ته هم نه پريښودل کيږي، د ولس په نوم له کفارو څخه را اخيستې مرستې ترې هم دوی جيبونو ته اچوي، ولس دې د فقر په اخري درجه کې قرار لري خو د دوی لنډ غر دې بيا هم دوی ته د امريکا له لوري په ورسپارل شويو هلي کفترو کې کله کورونو ته په رخصتئ چکرې وهي او کله دې په کې خپلې ښځې وړې را اوړي .

د هلمند د قول اردو ټالب چورواکی تقي د دې ولايت سنګين ولسوالۍ ته، خپل کور ته په نظامي چورلکه کې په رخصتۍ تللی دی.
چورلکه د کور مخ کې ورته انتظار کوي.
له هلمنديانو يې پوښتنه وکړئ.
pic.twitter.com/QRzB3XB7Dr

د طالب مرتدينو د وحشتونو، بې عدالتيو، ظلمونو او نورو ډول ډول جنايتونو به موږ کوم کوم ډولونه يادوو.
خو لنډه دا چې د طالب له تور مخ څخه سپينه پرده وغورځيده او اوس ټولو خلکو طالب مرتدين په خپل اصلي شکل کې وپيژندل، د دوی تش شعارونه، دوکې، درواغ، چلونه او مکرونه اوس ټولو خلکو ته معلوم شول ځکه يې نو ورځ تربلې په ولسونو کې د نفرت کچه لوړيږي او د امريکا له لوري په دې ولس مسلط شوی دا هيبتي وحشت يې پيژندلې چې نه خو دا چيرته د اسلامي شريعت غوښتونکي دي او نه يې تطبيقولی شي، نه خو له دې وږيو ليوانو څخه د ولس کومه د خير تمه شته او نه ترې د عدالت او انصاف هيله لري، نو ژر ده چې باذن الله د اسلامي خلافت غازيان به د ولس په مرئ دا ناسته خپسه پاڅوي او ټولې نړئ ته به د عمري عدالت ربښتيني بيلګې وړاندې کړي باذن الله .

نظم

تمکین کې...

خوندونه وو، مزې وې، آخترونه وو تمکین کې
سکون و، که بمبارو، وحشتونه وو تمکین کې
څه ښکلی او صفا جنتي ژوند وو پاکه ربه
قائم دارالاسلام وو، تدریسونه وو تمکین کې
د پاک رب د سپېڅلي دین احکام په کې جاري و
قرآن او په سنت به عملونه وو تمکین کې
ګلونه ماشومان چې به روان وو مدرسو ته
په خوږ اواز هر خوا تلاوتونه وو تمکین کې
څه پاک پاک انسانان او څه سپېڅلې عقیدې وې
د مینې، محبت ډک مجلسونه وو تمکین کې
زمري د خلافت به د امیر امر ته ځیر وو
هر خوانه په دښمن به تعروزونه وو تمکین کې
تعروز ته به ملګري په خندا خندا روان وو
دښمن باندې به هر خوا غورځنګونه وو تمکین کې
را جمع به چې شول مجاهدین تعروز لپاره
هر خوا به د تکبیر غبرګ اوازونه وو تمکین کې
بمونو مور یې هم زموږ په جنګ کې استعمال کړه
بې شمیره ګوزارونه او کروزونه وو تمکین کې
په نیمه شپه چاپه به وه ټول کلی به یې هوار کړ
بې ون او د بې باون بمبارونه وو تمکین کې
سره د دې یې هم مجاهدین کېسه کې نه وو
فولادو نه قوي یې ایمانونه وو تمکین کې
د هیڅ چا به په زړه کې ډار او ترس له مرګه نه وو
که هر څومره جیټونه او ډرونونه وو تمکین کې
هر څومره به یې چې لارې د اکمال کړې په موږ بندې
بیا هم د پاک الله ډېر نعمتونه وو تمکین کې
راټول به شاعران وو د څېرې سیورې د لاندې
محسن به و، حسان به و نور ورونه وو تمکین کې
څه ښکلي دنګ ځوانان د خراسان غرونو پنا کړل
د شیخ عبدالحسیب په څېر لالونه وو تمکین کې
بزدله دښمنان چې ترینه شپه او ورځ په ډار وو
کاروان غونډې ملګري لکه غرونه وو تمکین کې
عاقله په ارمان یې ځکه اوښکې تویومه
شپه ، ورځې د پاک رب عبادتونه وو تمکین کې

تمکین کې...

د بایډن نوي عسکر

د حرب المدن دوره تازه رخصت شوه، د دویمې ورځې مازدیګر لمونځ وخت و، له ماسپښینه زموږ د معسکر ملګري زموږ حجرې ته راټول شوي و، په مهمو موضوعاتو د مینې او الفت ډک مجلس مو د مازدیګر لمانځه په اداء کولو ختم کړ، ابوبکر اذان وکړ پنځلس دقیقې وروسته خپله جمعې ته مخکې شوم، وروسته راپسې د حق د لارې لارویانو صف جوړ کړ، له لمانځه چې فارغ شو، ټول ورونه زوړند سرونه په اذکارو بوخت و، زموږ چوپتیا دیوال ته د تکیه شوې مخابرې غږونو ماته کړه، مخابره زموږ د اداري په نمبر کې وه او زما په نامه پلاپسې غږونه کیدل، دوامداره غږونو مجبور کړم مخابره راواخلم، ومې پیژانده مولوي صیب و، له غږونو یې پوه شوم چې کوم عاجل کار دی او ممکن کوم سنګر کې موږ ته ضرورت وي، دا هغه وخت و چې د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې د طالب ملیشو او امریکایي درنده ګانو ترمنځ زموږ په خلاف شوي تړون په عمل کې راغلی و، طالب مشرکین د خپلو بادارو امریکایانو د جنګي طیارو په سوري او د کروزنو په بې رحمه بمبار کې د اسلامي دولت په تمکین د راختو په حال کې و، دغه ستر هجوم ته لا له وړاندې زمینه سازي روانه وه او هغه داسې چې په تمکین خو هر وخت ړوند بمبار جاري و خو یو کال کیده چې ددې وحشت فیصدي بیخي زیاته لوړه شوې وه، نقل وحرکت هر څه بند و، او ان ښاروي هم د ډرونونو د بریدونو ښکار کیدل، طالب مرتدینو د زرګونو په شمیر کې له څو لوریو هجوم راوړ، یو لورې یې هم د سپین غر زیړان کنډو و، زیړان کنډو باندې به د پاکستاني ریټایر او رسمي فوځیانو په شمول به هم ډلې، ډلې شیعه روافض د طالب مشرکینو په صفونو کې د وزیروتنګي او د تورې، بورې اسمان ښکو غرونو ته راتشکیل کیدل، له لاندې طرفه هم راتلونکې لارې محکمې تړل شوې وې.

په بیړه مې مخابرې ته لاس کړ له اطاقه بیرون شوم، علي مولوي صیب د رابطې نه وتلی و، عمومي نمبر ته ورغلم خاص نمبر ته مې راوست عاجل یې وویل: استاده حالات بدل دي..

... خبره مې په خندا ورغوڅه کړه ورته مې کړل: مولوي صیب هیڅ مشکل نه شته موږ لا ژوندي یو امر کوه څه خبره ده؟

مولوی صیب دا وخت لا هم حوصله پرځای وه راته یې کړل: دشمن د بزرګې ځوکې په لاندې حصو کې حرکت کړی او د ابراهیم خیلو په طرف را رون دی مخې ته ورتلل پکار دي

مال سمه ده زه ملګري راټولوم او عاجل حرکت کوم ان شآءالله .

ویل یې: ستاسو د کور په سر اوچت سنګر فعالول هم ضرور دي او ددغه نه پورته سر کې خالد عمر دوی هم شته.

مال سمه ده مطمئن اوسه کوشش کوم چې په وخت د دشمن مخې ته ورشو بیرته کوټې ته راغلم . ملګرو ټولو ماکې سترګې ګنډلې وې ، ورته مې په خندا وویل : امریکآیي کمانډو خو له بزرګې ځوکې هم حرکت راوکړ هدف مې طالب مرتدین و، ملګرو ته مې ورزیاته کړه، اسلحې مو تیارې صفا دي زه کورته کوزیږم چې راځم ترهغې ټول مسلح او تیار اوسئ، ابودجانه استاد او عثمان راپیدا کړئ، حمزه استاد خو سکندره کې دی، احمدخالد استاد ته مې کړل: کورته لاړشه اسلحه راواخله او دغه دوه ملګري هم ځان سره کړه او زموږ طرف ته شئ .

ویل یي : سمه ده دادی لاړم.

شیبه وروسته خپل کور کې وم، مجاهده میرمن مې مخ ته راولاړه شوه، ویل یې ښنګه په منډه یې؟

ورته مې کړه: ته في الحال دخپلې مور ښنګ ته لاړه شه، موږ سنګر ته خیژو، خو سبا که حالات مساعد و بیرته راشه د ابو دجانه استاد کور والا هم ځان سره کړه چې موږ ته دلته د خوراک لپاره څه تیار کړئ، زه ورپسې ځوک رالیږم چې سنګر ته یې راپسې راوړي، مجاهده میرمن مې داسې حالاتو سره روږدې وه، ځکه زموږ ژوند دلته ټول په منډه و، له یوه ځایه به راغلي نه و چې بل طرف به تشکیل و، کارونه زیات او موږ کم و، میرمن مې په ځای ددې چې ګیله او شکایت وکړي، موسکۍ شوه، ویل یي ته صبر چې یوه ویدیو خو درنه وکړم، والله اعلم چې بیرته ژوندی راځې او که نه، په داسې حال کې چې ما د بوټانو مزي ټینګول، په ناپامۍ کې یې راڅخه ویدیو کړې وه، دغه وخت فضا هم یو څه برابره وه ځکه کله به چې طالب مرتدینو حرکت کاوه نو لومړی به زموږ سنګرونه ښه بمبار شول بیرته به طیارې ورکې شوې او طالبانو ته به د حرکت امر وشو .

لاسي بمونه مې یوه کڅوړه کې د احتمالي چاپې سره د مقابلې

لپاره ساتلي و هغه مې میرمن راواخستل ویل یې دا هم درسره واخله که جګړه اوږده شي درته په خه راځي .
په خندا مې ترې مننه وکړه ورته مې ویل جزاکم الله خیرا .
جنتي شي هغه اضافي مرمۍ هم راکړه، چې بیک ته یې واچوم .
ویل یې: سمه ده دا د زخم دوایي هم درسره واخله په کار به دې راشي , ډیر خوشاله شوم چې د کار په وخت کې یې د کار شیان رایاد کړل .
بیک مې مکمل ډک کړ چې حجرې ته وختم ملګري زما په انتظار و.
علي مولوی صیب ته مې غږ کړ : پیکا او راکټ راپسې راولیږه اوس موږ یې نه شو وړلی ملګري هم کم دي..
ویل یې: ته چې فقط حرکت وکړې نور کسان درپسې درلیږم خو دغه سر دشمن ته په لاس ورنه شي.
مال بې غمه شه حرکت کې یو خو سبا ته بیا د الخیر ترتیب راجوړ کړه ویل سمه ده.
ملګرو خوراک ترتیب ته د (الخیر) نوم ورکړی و .
دې نوم پسې یوه خاطره رایاده شوه ، یو ځل کوټ ته ستره قوه راغلې وه، ملګري ورسره په تووده جګړه روانه بوخت و، د خط مجاهدینو په نورو ملګرو په مخابرو کې غږونه کول چې د الخیر ترتیب څنګه شو، نورو ملګرو به ورته ویل بس نیږدې دی ان شاء الله لږ صبر وکړئ .
دښمن به زموږ مخابرې تعقیبولې او زموږ له هر حرکت او هرې خبرې څخه به په دار کې و، کله به چې دښمن د الخیر نوم واورید فکر به یې کاوه چې اوس رابانديږ تعرض کوي یا به بل کوم پلان لري نو تحرکات به یې زیات شول .
یو ځل همداسې وشول مجاهدینو په نورو ملګرو د الخیر ترتیب غږونه کول، د اسلامیار تقبله الله په نوم د بټي کوټ یو مجاهد و، ډیر سیده او ساده مومن و، ملګرو لږ ځند کړې و، نو اسلامیار ورغږ کړې و چې : واه وروره د الخیر ترتیب څنګه شو، ملګري مو په ولږه ووهل .
دښمن بیا په مخابرو کې ناري راوهلې چې: کور مو وران شه په دې ترتیب خو مو دا دومره وخت له موږ زړه ویستلی و.
په هر صورت موږ په سمه نیغه موږه حرکت وکړ، لار کې مو هیڅ ځند ونه کړ.
لار بیخي لوڅه وه عثمان راغږ کړ : وروره که ډرونونه راغلل نو څه به کړو، دلته خو د پټیدو لپاره بیخي یو وړوکی بوټی هم نه شته، سنګر به چرته جوړ کړو ؟
طالب مشرکین خو هسې هم نه ولي، موږ به پرې ست کړې .
ورته مې ویل: الله مهربانه دې له نورو ملګرو ښه ځوانان نه یو، ټول ورته په همداسې ښکاره ډګرونو پراته دي .
موږ د ابراهیم خیلو سرته ورسیدو ملګري مو په هوار ځای جمع کړل.
مال یوکس هم حرکت ونه کړئ، زه د سنګر لپاره مناسب ځای ګورم، بیرته تاسو پسې راځم..
احمدخالد استاد ته مې کړل: راځه راپسې لږه فاصله وړاندې لاړو، انجینر صیب احمد خالد راغږ کړ: استاده دلته باندې غونډي ښکاري،
مال دا څه وایې، د دې نه بل ښه ځای چیرته دی، چې بانډو ته ورغلو دایمي سنګر نیونې په کې هیڅ سر نه نیوه، خو فقط د یو کمین لپاره په زړه پورې سنګر و، بدون له ځنډه مو ملګري بانډو ته داخل کړل چې ډرون یې ونه څاري.
ملګري مو په درې نقطو تقسیم کړل د کمین شکل مو اختیار کړ ملګرو لا مورچې جوړولې، چې د ډرون تریخ غږ مو بیا تر غوږه شو، ملګرو باندې مو زیات تاکید وکړ چې بیرون ته د وتلو اجازه په قطعي صورت بنده ده، که د هرملګري له وجې سنګر ټارګیټ شو، نو الله ته به جواب وایي زموږ ملګري چې زیات وخت یې په معسکر او سنګر کې تیر کړی و، ډیر په نظامي اوصولو سمبال او د ملګرو په اهمیت خبر و.
شپه پخه شوه، پهره مو جوړه کړې وه، خو ماته هیڅ خوب نه راتلو، په دې فکر وم چې ملګري رانه ډرون ضایع نه کړي، که امر نه وی نو دلته شپه تیرول د ځان سره ظلم کول دي، کله به اوچت شوم د نیمګړي دیوال نه به مې سر بیرون کړ او په تصور کې به مې د جنګ نقشې جوړولې، ډرون سمه خوله لږوله، ملګرې د تشو بولو لپاره هم بیرون نه شو وتلی، خو طالبانو په خالي میدان اورونه بل کړي و او پراخه حرکتونه یې کول، زیګویک یې هم په ښکاره میدان نصب کړی و، د مخابرو انتنونه به یې لوړ کړي و په ډلو ډلو به ګرځیدل، نقل او حرکت، اکمال هرڅه یې ښکاره و، دا ځکه چې همداسې تړون ورسره شوی و، چې لومړی به امریکایي درنده ګان زموږ سنګرونه بمباروي او ورسته به پرې دوی ته د ورختلو امر کوي ، دوی سره یې تر دې حده همغږي وه چې خپلې نښې یې ورکړې وې چې طیارو ته معلومه شي چرته یې زموږ په ګمان ونه ولي، د کفارو هدف دا و چې د خراسان په سقوط به کیسه ختمه شي خو داسې نه ده زموږ په زړونو کې د جهاد د جذبو شتون به تاسې هیڅکله ارام ته پرینږدي باذن الله .
نو موږ هم اذکار نه بندول د خپل رب نه مو همیش د مرستې او مدد دعا غوښتلې، دشمن ټوله شپه لاسې برقونه ښکته پورته وهل، مخابرې یې د معمول مطابق نن زیاتې ګرمې کړې وې، کله به چې مې مخابره شکاري ته واچوله نو خاص نمبرونه به په مخه راتلل، خاصې خبرې به پکې کیدلې خو ما دومره درک کړه، چې نن شپه دشمن حتمي تعارض کوي خو په کوم سنګر؟ تقریبا د شپې دوه بجې کیدې چې دشمن په پراخه پیمانه زموږ د بره سنګر ملګرو باندې یرغل راوړ، له درې طرفه یې حمله وکړه، سنګر کې فقط پنځه ملګري ورته لګه د زمرو پراته و، په اوله حمله کې د نورو ګڼو مرتدینو په شمول د لیاقت په نامه مشر هم مردار کړ، له دومره تلفاتو وراوختو وروسته دا حمله رب ماته کړه، زموږ ملګري هم ټول زخمي حالات کې لا په پوره استقامت ورته ولاړ و، خو سنګر یې ورته پرینښود لله الحمد، دشمن د دوهمې حملې لپاره دا ځل یو نیم سل کسان له درې طرفه بیا وربانديې راواچول د پوره استقامت او ثبات نه وروسته رب دا دشمن هم مات کړ او شرمیدلی واپس شو، د ملګرو سنګر کې هم روغه مورچه نه وه پاتې خو ثبات ته یې کاینات حیران و، موږ ترې ډیر لرې و، د ملګرو مرستې ته هم نه شو ورتللای، ترمنځ مو لاره هم ګړنګینه وه، خو په دعا کې مو هیڅ له خولو نه غورځول، خالد عمر ته به مو بار بار تسلي ورکوله، خو هغه په کم عمر د لوی صبر او ثبات خاوند و، د خراسان په زیاتو سنګرونو کې یې په دشمن باندې سر ګرزولی و، خالد عمر زخمي و، خو ماته یې نه ویل چې زخمي یم د څنګ ملګري یې هم نه دي خبر کړي چې زه زخمي یم او په پوره میړانه یې مقابله کوله د دشمن دریمې حملې سره سنګر په داسې حال کې له لاسه ووت چې دوه ملګري شدید زخمیان او درې میړنیو پکې خپل روح پاک رب ته سپارلی و، دشمن بیا هم خوشحاله نه شو ځکه دومره تلفات باید په پوره نظامي ودانیو ورکړل شوی وای د شپې لمن نوره په ټولیدو وه، د سهار څرک ولګیده خو د سنګر د ملګرو غږونه خپ وو، نور نو د دشمن مخې ته زموږ سنګر و او له موږ ښکته لا نور وړې زمریان هم پراته وو. لمر راوخوت، خپلې

ورانګې يې د درې هرې ژورې ته ورسولې، فضا دومره خرابه وه چې اټکل يې نه کيده زموږ هم په سنګر کې دويمه ورځ روانه ده په داسې حال کې چې هيڅ د خوراک او څښاک مدرک نه و، ځارګرو بې پيلوټه الوتکو د بيرون وتلو چانس هم چاته نه ورکاوه، خو د بايدن نوي عسکر بيا پيکا راکټ او کلاشنې په اوږه ببر سرونه زموږ د سنګرونو په لور ازاد را روان وو ، اسماعيل راغږ کړ: دشمن خو نور نږدې دی نو تاسو چيرته ياست چې دوی را روان دي؟

ورته مې کړل له موږ جدا دي خو که تاسو ته ښکاري پيکا وربانديې وړزوئ چې ستانه شي.

نور مې اسماعيل ته هيڅ ونه ويل ځکه دشمن خو موږ ځاره چې په درې نقطو يې حرکت وکړ، د زمري له سره هم راښکته شو او د بزرګي له څوکې هم را روان وو ، شيبه پس مې قاري زيد باندې غږ کړ چې دشمن ستاسو طرف ته مخه کړه متوجې اوسئ!

هغه هم راغبرګه کړه : بېغمه اوسئ الله به يې ذليله کړي تاسې چرته ياستئ، له تاسو نه څنګه راتير شو؟

خو مخابره کې ورسره نورې خبرې اوږدې نه کړې، ځکه زموږ طرف هم دشمن تقريبا سل ميترې ته رانږدې شوې و، خو لا خبر نه وو چې په دې تړو کې به وږې پړانګان زموږ انتظار باسي، نو قاري صيب ته مې کړل: زموږ برخه جنګ پاتې دی خو دشمن خوږ ته در کوز شو ، ملګرې ورته مخې ته کړه چې کمين ورکړئ لخيره، ويل يې: سمه ده او همدې سره له رابطې ووت،

ما مې ملګرو ته کړل: نن حتمې جنګ کيږي خو رب ته توجو پکار ده، اذکار زيات وايئ رب نه ثبات غواړئ بس يو کمين دی نور بيا خپل پلان نيسو ان شآءالله، نو ملګرو هم تيمم وواهه رب ته په لمانځه ودريدل، ټولو په لمونځ کې ژړل عجيب کيفيت و، د رب سره مناجات وو، د حق د لارې د لارويانو توکل په خپل پاک رب ښه پوخ و، هر ملګري له دعا وروسته رب ته لاسونه لپه کړل د عاجزئ او خاکسارئ ډکو دعاګانو سره يې رڼو، رڼو اوښکو هم بدرګه کوله، د دغو زلمو په زړه کې ډار نه و او نه د دنيا په کيسه کې وو خو د رب لقاء ته په وړونکې توښه کې فکرمند وو، چې کاش قرباني مو دومره وای چې رب ته په اوچتو سترګو ورغلي وای.

ما بيا بيا د دشمن ترصد کاوه، ملګرو ته مې جدا، جدا سنګر ښودلی و، چې جنګ کې ترينه استفاده وکړي.

زيات تاکيد مې هم وربانديې وکړ، چې بې ځايه مرمۍ هم مصرف نه کړئ، کوشش وکړئ له هدفه خطا ډز ونه کړئ، وخت پس مو کتل د دشمن حرکت بند شو، موږ فکر کاوه يا واپس شو او يا بل کوم پلان لري، خو حقيقت دا و چې باداري امريکا ورته مخه پوره نه وه صفا کړې لا ځارګرې يې په ځار بوختې ليونۍ ګرزيدلې، ما فکر کاوه چې بيخې د بې پيلوټه الوتکو کنټرول د طالب مليشو سره همدلته په لاس کې دی، دومره دقيق ترينه مخکې روانې وې، خو د دوی هر راز او کار د باداري امريکا سره دومره شريک و، چې ته به وايې د امريکا خاص ځانګړی فوج يې عملياتو ته مخکې کړی او نهايت زيات پام وربانديې ساتي ترڅو د خلافت زمريو په دام کې ګير رانشي، نو په دې ځنډ کې مې ملګرو ته کړل: چې دشمن زموږ په طرف رانغی بس ديکې به هم د رب لوی حکمت و، ځکه که دوه غبرک توغندي هم په دې ځای را واچوي نو ټول ملګري به شهيدان شي او يا که طالب مليشو ته پته ولګيږي چې دلته خلک دي نو دا بانده خو د څو راکټونو تاب هم نه لري ټولو ملګرو سر وخوځاوه چې بلکل دې کي به د رب حکمت و، شيبه پس موږ د ښکارزن سنګر ملګرو باندې غږ وکړ مقداد استاد چې د شپې له خوا دغه سنګر ته له خپلو ملګرو سره ختلی وو راغږ يې کړ: نمبر ته ورشه کراس نمبر ته لاړو د يو بل حال احوال مو واخيست اخر کې مې ورته کړل ستا کار خو ډير مهم وو کنه ته ولې راغلی يې؟

ويې خندل: امر و، خو اوس حالاتو ته ګورو، که دې طرف څه نه وو نو يو ترتيب به وکړو نور ستاسې ملګرې څنګه دي، فضا سره خيال زيات کوئ ملګري بې احتياطي ونه کړي .

مال الحمدلله تراوسه څه نه شته، هو! احتياط خو پکار دی دشمن نه د خير طمعه نه ده پکار، خو که دا د جنګ نقشې ته مو تغير ورکړی وی څنګه به وه وروره؟

نور مو جدول نه استفاده وکړه ځکه هره خبره مخابره باندې نه کيدله ما چې ورته خپل نظر ووايه نو هغه هم قناعت وکړ، هو! دغسې پکار ده خو ته رابطه وکړه، هغوی ته يې ووايه چې څه وايي؟

مال سمه ده خو خبرې مو ختمې کړې عمومي نمبر کې رابانديې سيف الله استاد غبرګ، غبرګ غږونه کول نمبر ته لاړو په شفر، شفر کې يې پوښتنه کړه چې موږ د بيګا راهيسې محاصره پاتې يو څه ترتيب وکړو؟

سيف الله دوی د پاکستان پره چينار نه راتيره شوې لار باندې د ماينونو کرلو لپاره څو ورځې مخکې تللي وو، ترڅو په دغه لار راټلونکې دشمن ته ماين کاري وکړي، ځکه دشمن ښه په سپين سترګی د پاکستان لخوا په هره لار را روان و، تر ډيره به ورسره پوړي غاړئ د عامو کليو اوسيدونکو شيعه ګانو او د پاکستان فوج د اسلحو په انتقال کې پوره کومک کاوه او دوی به يې دمه زموږ جنګ ته په شاه ټپول او را رخصتول به يې، نو ما چې احوال واخيستل نو دشمن لخوا له درې طرفه محاصره پاتې و او ورته ويل شوي وو چې تاسو د مرکيخلو په کنډو واوړئ، زاوې ته ښکته شئ هلته د نورو ملګرو سره يو ځای شئ، د ابراهيم خيلو په طرف راتګ نا ممکن دی، خو دغو ځوانانو دغه اوږد او سترې بې هدفه سفر ته زړه نه ښه کاوه بلکې بديل يې غوښته، خو بل طرف زموږ خطونه د مرکيخلو له طرفه هم د کروزونو، جيټونو او بې پيلوټه الوتکو په په مسلسل بمبار او شور کې په داسې حال کې مات شو چې له اته زره طالب مليشو څخه هر غر او سمه ډکه وه او د مجاهدينو په سويو جسدونو راوختل.

سيف الله مې پوښته کړ او داسې اطمنان مې ورکړ ګويا دشمن له سره د دوی مخې ته نه شته او په شفر کې مې پوښته کړل چې د شپې له تيارې استفاده وکړئ او په خوږ، خوږ راځئ، هيڅوک مو مخې ته نه شته که احتمالي کومه خبره شوه نو جنګ وکړئ، د هغوی هم دا خبره خوښه شوه، مازديګر ناوختې و، ملګري هم د ماښام په اذکارو بوخت وو، وچې شونډې يې خورولې ملګرو ته مې کړل: زه به لږ ترصد وکړم چې دشمن خو به حرکت نه وي کړی، ځکه چې دا فضا هم يو ناڅاپه جوړه شوه څه خبره ده؟

مات رامات جيګ شوم، ګورم دشمن په خپو قدمونو را روان دی، پنځوس متره فاصله مو لا ترمنځ شته چې ابودجانه استاد هم راغږ کړ :

استاده نمبر ته شه.

مال لاس مې بند دی وايه ؟

ويل يې : څنګه کوو شروع وربانديې نه کوو، خلک خو نور بيخې نږدې دي؟ مال صبر چې موږ اول جنګ نه وي شروع کړی، تاسو ډز ونه کړئ ځای افشا نه شي، ملګرو ته مې په خندا خندا کې وويل ياران خو رانږدې شوي دي صبر چې دا بل طرف وګورم څه کيسه ده، خو ملګرو زما خبره په ګپ واړوله هر يو راپورته شو پام يې وکړ مال سرونه بيرونه مه اوباسئ چې له مخکې نه ونه ليدل شو، ما چې بل اړخ وکوت نو دشمن په هغه لاره له موږ مخکې شوی و، موږ په منځ کې پاتې وو، ملګرو ته مې کړل: دلته خو هم خلک مخکې شوي، خو صبر چې دا نور هم ښه رانيږدې شي، ترڅو درته ما نه وي ويلي ګوره د ډز اجازت نشته، ابودجانه استاد په تلوار لګيا دی خلک نور را ورسيدل څنګه

کوو؟
مال صبر موږ عام نمبر کې دا خبرې شروع کړې وې، ټول مجاهدین غوږ دي چې دوی کوم تبلیغاتي جنګ شروع کړی.
نور زما د صبر کاسه هم ډکه وه مال: بسم الله کړئ په بسم الله، الله اکبر اول فایرونه مې شروع کړل زما د فایر سره سم مخکې او وروسته دشمن باندې د مرمیو باران پیل شو، کوم دشمن چې مخې ته و، په اولنیو ضربو کې یې مردار جسدونه زموږ مخې ته وغورځېدل، او کوم دشمن چې له موږ تیر شوی و، هغوی پرله پسې د غیرالله چیغې وهلې او دا یې زیات ویل چې: ای لویه ځوانه ای فلانیه او فلانیه راورسیږه ژوندي یې ګیر کړو .
موږ په دې خبرو اوریدو سره نوره هم روحیه واخیسته، دشمن له شماره وتلی و، د تکبیر اواز په پورته کولو سره یې زموږ ځای مالوم کړ، دوه پرله پسې د راکټ لانچر فایرونه یې وکړل، خو د وارخطایي حال یې و، رب موږ بچ کړو، دشمن چې نور خپل ځان زموږ په پنجو کې ګیر ولیده، نو د توري چړې پرځای یې دا غوره وګڼله چې له لوی ګرنګه ځان خطا کړي هماغسې وشول خو زموږ د فولادي پنجو یې ځان په داسې حال کې وژغوره چې له دنګ ګرنګ یې ځانونه بې اختیاره خطا کړل تا به فکر کاوه چې تازه له کومې درندې نشې را پاڅیدلي لوږه او ژور نه پیژني.
د دشمن په سر چې د خونړې کمین سرې لمبې تیرې شوې نو خپل مړي یې په میدان پریښودل او پښې یې سپکې کړې، په نورو کومو نقطو کې یې چې مخکې حرکت کړی و، نو هلته هم رب مرعوب کړل او په شاتګ مجبور شول په مخابرو کې د خوښۍ غږونه کیدل خو دا وخت زه زخمي یم، ملګرو ته مې هیڅ نه دي ویلي، د دشمن غبرګې مرمۍ مې خوړلي، اسلحه مې هم له کاره لویدلي وه، احمد خالد ته مې غږ کړ: له ټاپه لاسي بمونه را وباسه کلاشن نور کار نه کوي .
هغه ماته په کتلو وارخطا وویل: حسبنا الله ونعم الوکیل، تا ولې مخکې غږ نه کاوه؟
مال کرار خبرې کوه ملګري خبر نه شي خو لاسي بمونه راواخله کومک اولیه راسره هم شته، هغه هم راواخله د درد او وینې بندولو ستنې پکې وګوره تورتم دی سم نه ښکاري خو ما په دې وخت کې ابوذر تقبله الله په خپل ځای سنګر کې کینولی و، دغې صحنې یې زیات خوند راکړ ضربه یې ووهله او په لوړ غږ یې تکبیر زمزمه کړ د شهادت ګوته یې اسمان ته پورته کړه ویل یې: دوه مې نور هم مردار کړل .
ورغږ مې کړل: په ناسته ډزې کوه دشمن مخامخ دې متوجې اوسه.
انجینر احمد خالد تقبله الله دوا راواخیسته او پټۍ یې د زخم نه لږه فاصله وړاندې تاو کړه ترڅو وینه بنده شي ، خو رګونه قطع شوې وو، وینه په اسانۍ نه بندیده، بیا یې د درد ستن هم راته

ووهله او د وینې بندیدو ستن هم.
درد هم نه کراریده او وینه هم نه ودریده، د دوه ورځو راهیسې مو خوراک هم نه و کړی، د بدن انرژي ختمه وه، زه بې اختیاره په ځمکه غورځیدلی وم ملګري مې سر ته ولاړ وو، ځینو لا هماغسې په میرانه خال خال جنګ کاوه قناص والا هم خپله ذمه واري په بهادرۍ اداء کړه، دښمن یې پرینښود چې په حاکمه نقطه کې سنګر ونیسي او پر موږ فایرونه وکړي، کله چې هوش کې راغلم، انجنر احمد خالد او ابوسعد هندي مې سرته ناست وو.
احمد خالد زما پرځای مخابرو کې ملګرو ته ځوابونه ورکول، سترګې مې خلاصې کړې احمد خالد راته کړل: استادجانه! ای استادجانه!
هله! ته لږ پورته شه، چې لږ خواږه درکړم، دې سره به دې انرژي لږه ښه شي، زه چې په ځان پوهه شوم سپک راپورته شوم چې ملګري حوصله ونه وهي، خو ورته مې زر وویل نور ملګري خبر نه شي زه روغ یم دا معمولي زخم دی مشکل نشته.
احمد خالد په ډیر ناز په خوله کې خواږه راکول لکه یو ناروغ ماشوم ته یې چې مهربانه مور خوراک ورکوي .
اخ! د سنګر د خوږو ورونو مینه څومره له خلوصه دکه وې الله دې قبول کړي
زخم یې هم راته پټی کړ نور شپې هم خپله لمن زموږ په سرونو غوړولې وه ابو دجانه استاد تقبله الله او عثمان تقبله الله دوی هم زموږ خواته راغلل ویل یې: څه کوو؟
مال ورشئ مرتدینو نه اسلحې را واخلئ چې غنیمت پاتې نه شي او ملګري لاندې دویمې نقطې ته ښکته کوو، چې نور دا ځای افشا شو اوس ډرون ته ترصد ورکوي او دا ځای راباندې راولي چې لږ لاندې بله ساحه کې سنګر ټینګ کړو، دوه ملګري ورغلل د غنیمت سامان یې را واخیست ملګري چې واپس راغلل د مردارو جسدونو د بوی او د دښمن د شخ شویو بدنونو کیسې یې کولې پوزې یې لا هم هغسې په دسمالونو بندې نیولې وې موږ حرکت وکړ په لار لار ټول ملګري خبر شول چې زه زخمي یم .
ملګرو ته مو بل مسول او معاون تعین کړ د احتیاطي تدابیرو مې ورباندې بار بار تاکید وکړ، فضا

هم زیاته خرابه وه، له ملګرو مې هیڅ زړه نه کیده چې ترینه جدا شم خواږه ملګري وو، د سختۍ سره روږدي ګلان وو، ثابتو حوصلو ته یې غرونو سلامي ویله، خو چې مخکښې ژوند ته به یې ځیر شوې؛ څوک له پوهنتونه، څوک له مدرسو او څوک له خپلو نرمو او سهولته ډک ژونده دار الاسلام ته راکډه شوي وو او د پاکې، سپیڅلې مبارزې لپاره یې تمکین ته هجرتونه کړي وو، څوک له کابله، څوک له پېښوره، څوک له هندوستانه او څوک له تاجکستان، ازبکستان او نړۍ له لر، بره رامهاجر شوي وو، عجیبه اسلام دی چې د قربانۍ لپاره یې زموږ دې یو سنګر ته هم د څلورو مملکتونو خلک راجمع کړي وو، او د اسلام څخه د دفاع په پار یې خپلې ګلالۍ ځوانۍ ورژولې د اسلام د بهار په پار یې پرځانونو خزان قبول کړ خو اسلام یې سر ټیټی ته ور نکړ، خرڅ یې نه کړ اسلحې یې په لاسونو کې ټوټه او ټوک ټوک شوې، بدنونه یې د غرونو ځناورو وخوړل، د قبرونو یې پته ونه لګیده، خو دشمن ته یې تسلیمي ور نکړه.. خپلې دنګې ځوانۍ یې د اسلام په دفاع کې راړنګې کړې، او دادی د دوی په لار تلونکو لارویو ورونو یې هم د بایډن په نویو عسکرو (طالب مرتدینو) خوبونه حرام کړي او د امریکا له لوري د ورکول شویو موټرو او چوکیو په خوند یې پوهه نه کړل .

د خيبر زمرى

له مخلصو مجاهدينو لار ورکه وه، دوى د امارت په صف کې قرباني ورکولې خو پرې مطمين نه و، پوهيدل چې د دوى د قربانيو او وينو ثمره بيرته همدا کفار اخلي، دوى آن له همغه پيله پوهيدل چې د امارت د مشرانو جنګ د چوکۍ لپاره دى، د امارت مشرانو کې د آى ايس آى په وساطت د ټولې نړۍ د کفري استخباراتو مهار پروت دى او د دوى په وينو او اوښکو به داسې تجارت کوي لکه ځنګه يې چې وکړ، دا موحدين مجاهدين که په امارت کې و او که د پاکستاني طالبانو په مختلفو تنظيمونو کې و، ټول په دې قانع و، چې د دوى نيتونه پاک دي، دوى د کلمې د لوړاوي لپاره جنګيږي خو په ټوله کې بيا د همدغه تنظيمونو بيعت هم د امارت سره و، دوى حيران و، چې له يوه طرفه يې د آى ايس آى سره جګړه ده او بل طرف د آى ايس آى د مهار شوي امارت په بيعت کې دي، نو داسې سپيڅلي مجاهدين د يو ستر تحول او بدلون په تمه و، د دوى ټولو داسې نظريه وه چې د دوى قيادت د داسې چا په لاس کې شي چې هغه د آى ايس آى په شمول د سيمې د استخباراتو نانځکې نه وي، داسې يوه پاک صف وي چې په درسته نړۍ کې د درستې نړۍ د کفارو، مشرکينو، مرتدينو اوطواغيتو سره وجنګيږي، چې جګړې يې د وطنيت ، قوميت او ډول ډول عصبيت له ګمراه فکر ځخه سرچينه نه وي اخستې، داسې صف وي چې روافضو ته ورونه نه وايي د مرتدينو او طواغيتو ځخه اوامر وانخلي، جنګيالي يې له اخلاقي فساده رانيولې د غلا، نشه يي توکو د استعمال او قاچاق روږدي نه وي.

هو!

د همدې مخلصو مجاهدينو دعاوې الله قبولې کړې په عراق او شام کې دمختلفو تنظيمونو مخلص مجاهدين لومړى د عراق او شام په اسلامي دولت کې سره راټول شول او بيا يې د نړيوال اسلامي خلافت اعلان وکړ، په خراسان کې هم مخلص مجاهدين د همدې ورځې په لټه کې و، شپه او ورځ يې همدا لارې څارلې چې کله به ددغه سپيڅلي خلافت د راختلي لمر وړانګې د خراسان په درو او سر درو ولګيږي، د ځېنو خو تر دې هم صبر نه کيده او د خپلو هغه هم سنګره عرب مجاهدينو ځنګ ته روان شول چې دلته يې په خراسان کې دوى سره په يو سنګر کې وختونه تير کړي و او اوس په عراق او شام کې د اسلامي خلافت عسکر و.

د خليفة المسلمين سره د نړۍ له ګوډ ګوډ ځخه مختلفو قومونو او تنظيمونو بيعتونه وکړل، له خراسان ځخه هم له مختلفو تنظيمونو همدا مخلص مجاهدين راټول شول او خليفه المسلمين ته يې خپل بيعتونه وليږل، دوى نه غوښتل چې نور له ډير وخت پخوا د وژل شوي ملا عمر په ورک قيادت کې پاتې شي، او د ملا عمر په نوم يې آى ايس آى رهبري کړي، همغه و چې د نړيوال اسلامي خلافت خليفه يې بيعتونه قبول کړل او خراسان د اسلامي خلافت د يو ولايت په حيث اعلان شو، کله چې خراسان د ولايت په حيث ومنل شو، نو د اورکزو زمرى حافظ سعيد تقبله الله يې د والي په حيث تعين شو، د حافظ سعيد خان کارنامې له هيچا پټې نه وې، حافظ صيب د امارت او د پاکستاني طالبانو د مختلفو تنظيمونو فرد فرد پيژانده، دده اخلاص او ميړانه ورته مالومه وه، په حافظ صيب هم دلته ټول مخلص مجاهدين راټول شول، له مختلفو تنظيمونو ځخه ډلې ډلې مجاهدين د اسلامي خلافت سيوري ته راغلل، په خراسان ولايت کې د اسلامي خلافت سره د اورکزو، افريدو، صواتو، باجوړو، مومندو، شينوارو او نورو پښتنو قبيلو ترځنګ تاجک، ازبک، پشه يي، نورستانيو په شمول ګڼو قبيلو او قومونو خپل بيعتونه وکړل، چې ددغه قومونو له ډلې د افريدو د ميړني قوم ځوانان هم له چا وروسته پاتې نه شول، ددې باعزمه زلمو د کارنامو ځخه کتابونه ډکيږي، د افريدو د قوم هر ځوان يې چې د اسلامي خلافت سره يو ځاى شو، د ميړانې او همت په يو غر بدل شو، ددې قوم له سلو زيات زلمي د اسلامي خلافت د تمکين ځخه په دفاع کې شهيدان شول.

افريدو زلمو د خپلې ميړانې او استقامت داسې بيلګې تر شا پريښودې چې اوس هم د ډيرو په زړونو کې ژوندۍ دي.

که موږ د افریدو زلمو ذکر کوو نو خامخا مو ذهنونو ته د امان گل امر صیب، محمدي لالا، چمتو امر صیب، ابو نثار مولوي صیب، هیبتي، عمري، حزب الله تقبلهمالله په شمول د نورو گڼو زمرو هغه له ویاړه او عظمته ډکې څېرې مخ ته ودریږي، چې دښمن به یې د نامه په اوریدو له ویرې لړزې نیوه .

عجیبه ده !

څه د ثبات غرونه و، د هر افریدي مجاهد په ژوند او کارنامو پوره کتابونه ډکیږي خو زه به نن تاسې ته د افریدو د خیبر درې یو داسې سرشیندونکي مخلص میړنی دروپیژنم چې لکه د خاموشه دریاب یې په وجود کې انقلابونه او خوځښتونه درلودل . دا غلی او خاموشه، د خوږو او پستو اخلاقو او نرمو خبرو درلودنکی مهربانه، بادیانته او مخلص مجاهد ایوبي تقبله الله و.

ایوبي چې خپل نوم یې مېړولي و، پلار یې ظاهر شاه نومیده او د خیبر درې د شینداو اوسیدونکی و .

نوموړې یو غریبکاره او مخلص ځوان و، یو عادي ډرایور و، وروسته بیا په خپله سېمه کې د یو اصلاحي تنظیم غړی شو، دغه تنظیم د دوی په سېمه کې د بت پرستۍ، شرک او قبر پرستۍ له تیارو د خپلو خلکو د راویستو زیات کوشش وکړ، او تر ډیره یې دعوت کامیاب شو، زیاتو خلکو د شرک له تیارو د توحید رڼا ته پنا راوړه په دې برخه کې وسلوالې نښتې هم وشوې چې ایوبي به ډیرې وخت ددغه وسلوالو نښتو مشري کوله، د دوی تنظیم هم لکه د پاکستانیو طالبانو د نورو تنظیمونو په څیر د پاکستان د فوځ سره نښتې کولې خو مشران یې بیا د امارت په بیعت کې و، همدې حالاتو میرولي ایوبي ته خوند نه ورکاوه، دغه وخت په خراسان ولایت کې د اسلامي خلافت له لوري والي هم تعین شوی و ، ایوبي نور صبر ونه کړ او د خراسان د تمکین پاکې خاورې ته یې هجرت وکړ، لومړي سر کې ورسره خپل اتلس کسه ملگري موجود و، چې وروسته بیاّ د افریدو ځوانانو د راتگ بهیر گړندی شو چې سلگونو ته ورسیدل، ایوبي د خپل تنظیم ډیری اسلحه هم د اسلامي خلافت مجاهدینو ته ورحواله کړه، کله چې په خراسان ولایت کې د مختلفو تنظیمونو مجاهدین د اسلامي خلافت په تغر راټول شول نو آی آیس آی سره سخته اندیښنه پیدا شوه چې اوس نو د دوی خیر نه شته او له دې وروسته به د اسلامي خلافت له مجاهدینو په ارام خوبونه ونه کړي ځکه دوی ته د اسلامي خلافت منهج مالوم دی چې دا فرضي کرښې له منځه وړي او اسلامي خاوره یو ځل بیا تېرې جغرافیې ته ستنوي، د پاکستان طاغوتي نظام به چپه کوي او دوی سره به د هر ظلم د ذرې ذرې حساب کوي ځکه یې نو خپلو ملېشو طالب مرتدینو ته امر ورکړ چې د اسلامي خلافت د مجاهدینو مخنیوی وکړي ځکه نو طالب مشرکېنو په ډیر اخلاص د خپلو بادارانو امر ته لبیکووایه او په هر ځای کې یې هغه مهاجرین په نښه کړل چې له دې وړاندې د پاکستان مرتد فوځ سره جنگیدلي و همدا مهاجرین چې اوس د ننگرهار د سپین غر لمنو ته رامهاجر شوي وو او د اسلامي خلافت سره یې بیعتونه کړي و نو د طالب مشرکینو له لوري یې نیول، ربړول او وژل پیل شول،

هر چرته به طالب مشرکینو د اسلامي خلافت له مجاهدینو اسلحې هم اخیستې او ځای ځای به په شهادت رسول، یو ځل له یوې سیمې بلې ته د اسلامي خلافت مجاهدینو پراخه اسلحه انتقالوله چې طالب مشرکینو دغه اسلحه سره له مجاهدینو ونیوله، د اسلامي خلافت مشرانو د امارت د هغه وخت ځایي مشرانو ته ډیرې جرګې او وفدونه ولیږل چې دغه بندي ملګري او اسلحې ازادې کړي او اسلامي خلافت مجاهدینو سره شریعت ته کیني، خو د طالب ځایي مشرانو خبره به دا وه چې موږ ته له کوزه امر دی، د اسلامي خلافت مجاهدینو دوی سره په دې نیت له جنګه ډیر ځان ساته چې که چرته پوهه شي او الله ورته هدایت وکړي خو د امارت په نامه د آی ایس آی دا ګمراه عسکر پرته له وژلو نه سمیدل، ځکه نو د اسلامي خلافت مشرانو هم خپلو مجاهدینو ته د امارتي مشرکینو سره د جنګ امر ورکړ بیا خو د ایمان د غرونو په وړاندې ددغه مشرکو ګیدړانو زور نه چلیده په همغه لومړیو کې زیاتې ساحې د دوی له شتونه پاکې شوې او د امارت د زرګونو مشرکینو سره سخت جنګونه راغلل چې په دغه ټولو جنګونو کې میرولي ایوبي ځانګړې رول درلود، ایوبي په دې جګړو کې طالب مشرکینو ته د مرګ په نوم بدل شوی و، یو ځل د مامند بر سر د خروږي په سرونو کې د امارتي مشرکینو یو قوي مرکز و چې زیکویک یې هم په کې لګولی و، ایوبي سره له ملګرو په دغه مرکز برید پلان درلود، کله چې طالب مشرکین خبر شول چې د جنګ مشري د ایوبي په غاړه ده نو پرته له جګړې یې پښې سپکې کړې وې، ایوبي د مفتاح الخیر د غزا په لړ کې هم ډیرې ستړې لاس ته راوړنې درلودې، ملګري یې کیسه کوي چې په کوم طرف به د ایوبي د پیکا میل تاو شو نو له مرتدینو به بیا وار پار خطا و، د پیکا په چلولو کې الله عزوجل ځانګړی مهارت ورکړی و، په دې غزا کې یې هم د افغان مرتد حکومت څخه زیاتې ساحې پاکې کړې وې او بیا یې د همغه ساحو بیرته ترلاسه کولو لپاره چې حکومت کوم هوایي او زمیني زور وواهه، ایوبي یې په کلکه دفاع وکړه، چې د خراسان په هر سر کې به جنګ و ایوبي به ورته ځان رسولی و، چې د همدې جنګي ورتیاوو په بنا مشرانو د علي کتیبې معاون کړ، علي کتیبه هغه کتیبه وه چې په خراسان کې یې یو خاص نوم درلود، ددې کتیبې د مجاهدو زلمو د ایثار او میړانې خورا زیاتې بیلګې دي، په دې کتیبه کې نهایت زړور او بهادر مجاهدین راټول و، ددې کتیبې د مجاهدینو د بې وسۍ او غربت هم ځانته کیسې دي، ایوبي هم ددې کتیبې چارې سمبالولې او هم یې خپلې کورنۍ ته نفقه پیدا کوله .

د هجرت په ژوند کې د سختو اقتصادي مشکلاتو سره لاس او ګریوان و، زامنو به یې له غرونو لرګي راوړل او خرڅول، هم به یې تنکو زلمو زامنو په کتیبو او خطونو کې خپل تشکیل تیروه او هم به یې پلار سره د کور د خرچې په پیدا کولو کې همکاري کوله.

ددې میړني غازي بچو هم د خپل پلار په پل پل ایښی و، په میړانه اخلاص او شجاعت کې له خپل پلاره کم نه و، یو زوی یې انصار نومیده، د سنګر ملګري یې کیسه کوي چې د غربت یې دا حال و چې ډیر کله به په تشکیل تللو نو بوټان به یې دومره شکیدلي و چې د مزله به نه و، خو انصار د جهاد سره دومره مینه وه چې کتیبه کې به یې له خپل تشکیل تیرولو غیر هم همداسې وخت تیراوه یو ځل له لومړۍ لیکې په رخصتۍ راغلی و لا یې وخت نه و تیر کړی چې خبر شوی و امریکایان راغلي او جنګ دی نو بیا یې په منډه ځان د خپلو ملګرو څنګ ته رسولی و په هغه جګړه کې یې په ډیرو امریکآیي درندو ګانو میندې بورې کړې وې، او خپله هم د امریکایي ځناورو له سخت بمبار څخه الله روغ ویستلی و .



انصار چې د ایوبي د زړه ټوټه وه، په دې کم عمر کې یې په ډیرو سختو خونړیو جنګونو کې برخه واخسته، بغیر له جګړې به پرې وخت نه تیریده، اخر هم امریکایي ځناور په دې وتوانیدل چې دا کم عمره مجاهد ټارګیټ کړي همغه و چې له ډرون څخه یې وویشت څو شیبې وروسته یې پلار سوځیدلي او ټوټه ټوټه جسد ته ولاړ و، جسد یې د راوړلو نه و، همدې غیرتي او باعزمه پلار د ډرون په لمبو د سوځیدلي بچي د جسد غوښې

راټولې کړې او همغلته يې خاورو ته يې وسپارلې.

د ايوبي بل زوی نصير نوميده، نصير د انصار څخه کشر و، دی هم په علي کتيبه کې و، د نصير د ميړانې او اخلاص هم ګڼ داستانونه شته، ابو نثار تقبله الله يې کيسه کوله چې يو ځل د همده د قوماندې لاندې نصير د بغدادي په سنګر کې څو ورځې په نهره او په زخمي حالات کې د طالب مشرکينو سختو خونړيو حملو ته ګونډه ماته کړې وه، نه يې له لوږې شکايت کاوه او نه يې له زخمونو.

نصير به هم په هر سنګر او هر ډګر حاضر و، د زاوې په تعرضونو کې يې هم پوره ميړانه وښوده، د نصير ستر ارمان استشهادي عمليات و، اخر يې هم د استشهاد په کتيبه کې نوم ليکنه وکړه او بيا يې په کابل کې د پوليسو په يو مرکز په خپل استشهادي بريد کې د جمهوريت د ساتنې ګڼ مدافعين پوليس ووژل.

پلار يې د نصير له شهادته خبر نه و، اختر ته ورته په تمه و چې ممکن په رخصتۍ کور ته راشي، خو د نصير د شهادت يوه مياشت شوې وه، پلار ته يې د اختر په دريمه ورځ څو تنه ملګري ورغلي و، چې هم د اختر او هم د زوی د شهادت مبارکي ورکړي، ملګري وايي کله مو چې ورته رايادە کړه چې زوی دې استشهادي عمليات وکړل او ګڼ پوليس يې وژلي، ايوبي پرته له دې چې په څېره کې يې د خفګان کوم اثارات ښکاره شي الله عزوجل ته يې د شکر سجده ولګوله ويې ويل: الحمد لله چې ماته الله دا اعزاز راکړ چې زما بچي يې د خپل دين د قيام په لاره کې واخيستل، بيا يې پسې په مسکا زياته کړه، موږ خو په تمه و چې اختر ته به راشي دا کله او چرته شهيد شو، بيا ورته ملګرو مالومات ورکړي و چې له روژې څخه دوه درې ورځې مخکې يې په کابل کې په مرتدو پوليسو استشهادي بريد ترسره کړ.

هو!

ايوبي له ماشومتوبه خپل بچي د جهاد په مينه سمبال روزلي و، همغه خبره ده چې د باز له ځالې باز پورته کيږي.

دا د خيبر زمری د خپلو زلمو بچو غم په ملا رامات نه کړ، بلکې لا يې زيات کړ، د ايوبي ثبات داسې و چې په دښمن به يې حمله کوله لکه وږی زمری او که به يې دفاع کوله نو لکه يو فولادي کمر... که دښمن به هر څومره دې فولادي کمر سره سر وواهه نو کمر نه بلکې خپل سر به يې مات کړ.

ايوبي نهايت متواضع او تقواداره مجاهد و.

کله چې په وروستيو کې اماراتي مشرکينو، پاکستاني فوځيانو، شيعه روافضو، افغان کمانډويانو، ضربتيانو، اربکيانو، پاځونوالو او نور د احزابو ډول ډول لښکرو په داسې حال کې هجوم راوړ چې څو ډوله امريکايي جنګي طيارو او کروزونو يې په سختو ړندو بمبارونو ملتيا کوله، لومړی به د اسلامي خلافت سنګرونه ښه سخت بمبار شول او ورسته به پرې طالب مشرکينو ته د ورختلو امر وشو، له مرکيخيلو تر هسکې مينې د اسلامي دولت هر سنګر کروزونو او د جيټ درنو بمونو په ځلونو بمبار کړ، د اسلامي خلافت مجاهدين له سنګرونو راکوز نه شول بلکې په هر سنګر کې يې خپل سوځيدلي جسدونه پريښودل چې اماراتي مشرکين به د امريکايي کروزونو او ډرونونو په لمبو د مجاهدينو په سوځيدلو جسدونو ودريدل نو بيا به يې د سوځيدلو نښترونو په څوکو کې خپل بيرغ هسک کړ او په مخابرو کې به يې دا چغې راغبرګې کړې، چې تاسې هم کافر ياست او امريکايان هم کافر دي له يو کافر څخه د بل کافر په خلاف د مرستې اخستل روا دي او دا بمبارونه دربانډې همدا موږ کوو موږ منکر نه يو، خو له جنګه لرې وياندويانو به يې بيا برعکس خبرې کولې.

افسوس!

دې خلکو څومره په سپين سترګې د اسلام سره خيانت روان کړې لله الحمد چې دادې اوس يې پټې خيرې ورځ تربلې بربنډيږي. *

د اسلامي خلافت د مجاهدينو خطونه د هسکې مينې د لوړو څوکو تر ځنګلونو رارسيدلي و، ايوبي هم د خپلو اوه تنه ملګرو سره له څو ورځو راپديخوا په نهره د يوې ستراتيژيکي څوکې ساتنه کوله، په دغه څوکه دوه سوه تنه اماراتي مشرکينو پرلپسې څو حملې وکړې خو بيرته به د الله عزوجل په فضل په شا ورمات شول، د ايوبي د څنګ يو ملګری کيسه کوي، چې زه زخمي شوم او نور ملګري هم بيخي د لوږې له امله له حرکته وتلي و، خو ايوبي به ټولو ته ډاډ او حوصله ورکوله ماته يې ويل دا زخم دې معمولي دی ورته مه وارخطا کيږه بس همدا سنګر به مو مقبره جوړيږي، ترې نه کوزيږو، اماراتي مشرکينو به شېبه په شېبه خپل تازه نفسه په نويو اسلحو سنمبال جنګيالي رامخ ته کول خو بيرته به شرميدلي ماتيدل، ددوی د بريدونو شمار نه کيده، اخري ځل يې له څو لوريو ډيره قوي حمله وکړه، ايوبي امر صبب ترينه يوه لويشت نه په شا کيده، اخر هم د اماراتي مشرکينو څخه له لرې په ليزر سره په تندي په نښه شو، او همداسې په سجده پريوت، سخت جنګ وشو، خو دا ځل هم امارتيان الله ذليله ساتنه کړل، ملګرې يې وايي موږ زيات ستړي و، ايوبي تقبله الله د شهادت په حال کې هم په سجده پروت و، ډير وخت وروسته ورغلو چې راپه ډډه مو کړ، نو همغسې ترې تازه وينه روانه وه، او څنګه يې چې په ژوند د يو الله عزوجل بندګي کړې وه او يو الله عزوجل ته يې سر ټيټ کړې و او د يو الله عزوجل په وحدانيت يې ګواهي ويله نو پس له شهادته يې هم د شهادت په پورته کړې ګوته يې د الله د يووالي شاهدي ويله.

دا د خيبر زمری او د جنګونو سهسوار او ميړنی اخر هم خپل هدف ته ورسيد او د دارالاسلام څخه په دفاع کې يې تر اخري سلګۍ مقابله وکړه.

او په همغه سنګر کې ملګرو خاورو ته وسپاره.

ايوبي شهيد و خو کورنۍ يې خبره نه وه، کور کې يې د خورک هيڅ هم نه و، يو ملګري يې په ډيره سخته درې څلور کيلو اوړه پيدا کړي و او په يوه پلاستيکي خلطه کې يې را اچولي و، غوښتل يې چې د ايوبي وړو بچو ته يې يوسي، ملګری وايي چې کله يې د کور ترڅنګ ورسيدم، نو د نهرو بچو ژړا مې يې واوريده ټول له خپل شهيد پلاره ناخبره د خپلې وږې خيټې له غمه په ژړا و، له مور څخه يې ډوډۍ غوښتله، مور يې ورته ويل بچو: له الله نه يې وغواړئ الله به ډوډۍ درکړي، دغه وخت مې اوړه ورکړل، رښتيا هم د ايوبي بچو ته الله ډوډۍ ورکړه.



د سیرت درسونو ته پوځي کتنه !

۵

د یثرب له خلکو سره اړیکې پاتې برخه

د انصارو له مشرانو به د دغه تاریخي غونډې په باره کې چې د اسلام او بتپرستۍ تر منځ د جګړې په تاریخ د یو خطرناک بدلون پیل و، واورو:

کعب بن مالک رضي الله عنه فرمایي: مونږ حج ته ووتو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مو د عقبې په خواکې او د تشریق په منځنیو ورځو کې د کتنې وعده وکړه، له مونږ سره عبدالله بن عمرو بن حرام هم و، چې زمونږ په مشرانو کې یو مشر او زمونږ له شریفانو یو شریف سړی و، هغه مو هم له ځانه سره واخیست، خو په قوم کې چې راسره کوم مشرکان وو له هغوی مو خپله خبره پټه ساتله، مونږ ده ته وویل:

-ای د جابر پلاره! ته زمونږ له مشرانو یو مشر او زمونږ له شریفو خلکو یو شریف سړی یې، خو مونږ دا نه غواړو چې ته دې سبا د جهنم خاشاک وګرځې، بیا مو د اسلام دعوت ورکړ او په عقبه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د کتنې له وعدې مو خبر کړ، هغه اسلام راوړ او له مونږ سره عقبې ته حاضر شو.

مونږ په دې شپه د خپل قوم سره په خپل پړاو کې د شپې تر دریمې حصې ویده وو، له هغې وروسته له پړاوه راووتو او کرار کرار یو یو تن د ټاکلي ځای په لور ولاړو، تر دې چې په عقبه کې راجمع شو، مونږ دري اویا (۷۳) سړي وو او دوه را سره زنانه وې (نسیبة بنت کعب "أم عمارة" او أسماء بنت عمرو)، مونږ کېناستو او د نبي صلی الله علیه وسلم انتظار مو کاوه، لږه شیبه وروسته هغه راغی او له هغه سره یې تره عباس بن عبدالمطلب هم و، خو عباس د خپل قوم په دین و، خبرې اترې شروع شوې، په غونډه کې لومړی خبرې عباس وکړې، د ابن اسحاق د روایت سره سم هغه په داګیز ډول انصارو ته وویل:

ای د خزرج ټولیه! محمد له مونږ څخه دی او تاسې ته پته ده چې مونږ یې د قوم پر وړاندې دفاع کړې ده، تاسې اوسمهال په قوم کې د ده قدر وینئ، او دلته په وطن کې زمونږ له ملاتړ او دفاع څخه برخمن دی، خو دا غواړي چې ستاسې خواته درشي او تاسې سره یوځای شي، که چیرې تاسې له ده سره په کړې وعده وفا کوئ او له مخالفینو یې ساتئ نو سهي ده، نو تاسې پوه شه او مسؤلیت مو، او که ستاسې خواته له درتګ وروسته تاسې دا دښمن ته سپارئ او بې ننګي ورسره کوئ، نو بیا یې سر له اوسه پریږدئ، ځکه دلته د عزت خاوند دی او کلکه دفاع یې کېږي.

عباس چې له خبرو فارغ شو، ټولو ورته وویل: مونږ ستا خبرې واوریدې، بیا یې رسول الله ته مخ واړوه او په پوره عزم، کلک هوډ او ایمان یې وویل: ای د الله رسوله خبرې وکړه، او د ځان او رب لپاره په خپله خوښه تړون او عهد واخله.

د انصارو له دې خبرې دا هم په داګه کېږي چې دوی ددې عظیم مسؤلیت په اداء کولو کې څومره مخلص و، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرې وکړې او تړون وشو.

د پوځي پلوه د دغه تړون کوم چې د نبي صلی الله علیه وسلم او د یثرب د خلکو تر منځ وشو، مهم بند دا و چې دوی به د نبي صلی الله علیه وسلم داسې ساتنه کوي، لکه څنګه چې د خپلو ځانونو، خپلو زنانه وو او اولادونو ساتنه کوي.

نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

(زه تاسې سره په دې بیعت کوم چې زما به داسې دفاع کوئ، لکه څنګه دفاع چې د خپلو ښځو او بچیانو کوئ).

په دې وخت کې براء بن معرور د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس ونیو او ویې ویل:

قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه لېږلی یې، مونږ به ستا داسې دفاع کوو لکه څنګه چې د خپلو اولادونو کوو، ای د الله رسوله له مونږ سره بیعت وکړه، قسم په الله مونږ د جنګ بچیان یو، وسله زمونږ سینګار دی او دا مونږ ته له پلرونو په میراث راپاتې ده.

په دې وخت کې أبو الهیثم بن التیهان د براء بن معرور خبرې ور غوڅې کړې او ویې ویل: ای د الله رسوله! زمونږ او د بعضو خلکو (یهود) ترمنځ رسۍ دي (تړونونه دي) او ښې اړیکې دي، مونږ هغه غوڅوو، هسې نه چې مونږ دا اړیکې هم غوڅې کړو، بیا ته له فتحې او بری وروسته مونږ پریږدې او بیرته خپل قوم ته راشې؟

نبي صلی الله علیه وسلم مسکا وکړه او بیا یې وفرمایل: (بل

الدم الدم والهدم الهدم أنا منكم وأنتم مني أحارب من حاربتم وأسالم من سالمتم)
ژباړه: نه داسې نه ده، بلکې ستاسې وينې زما وينه ده، ستاسې ويجاړې زما ويجاړې دي، تاسې له ما څخه او زه له تاسې څخه يم، له هغه چا سره به جګړه کوم چې تاسې ورسره جګړه کوئ او له هغه چا سره چې تاسې سوله کوئ زه به هم ورسره سوله کوم.

کله چې انصار د بيعت په شروطو راضي شول، عباس بن عبادة بن نضله وغوښتل چې د قوم د تياري په اړه ځان پوهه کړي ويې ويل:
ای د خزرج ټوليه! آيا تاسې پوهيږئ چې تاسې له دغه سړي سره په څه بيعت کوئ؟
هغوی وويل: هو!
هغه ورته وويل: تاسې له ده سره بيعت کوئ چې له تورو او سرو خلکو سره وجنګيږئ، که چيرې تاسې ته د مالونو هلاکت مصيبت ښکاري او د شريفو خلکو په وژل کيدو بيا دا دښمن ته سپارئ، نو سر له اوسه يې پريږدئ، قسم په الله که مو دا کار وکړ د دنيا او آخرت شرمنده ګي دئ، او که چيرته تاسې له ده په هغو وعدو چې له ده سره مو کړي وفا کوئ، د مالونو د هلاکت او د اشرافو د وژل کيدو کيسه کې نه ياستئ، نو بيا دا ونيسئ، قسم په الله دا د دنيا او آخرت خير دی.
هغوی وويل: مونږ دا نيسو، اګر که مو مالونه هلاک او اشراف خلک ووژل شي.
بيا يې رسول الله ته مخ واړوه او ويې ويل:
ای د الله رسوله که مونږ له تاسره په دې وفاء وکړه مونږ ته به بدله څه وي؟
نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بدله مو جنت دی.
هغوی وويل: لاس دې را اوږد کړه
نبي صلی الله عليه وسلم لاس اوږد کړ او هغوی ورسره بيعت وکړ.

د بيعت له ختميدو وروسته نبي صلی الله عليه وسلم له مبايعينو وغوښتل چې ١٢ تنه مشران غوره کړي، تر څو پر دوی رهبري وکړي او د دغه ترون د بندونو د تنفيذ مسؤليت يې پر غاړه وي، هغه ورته وفرمايل: دولس مشران مو راوباسئ چې تر څو د قوم رهبري وکړي.
کله چې دوی نبي صلی الله عليه وسلم ته دا دولس کسان پيش کړل، بيا ترې نبي صلی الله عليه وسلم کلک عهد واخيست او ورته يې وويل: تاسې د قوم داسې کفيلان ياست لکه حواريينو چې عيسی بن مريم کفالت کاوه او زه پر خپل قوم (مسلمانانو) باندې کفيل يم.
هغوی وويل: هو!

د دومره پټو امنيتي تدابيرو سره دا پوځي ترون تر سره شو، مګر يو شيطان د مکې د مشرکانو لپاره د استخباراتو په څېر کار کاوه، هغه توانيدلی و چې دا وڅاري، مګر د غونډې معلومات ورته په وروستيو کې وشول، چې په هغه وخت کې ممکن نه تر څو د قريشو مشران راخبر کړي او د غونډې ګډونوال په دره کې ګير کړي، دا جاسوس د منا (منی) په يوه لويه غونډۍ ودريد، کوم ځای چې حاجيان خيمې وهي او په لوړ غږ يې چيغه کړه: ای د کورونو والا! محمد او د هغه بې دينه ملګري ستاسو خلاف د جنګ لپاره راټول شوي دي.

انصارو چې کله د دغه جاسوس غږ واوريد، چې په کې قريشو ته چيغې وهل کيږي، نو د انصارو يو مشر عباس بن عباده بن نضله نبي صلی الله عليه وسلم ته وويل: قسم په هغه ذات چې ته يې په حقه رالېږلی يې، که ستا خوښه وي سبا به د منی په خلکو په تورو سره حمله وکړو؟
نبي صلی الله عليه وسلم د دغه بريد سره موافقت ونه شود او عباس بن عباده ته يې وويل: مونږ ته په جنګ امر نه دی شوی، خو تاسې خپلو ځايونو ته وګرځئ.
انصار خپلو پړاوونو ته ستانه شول، خو د اسلامي دعوت د ساتنې لومړی پوخ تهداب يې کېښود.

د ورپسې ورځې په سبا، د مکې د مشرکينو او مشرانو يو لوی پلاوی د يثرب مشرانو ته ورغی، تر څو هغوی ته د نبي صلی الله عليه وسلم او د يثرب د خلکو تر منځ په شوي پوځي ترون خپل شکايت وړاندې کړي، هغوی وويل: ای د خزرجيانو ټوليه! (هغه وخت به يې د مدينې ټولو اوسېدونکو ته خزرجيان ويل) مونږ ته خبر رارسېدلی چې تاسې زمونږ دې ملګري خواته راغلي ياست، زمونږ له منځ څخه يې وباسئ او زمونږ سره په جګړه کولو د هغه سره بيعت کوئ، قسم په الله په ټولو عربو قومونو کې مونږ له تاسې سره جګړه بده ګڼو.

مګر د يثرب مشرکان لا تر دې دمه له هيڅ خبر نه و چې د شپې په تياره کې څه شوي و، قريشو ته يې قسمونه خوړل چې داسې کوم کار نه دی شوی، تر دې چې د خزرجيانو مشر عبدالله بن ابی بن سلول قريشو ته په ډير تاکيد وويل: قسم په الله دا ډير درونډ کار دی، او زه دا نه منم چې زما قوم دې په دې اتفاق وکړي.
په دې جرګه کې هغه کسان هم ناست و، چې په د ترون پرمهال موجود و، يو بل ته يې کتل، چوپتيا يې غوره کړې وه او هيڅ خبرې يې نه کولې.

قريشو چې د خزرج د رهبرانو ځواب واوريد بيرته ستانه شول خو د بيعت په اړه يې زړونه له شک ډک و، د خبر پلټنه يې شروع کړه، پته ورته ولګيده چې هو! داسې کار شوی، نو يو دم پرې ليونتوب راغی، ژر ژر يې کوښښ وکړ چې هغه کسان ګير کړي، کومو چې په دې بيعت کې ګډون کړی و، خو دا عمليات ډير وروسته و، ځکه حاجيان خپلو سيمو ته بيرته ستانه شوي و، مګر سره له دې دوی وتوانيدل چې د يثرب د خلکو څخه د مسلمانانو يو مشر ونيسي، دا د خزرج مشر سعد بن عباده و، هغه يې وتړه، بيرته يې مکې ته راووست او د هغه په وهلو يې پيل وکړ.

سعد ورته وويل: قسم په الله زه د دوی په لاسونو کې وم چې د قريشو يو نفر راغی، سپين، پرقيدونکی، ځليدونکی او خوږ سړی و.

سعد فرمايي: ځان سره مې وويل که د قوم په خلکو کې د خير وړتيا وي نو له دغه سړي د خير تمه کيدای شي، کله چې ماته رانږدې شو، يو مضبوطه لغته يې راکړه.
ما ځان سره: له ده وروسته په دوی کې خير نشته، قسم په الله زه له دوی سره وم، پرمخې يې راښکلم، چې يو سړی له دوی څخه راته راغی او ويې ويل: هلاک شې! ستا او د کوم قريشي تر منځ انډيوالي يا کوم عهد نشته؟
ما ورته وويل: ولې نه قسم په الله، ما به جبير بن مطعم بن عدي بن عبدمناف ته پناه ورکوله، د هغه د سوداګرۍ ساتنه به مې کوله او که چا به پرې زمونږ سيمه کې ظلم کاوه ما به يې دفاع کوله او حارث بن حرب بن اميه بن عبدشمس بن عبدمناف ته به مې هم پناه ورکوله.
هغه وويل: ای هلاک شې! دواړو ته غږ وکړه او د پناه په اړه ورته ووايه.
سعد وايي: دا کار مې وکړ.
يو سړی د هغوی په لور ورغی دواړه يې د کعبې تر څنګ په يوه مسجد کې وموندل، هغوی دواړو ته يې وويل: د خزرج يو سړی په ابطح مقام کې وهل کيږي، خو هغه تاسې دواړه يادوي چې دوی ته به يې پناه ورکوله.
هغوی دواړو وويل: دا به څوک وي؟
هغه کس ورته وويل: سعد بن عباده نوميږي.
دواړو وويل: قسم په الله رښتيا يې ويلي، ده به زمونږ د سوداګرۍ ساتنه کوله او په سيمه کې به يې د ظلم پر وړاندې زمونږ دفاع کوله.
هغه فرمايي: دواړه راغلل، سعد يې خوشې کړ او د مدينې په لور ولاړ.
هغه کس چې سعد يې په لغته وهلی و، د بني عامر بن لؤی د قبيلې سهيل بن عمرو و.
ابن هشام فرمايي: هغه کس چې سعد ته يې د پناه په اړه مشوره ورکړه ابوالبختري بن هشام و.

(دوام لري... ان شاءالله)

مؤسسة العزائم الإعلامية

Al Azaim foundation for media poduction presents

"ځوک په ماڼيو، په پارکونو، بلډينګونو مئين
ځوک په پيچومو، ګړنګونو، لوړو غرونو مئين

د چا خوښيږي زنده ګي، مزې، چرچې او راحت
ځوک بيا په ولړو، تندو، منډو، مزلونو مئين

ځوک اروپا ته ځي، پيسې ګټي، دنيا جوړوي
ځوک په پيوند پيوند جامو او غربتونو مئين

چاته کرې ورځ عبثيات، خرمستې خوند ورکوي
ځوک بيا جهاد او د جګړو په ډګرونو مئين

ځوک ښځونک، کړي د بنګړو، سينګار او زلفو کيسې
ځوک ميړني په زولنو او زنځيرنو مئين

يو ځو بز دلو له ډير ډاره د کور کونج نيولی
ځوک د مرميو په شغ شغ په تکبيرونو مئين

ځوک د سندرو او نڅاوو، ټنګ ټکور عاشقان
ځوک په غزا، رباط، مورچل او سنګرونو مئين

ځوک د کورونو د ودونو، اولادونو شوقيان
ځوک په غلمانو، مستو حورو، جنتونو مئين"